بسم الله الرحمن الرحيم

لوړو زده کړو وزارت

مستقبل د لوړو زده کړو مؤسسه

علمي معاونیت

د علمي څېړنو آمریت

د علمي مجلې مدیریت

# مستقبل علمي مجله

د مستقبل د لوړو زده کړو مؤسسې علمي او څېړنیزه شپږ میاشتنۍ خپرونه

د ۱۴۰۳ ل کال، لومړۍ ګڼه

**السنة الأولى- العدد الأول، محرم الحرام ١٤٤٦هـ ق**

(مستقبل) مجلة علمية محكمة، مسجلة لدى وزارة التعليم العالي برقم (RCTD-PNJR-٠٠٣-٢٤) تعنى بنشر البحوث العلمية بعد تحكيمها،تصدر كل ستة أشهر من جامعة «مستقبل» في العاصمة الأفغانية –كابول.

* * *

**سال اول-شماره اول ، اسد١٤٠٣هـ ش**

**(مستقبل) یوه علمي او تحکیم شوې مجله ده، چې د لوړو زده کړو وزارت له اړخه په (RCTD-PNJR-٠٠٣-٢٤) ګڼه ثبت شوې. دا مجله په ټولنیزو علومو کې علمي مقالې له کره کتنې وروسته خپروي او په شپږو میاشتو کې یو ځل د مستقبل د لوړو زده کړو مؤسسې له پلوه خپرېږي.**

**(مستقبل) یک مجله علمي و تحکیم شده است که از طرف وزارت تحصیلات عالی به شماره (RCTD-PNJR-٠٠٣-٢٤) ثبت گردیده است، این مجله بحثهای علمی در علوم اجتماعی پس از تحکیم به نشر می سپارد، و در شش ماه یک بار توسط مؤسسه تحصیلات عالي مستقبل به نشر می رسد.**

# مستقبل علمي مجله

مستقبل د لوړو زده کړو مؤسسې علمي، څېړنیزه شپږ میاشتینۍ خپرونه

## د امتیاز خاوند : مستقبل د لوړو زده کړو مؤسسه

**د تحریر رئیس :**

دکتور شفیق الله امین

**د تحریر مدیر:**

پوهنوال دکتور محبوب الرحمن صافی

**د تحریر هیئت:**

پوهنوال دکتور فضل الرحمن عبدالغفور

پوهنوال دکتور فخرالدین قانت

پوهندوی دکتور محمد سلیم مدنی

پوهنوال دکتور خواجه محمد عصامی

دکتور اظهار الحق عزیز

دکتور بخت الرحمن عثمانی

دکتور نظام الدین کامل

دکتور عبدالباسط افغان

**کتنپلاوي :**

پوهندوی دکتور فضل الرحیم بصیرت

پوهندوی دکتور عبدالرحمن شاه

دکتور حیات الله عتید

پوهندوی ضیاء الحق امیری

نجیب الله نصرت

فضل احمد عزیز

اړیکو شمېرې : +93 770 10 11 11/+93 780 101 111

ایمیل ادرس: mustaqbaluka@gmail.com، info@mustaqbal.edu.af

ادرس: دولسمه ناحیه، دوهم بلاک، احمدشاه بابا مینه، کابل، افغانستان

# لیکلړ

سرلیکونه مخګڼه

سریزه.......................................................................................................١

د تمویل د خطرونو مدیریت په اسلامي بانکوالۍ کې...........................................٣

پوهنوال دکتور خواجه محمد عصامی

په مسلمانه کورنۍ کې قوامیت د اسلامي فقهې له نظره.......................................٢٣

دکتور شفیق الله امین

تفریق قضایي از منظر فقه اسلامي وحقوق افغانستان.........................................٥٩

محمد قسیم شیرزاد

التوبة النصوح فی القران الکریم دراسة موضوعیة................................................٩٩

ګل احمد صافی

له دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته د افغانستان وضعیت ته کتنه...............١٢٥

نورمحمد ثاقب

د عدلي تعقیب پرمهال د مظنون او متهم قانوني حقوق......................................١٤٧

روښان نورین

خاتمه.......................................................................................................١٧٩

# سريزه

الحمد لله رب العالمين الذي علم بالقلم، علّم الإنسان ما لم يعلم، والصلاة والسلام على معلّم البشرية و قائد المجاهدين و إمام المتقين محمد بن عبد الله، وعلى آله و صحبه ومن سار على نهجه إلى يوم الدين..

قال الله تعالى: (قل هل يستوي الذين يعلمون والذين لا يعلمون) : ووايه: آيا پوهان له ناپوهانو سره برابر دي؟!

د مستقبل د لوړو زده کړو مؤسسې اداره په پام کې لري، ترڅو د خپلو هېوادوالو د علمي پراختيا او ويښتابه په موخه، د خپل علمي او څېړنيز مرکز تر څارنې لاندې د هر تعليمي سمستر په اوږدو کې، د پياوړو او غښتلو استاذانو د علمي خبراتو او تجاربو په رڼا کې، يوه خورا غښتلې علمي مجله خپره کړي. نوموړې مجله د لوړو زده کړو وزارت، د څېړنې، تاليف او ژباړې رياست کې په رسمي توګه ثبت شوې ده.

ياده مجله به د ګران هېواد افغانستان په ملي ژبو او پر ځينو نورو بين المللي ژبو هم کره څېړنې ولري، تر څو په هېواد کې دننه او له هېواد څخه د باندې ورڅخه ګټه واخيستل شي.

افغانستان د تېرو څلورو لسيزو په هر پړاو کې د ورانۍ او بدمرغۍ سره مخامخ شوی دی، بنسټيز جوړښت له منځه تللی دی، د ژوند د وسايلو نه محروم شوی دی، په ځانګړې توګه د ښوونې او روزنې ډګر ډېر زيانمن شوی دی، د علمي څېړنو لپاره د پام وړ کار نه دی شوی، د ژوند په دې حساس پړاو کې تعليمي ادارې مکلفيت لري، چې د هېواد د پرمختګ لپاره چټک ګامونه واخلي او د ځوان نسل د روزنې لپاره د هر اړخيز پلان په پايله کې د علمي څېړنو کار، چې ډېر اړين بلل کيږي. هلې ځلې وکړي. د هېواد د چارواکو څخه هم دا هيله لرو، چې د علمي څېړنو په برخه کې د هېواد نامتو علماء په ټولو ډګرونو کې د يو څېړنيز مرکز په چوکاټ کې سره راټول کړي، د ژوند

ټول وسایل ورته د ځان بسنې تر حده برابر کړي او د هیواد د پرمختګ لپاره په زړه پورې څېړنې تر سره کړي. زما د علم پر بنسټ له بده مرغه موږ په ملي کلنۍ بودیجه کې د علمي څېړنو لپاره څه نه لرو، په داسې حال کې چې پرمختللي هیوادونه د دې لپاره ځانګړې بودیجه او متخصص او مسلکې پرسونل لري، چې هر کال په زرګونو څېړنې سرته رسوي او د هیواد په پرمختګ کې ور څخه ګټه اخیستل کیږي. الله تعالی دې وکړي چې افغانستان هم د پرمختګ پر لار روان شي او د سیالانو په لومړي قطار کې ځانته ځای پیدا کړي.

و ما ذلك على الله بعزيز.

د مجلې د تحریر رئیس

پوهنوال دوکتور خواجه محمد عصامي

د شرعياتو پوهنځي د فقه او قانون ډيپارټمنټ استاد

# د تمويل د خطرونو مديريت د افغانستان په اسلامي بانکوالۍ کې

# Risk Management of Financing in Afghanistan's Islamic Banking

**Abstract**

The management of financing risks in Islamic banking in Afghanistan is a complex and sensitive issue. This research focuses on analyzing the financing risks associated with Mudarabah, Musharakah, and Murabaha. Mudarabah is a financing method where the bank invests capital in business projects and profits are shared with the investor. Musharakah involves joint investment where profits and losses are shared among partners. Murabaha is a financing method where the bank purchases an asset and sells it to the customer at a marked-up price.

In Afghanistan, these financing tools face specific challenges including security conditions, economic instability, and weaknesses in the financial system. Addressing these challenges requires effective risk management in Islamic banking that is based on operational procedures, legal frameworks, and social stability so thus develop effective plans for assessing and managing financing risks in Islamic banking. Reform financing practices to align with Afghanistan's economic context. Enhance national efforts to improve social stability and security.

**Key Words:** Mudarabah, Musharakah, Murabaha, Financing, Risk Management, Economic Instability.

## لنډیز:

د اسلامي بانکوالۍ د تمویل د خطرونو مدیریت په افغانستان کې یو پېچلې او حساسه موضوع ده. دا څېړنه د مضاربت، مشارکت او مرابحې د تمویلي خطرونو پر تحلیل تمرکز کوي. د مضاربت تمویل د سوداګریزو پروژو لپاره د پانګونې یوه طریقه ده، چې پکې بانک د شراکت په توګه سرمایه ګذاري کوي او ګټه یې له سرمایه ګذار سره ویشل کېږي. مشارکت د ګډو پانګوونکو ترمنځ د مشترکې ګټې لپاره یوه طریقه ده، چې د شریکانو ترمنځ د ګټه او زیانونه په مساوي توګه ویشل کېږي. مرابحه د تمویل یوه طریقه ده چې پکې بانک د مال خریداري کوي او وروسته یې د اضافي قیمت سره مشتري ته پلوري. په افغانستان کې، دغه ډول تمویلي وسایل د ځانګړو ګواښونو سره مخ دي. امنیتي حالات، اقتصادي ناپایداري او د مالی سیستم کمزورتیا د دې وسایلو د فعالیتونو په وړاندې مشکلات را ولاړوي. د دې چیلنجونو د حل لپاره، د اسلامي بانکوالۍ د تمویل د خطرونو مدیریت ته اړتیا ده، چې د کاري پروسیژرونو، قانوني چوکاټ او د ټولنیز ثبات پراساس جوړ شي او د اسلامي بانکوالۍ د تمویل خطرونو د ارزونې او مدیریت لپاره موثر پلانونه جوړول، د افغانستان د اقتصادي وضعیت سره سم د تمویلي وسایلو د کړنلارو اصلاح، د ټولنیز ثبات او امنیت د لوړولو لپاره د هیواد په کچه هڅې لا ګړندۍ کول؛ د تمویل د خطرونو ښه مدیریت رامنځ ته کولای شي.

## کلیدي اصطلاحات

مضاربت، مشارکت، مرابحه، تمویل، د خطرونو مدیریت، اقتصادي بې ثباتي

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه

أما بعد:

اسلامي بانکوالۍ د اوسني اقتصادي نظام په پراخ چوکاټ کې یوه مهمه برخه ده چې په پانګونه او تمویل کې یې مؤثر او اغېزناک رول لرلی. دا نظام د ګټې او تاوان پر بنسټ ولاړه اقتصادي پانګونه او تمویل وړاندې کوي، چې په نړیوال بانکي نظام کې ځانګړی ځای لري. په ۲۰۰۸م کال کې کله چې د نغدو پیسو د نړیوال بانکي سیستم بحران را منځته شو، اسلامي بانکوالۍ خپل رأس المال او ګټه وساتله. دا حالت د دې لامل شو، چې اسلامي بانکوالۍ ته زیاته توجه وشي، ځکه چې دا نظام په ځانګړو اصولو او اساسي قواعدو ولاړ دی.

په اسلامي بانکوالۍ کې پانګونه او تمویل باید په مشروع او حلال تجارت کې ترسره شي او په راکړه ورکړه کې د ملکیت حقیقي یا حکمي قبض اړین شرطونه مراعت شي. دا اصول په دې موخه دي، چې د پانګونې او تمویل خطرونه په ښه توګه مدیریت شي او اقتصادي فعالیتونه د ټولنې په اقتصادي پرمختګ کې مثبت بدلون راولي. له دې لارې، د فقر او بیکارۍ ستونزې کمېږي او د ټولنې وګړي ښه ژوند او اقتصادي آرامي تجربه کوي.

# د مسألې بیان

اسلامي بانکوالۍ د تمویل او اقتصادي استثمار په برخه کې له مختلفو خطرونو سره مخ ده. د دې خطرونو اغېزې د بانکي سیستم پر ثبات او اقتصادي رغونه مستقیمه اغېزه لري، چې له امله یې د اسلامي مالي مؤسسو پایښت او وده هم تر اغېز لاندې راځي. د خطرونو مدیریت یوه حیاتي اړتیا ده، ترڅو تمویل او استثمار په مثبته اقتصادي رغونه بدل شي. د دې موخې لپاره، د خطرونو دقیق پېژندنه او د لاملونو تحلیل خورا اړینه مسئله ده. دا څېړنه په تفصیل سره هغه اصلي عوامل څېړي، چې د تمویل او استثمار په دوران کې اقتصادي او سیستمیک خطرونه منځته راوړي او د هغو مدیریت لپاره اړین علمي او عملي مېکانیزمونه وړاندیز کوي.

په دې تحقیق کې د خطرونو بنسټیز ډولونه، لکه د بازار خطر، د سیالۍ خطر، د شریعت پر اساس د موافقې خطر او د سیستمیک خطرونه په تخصصي توګه تحلیل شوي. څېړنه دې پایلې ته رسېږي، چې د اسلامي بانکوالۍ ادارې باید له معاصرو مالي او فني ابزارو ګټه واخلي، ترڅو له دې خطرونو سره په مؤثره توګه مبارزه وکړي او د مالي سیستم په ثبات کې مثبت رول ولوبوي.

**د څېړنې کړنلاره:**

په دې څېړنه کې توصیفي او تحلیلي کړنلارې کارول شوي دي. لومړی، د خطرونو توصیف او ځرنګوالی په تفصیل سره بیان شوی، بیا د خطرونو تحلیلي شننه ترسره شوې ده. دغه تحلیل په تطبیقي ډول د اسلامي بانکوالۍ هغو تمویلي عقودو او قراردادونو باندې تطبیق شوی دی، چې په مالي تعاملاتو کې ډېر کارول کېږي. موخه دا ده، چې د خطرونو سالم مدیریت رامنځ ته شي او په اقتصادي چارو کې مثبت بدلون او رغون ترلاسه شي، ترڅو د ټولنې اقتصادي وده په مثبته توګه پرمخ لاړه شي.

**د څېړنې علمي شالید:**

اسلامي بانکوالۍ یوه نوې او ځوانه اقتصادي موضوع ده، چې په عربي او انګلیسي ژبو کې پرې پراخ علمي او تحقیقي بحثونه شوي دي. په دې برخه کې، د تمویل د خطرونو مدیریت یو له هغو اړخونو څخه دی، چې تر اوسه په پښتو ژبه کره او موثقه څېړنه نه ده ترسره شوې. په ځانګړي ډول

د افغانستان په بانکي سیستم او په تېره اسلامي بانکوالۍ څانګه کې، د دې موضوع د څېړلو جدي اړتیا لیدل کېږي. دا څېړنه به د خطرونو دقیقې پېژندنې او مؤثر مدیریت لپاره مهم وړاندیزونه وړاندې کړي، ترڅو اسلامي بانکوالي په افغانستان کې وده او پرمختګ وکړي. د موضوع اړوند د نمونې په ډول په تمویل کې د خطرونو مدیریت باندې لاندې څېړنې شوې دي:

۱- التمويل الإسلامي: أسس ومعايير لیکوال: محمود عبد العزيز،خپرندوی: دار الفكر العربي، ۲۰۱۵

په دې کتاب کې د اسلامي بانکدارۍ تمویلي اصول او بنسټیز معیارونه په تفصیل سره توضیح شوي. لیکوال د تمویل په خطرونو هم بحث کوي او د دې لپاره اړینې ستراتیژۍ وړاندې کوي.

۲-إدارة المخاطر في المصارف الإسلامية، لیکوال: عبد الله عبد الرحمن التويجري، خپرندوی: دار الأندلس للنشر، ۲۰۱۸

دا کتاب د اسلامي بانکدارۍ د خطرونو مدیریت په اړه تفصیلي بحث وړاندې کوي او د تمویلي خطرونو مدیریت او د قراردادونو پر خطراتو تمرکز لري.

۳-التمويل الإسلامي: المخاطر والحلول، لیکوال: إبراهيم محمد، خپرندوی: مكتبة الملك فهد الوطنية، ۲۰۱۹

په دې کتاب کې د اسلامي تمویلي خطرونو په اړه علمي تحلیل شوی، د خطرونو ډولونه، لاملونه او د حل لارې چارې وړاندې کوي.

### د څېړنې توپیر:

دا څېړنه له پخوانیو څېړنو څخه په دې ځانګړنه لري، چې په پښتو ژبه کې ترسره کېږي او په ځانګړي ډول د افغانستان د بانکي نظام اړتیاوو او خطرونو ته ځانګړې شوې ده. په افغانستان کې اسلامي بانکوالۍ د تمویل او استثمار له ځانګړو ستونزو سره مخ ده او د دې خطرونو په اړه کره علمي څېړنه نه ده شوې. له همدې امله، دا څېړنه نه یوازې علمي تشه ډکوي، بلکې په سیمه ییز او ملي سطحه د اسلامي بانکدارۍ د ودې او پرمختګ لپاره هم حیاتي رول لري.

## د څېړنې موخې:

### اصلي موخه:

په اسلامي بانکوالۍ کې د خطرونو مدیریت او د هغوی اغېزې په تمویل او اقتصادي رغونه کې تحلیل کول، ترڅو د دې خطرونو په مؤثره توګه اداره او د اقتصادي پرمختګ مثبت رول زیات شي.

### فرعي موخې:

په اسلامي بانکوالۍ کې د خطرونو په نښه کول او پېژندل
۱,۱ د هغو عمده خطرونو تحلیل چې په اسلامي بانکوالۍ کې د تمویل او استثمار پر مهال منځته راځي.
۱,۲ د خطرونو ډولونه او منابع پېژندل (لکه د بازار خطر، د شریعت پر موافقې خطراو سیستمیک خطرونه)
په اسلامي بانکوالۍ کې د خطرونو د مدیریت څرنګوالی
۲,۱ د خطرونو د مدیریت لپاره موجوده مېتودولوژۍ او فني لارې تحلیلول
۲,۲ د اسلامي بانکوالۍ ځانګړتیاوو ته په کتو، د خطرونو د مدیریت اصول او معیارونه پېژندل.
د اسلامي بانکوالۍ عقود چې له خطرونو سره مخ دي.
۳,۱ هغه تمویلي عقود او قراردادونه تشخیصول چې په اسلامي بانکدارۍ کې د خطرونو لوړ چانس لري (لکه مشارکت، مضاربت، مرابحه)
۳,۲ په دې عقودو کې د خطرونو تفصیلي تحلیل او د احتمالي ستونزو پېژندنه
د خطرونو د مدیریت لارې او چارې.
٤,۱ د معاصرو مالي او فني ابزارو د کارولو تحلیل ترڅو د خطرونو په اداره کولو کې مرسته وکړي.
٤,۲ د شریعت سره سم د تمویل خطرونو د مدیریت کړنلارې او مېکانیزمونه تشریح کول
د خطرونو د مدیریت لپاره وړاندیزونه
۵,۱ د افغانستان په اسلامي بانکوالۍ کې د خطرونو د مدیریت لپاره مؤثر او رغنده وړاندیزونه وړاندې کول
۵,۲ د هغو عملي ګامونو توصیه کول، چې د اسلامي بانکونو په وده او د تمویلي سیستم په ثبات کې مرسته وکړي.

## د څېړنې پوښتنې:

### اصلي پوښتنې:

په اسلامي بانکوالۍ کې تمویل څه مفهوم لري؟

د اسلامي بانکدارۍ تمویلي چوکاټ او ځانګړتیاوې څه دي؟

اسلامي تمویل څنګه له سودي تمویل څخه جلا کېږي او په اقتصادي فعالیتونو کې یې رول څه دی؟

په اسلامي بانکوالۍ کې د خطرونو مدیریت څه ته وایي؟

د اسلامي بانکدارۍ د خطرونو مدیریت تعریف او بنسټیز اصول څه دي؟

د اسلامي بانکونو د خطرونو مدیریت څنګه د شریعت اصولو سره سم ترسره کېږي؟

### فرعي پوښتنې:

په اسلامي بانکوالۍ کې د تمویل د خطرونو مدیریت کومې لارې دي؟

د اسلامي بانکدارۍ د تمویل خطرونو د مدیریت لپاره کومې علمي او عملي تګلارې شته؟

کوم فني او مالي ابزار په اسلامي بانکدارۍ کې د خطرونو کمولو لپاره کارول کېږي؟

په افغانستان کې په اسلامي بانکوالۍ کې کوم خطرونه ډېر جدي دي؟

په ځانګړي ډول په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ څانګه له کومو عمده خطرونو سره مخ ده؟

د افغانستان بانکي سیستم کې د تمویل او استثمار پر مهال ځانګړي محلي او نړیوال خطرونه کوم دي؟

د تمویل د خطرونو پېژندل په اقتصادي چارو کې څه ګټې لري؟

د خطرونو پېژندل څنګه په اقتصادي فعالیتونو کې د تمویل د مؤثریت لپاره ګټور دي؟

د خطرونو د تحلیل او مدیریت اغېزې په اقتصادي پرمختګ او د فقر کمولو کې څه دي؟

بحث په لاندې مباحثو او مطالبو تنظیم شوی دی:

لومړی مبحث: په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ تاریخچه او پېژندنه

لومړی مطلب: د اسلامي بانکوالۍ پېژندنه او اصول

دویم مطلب: په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ تاریخچه

دویم مبحث: د تمویل د خطرونو د مدیریت کلي مفاهیم

لومړی مطلب: د خطرونو لغوي، فقهي او اقتصادي مفهوم

دویم مطلب: د خطرونو د مفهوم توپیر د فقهاوو او اقتصاد پوهانو پر وړاندې

دریم مبحث: د اسلامي بانکوالۍ د تمویلي عقودو خطرونه

دریم مبحث: د بانکوالۍ د تمویلي عقودو د خطرونو اغیزې پر اسلامي بانکوالۍ

څلورم مبحث: د خطرونو د مدیریت لارې چارې په اسلامي بانکوالۍ کې

پنځم مبحث: د افغانستان په اسلامي بانکوالۍ کې د مضاربت، مشارکت او مرابحې تمویلي خطرونه او د حل لارې

د څېړنې لاس ته راوړنې (یافته ها)

د څېړنې پایلې

د څېړنې وړاندیزونه

د څېړنې أخذلیکونه

## د تمویل د خطرونو مدیریت د افغانستان په اسلامي بانکوالۍ کې

### لومړی مبحث: د افغانستان اسلامي بانکوالۍ عمومي پېژندنه او تاریخچه

### لومړی مطلب: د اسلامي بانکوالۍ پېژندنه او اصول

اسلامي بانکوالۍ تعریف او مفهوم: اسلامي بانکوالي د بانکونو او مالي ادارو یو سیستم دی، چې د شریعت له قوانینو سره سم فعالیت کوي. په دې سیستم کې، سود (ربا) ممنوع دی او مالي معاملات باید د اسلامي اصولو، لکه عدل، شفافیت او مشارکت سره سم وي. (الزامل، عبدالرحمن بن حس، إدارة المخاطر في البنوك الإسلامية، دار النهضة العربية، ۲۰۱۵ .ص. ۱۵-۲۵.)

**د اسلامي بانکوالۍ اصلي اصول:**

د سود نه شتون : اسلامي بانکونه د هر ډول سود اخیستلو او ورکولو څخه ډډه کوي. د ریسک شریکول : اسلامي بانکونه د خطرونو او ګټو شریکولو ته لومړیتوب ورکوي، لکه په مشارکت (مضاربه) او شراکت (مشارکه) کې شرعي اصول :ټول مالي معاملات باید د اسلامي شریعت له قوانینو سره سمون ولري. ( السباعي، محمد،البنوك الإسلامية بين النظرية والتطبيق، دار الفكر العربي، ۲۰۱۱ .ص. ٤٤-٥۰.)

### دویم مطلب: په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ تاریخچه

د اسلامي بانکوالۍ تاریخي پرمختګ :په افغانستان کې اسلامي بانکوالي د ۲۰۰۰م کال وروسته پیل شوه. د افغانستان د اسلامي بانکوالۍ په ابتدایي مراحلو کې د اسلامي بانکونو د فعالیتونو پراختیا شامل ده، چې د محلي او نړیوالو مالي بازارونو سره همغږي کوي. (قاسم، سامي، تطور المصارف الإسلامية في العالم الإسلامي، مركز الدراسات المالية، ۲۰۱٤ .ص. ٥٦-٦٥.)

د اسلامي بانکوالۍ د ودې لپاره هڅې او پرمختګونه: افغانستان کې اسلامي بانکوالۍ د شریعت مطابق خدمات وړاندې کوي او د نړیوالو مالي ادارو سره په همغږۍ کې د پراختیا هڅې لري. د اسلامي بانکوالۍ په پراختیا کې د قانوني چوکاټونو، ټکنالوژي او بشري منابعو پراختیا مهم رول لري. ( الشاذلي، أحمد، القطاع المصرفي الإسلامي في الدول النامية، ۲۰۱٦ .ص. ۹۱-۱۰۱.)

**دویم مبحث: د تمویل خطرونو نړیوال او داخلي مفاهیم**

**لومړی مطلب: د نړیوالو خطرونو تعریف او اغیزې**

د نړیوالو اقتصادي بحرانونو اغیزې: نړیوال اقتصادي بحرانونه لکه د ۲۰۰۸م مالي بحران، د اسلامي بانکوالۍ په سیستم کې د پانګونې او تمویل د خطرونو د زیاتیدو لامل کیږي. دغه بحرانونه د نړیوالو مالي بازارونو بدلونونه، د سود نرخونه او د اسعارو تبادلې نرخونه متاثر کوي. (القطان، محمد، الأزمات المالية وتأثيرها على المصارف الإسلامية، دار النهضة العربية، ۲۰۱۷ .ص. ۱۰۲-۱۱۰)

د سیاسي بدلونونو او نړیوالو اقتصادي فشارونو اغیز: سیاسي بدلونونه، لکه جګړې او اقتصادي تحریمونه، کولی شي د اسلامي بانکوالۍ په فعالیتونو باندې منفي اغیز ولري. دا بدلونونه د پیسو د جریان، د پانګونې ظرفیت او د بانکوالۍ عملیاتو باندې مستقیم تاثیر لري.( الزهراني، فهد بن سليمان،الآثار السياسية والاقتصادية على القطاع المصرفي الإسلامي، مركز الدراسات الاقتصادية، ۲۰۱۸ .ص. ۷۶-۸۵.)

**دویم مطلب: د داخلي خطرونو تعریف او اغیزې**

د عملیاتو خطرونه : د عملیاتو خطرونه هغه ستونزې دي، چې د بانک د داخلي پروسو، لکه د ټکنالوژۍ ناکامي یا د بشري منابعو خطا، له امله رامنځته کیږي. د بانک د عملیاتو د مؤثریت کمښت کولی شي د تمویل په پروسو کې لوی زیانونه رامنځته کړي. (حسيني، عبدالله، إدارة العمليات المصرفية الإسلامية، دار الفكر المعاصر، ۲۰۱۸ .ص. ۶۰-۷۰.)

د مدیریت خطرونه: د مدیریت غلطۍ، د تصمیمونو بې پروایاو د پروسو نیمګړتیاوې کولی شي د بانک په فعالیتونو کې جدي ستونزې رامنځته کړي. د ناکام مدیریت سره، د تمویل خطرونه زیاتېږي. (العربي، يوسف، إدارة المخاطر في البنوك الإسلامية: المفاهيم والتطبيقات،دار الثقافة للنشر والتوزيع، ۲۰۱۷ .ص. ۹۰-۱۰۰.)

## دریم مبحث: د افغانستان اسلامي بانکوالۍ کې د تمويلي خطرونو ډولونه

### لومړی مطلب: د تمويل نړيوال خطرونه

نړیوال اقتصادي بحرانونه او د اسعارو د تبادلې خطرونه: د نړیوال اقتصادي بحرانونو لکه د مالي بحرانونو يا د اسعارو د تبادلې نرخونو بدلونونه د اسلامي بانکوالۍ په سيستم کې د تمويل په پروسو کې جدي خطرونه رامنځته کوي. د اسعارو د تبادلې نرخونو بدلونونه کولی شي د اسلامي بانکونو پانګونې کمزوري کړي. (القطان، محمد،إدارة المخاطر في المصارف الإسلامية، دار النهضة العربية، ۲۰۱٦ .ص. ۱۱۸-۱۲۵.)

نړيوالې سياسي ستونزې او تاثيرات يې : د سياسي بحرانونو، لکه د سيمه ايزو جګړو يا نړيوالو تحريمونو له امله د اسلامي بانکوالۍ فعالیتونه متاثر کيږي. دا ستونزې د تمويل د پروسو د اغېزمنتيا کچه راټيټوي. (الشاذلي، أحمد، الآثار السياسية على المصارف الإسلامية،دار الجامعات المصرية، ۲۰۱۵ .ص. ۱۱۰-۱۲۰.)

### دويم مطلب: د تمويل داخلي خطرونه

د عملياتو، مديريت او تطابق خطرونه: دا خطرونه د بانک د داخلي عملياتو په برخه کې رامنځته کيږي، لکه د ټکنالوژۍ ناکامۍ، د مديريت خطا او د قانوني تطابق مشکلات. د دې خطرونو سره د ښه مديريت لپاره د کاروونکو روزنه او د پروسو نظم مهم دي. (حسيني، عبدالله، إدارة المخاطر في المصارف الإسلامية، دار الفكر المعاصر، ۲۰۱۹ .ص. ۷۵-۸۵.)

د افغانستان په بانکوالۍ کې موجود ځانګړي داخلي خطرونه : په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ په سيستم کې ځانګړي داخلي خطرونه شامل دي، لکه د امنيتي ستونزو، د ټکنالوژۍ د نيمګړتياوو او د قانوني تطابق ستونزې. دې خطرونو ته د مناسب تدابيرو سره بايد توجه وشي. (لزهراني، فهد بن سليمان، تحديات المصارف الإسلامية في الدول النامية، مركز الدراسات الاقتصادية، ۲۰۱۹ . ص. ۸۸-۹۵.)

**څلورم مبحث: د تمویل خطرونو مدیریت لپاره ستراتیژۍ**

**لومړی مطلب: د نړیوالو خطرونو مدیریت**

د نړیوالو خطرونو لپاره حفاظتي ستراتیژۍ: اسلامي بانکونه باید د نړیوالو اقتصادي بحرانونو او د اسعارو د تبادلې نرخونو بدلونونو سره د مقابلو لپاره ستراتیژۍ جوړې کړي. دې ستراتیژیو کې د هېجینګ وسیلې، د مالي بازارونو څارنه او د پانګونې د تنوع کولو تدابیر شامل دي. (الشاذلي، أحمد،استراتيجيات إدارة المخاطر المالية. دار الجامعات المصرية، ٢٠١٨ .ص. ٤٥-٥٥.)

د اسلامي مالي محصولاتو پراختیا او نوي کول: د نړیوالو خطرونو مخنیوي لپاره باید اسلامي بانکونه نوي مالي محصولات او خدمات وړاندې کړي چې د نړیوالو بازارونو اړتیاوې پوره کړي او د خطرونو مدیریت کې مرسته وکړي. (القطان، محمد،الابتكار في المصارف الإسلامية، دار النهضة العربية، ٢٠١٧ .ص. ١٣٠-١٤٠.)

**دویم مطلب: د داخلي خطرونو مدیریت**

د عملیاتو کنټرول او د مدیریت د غلطیو مخنیوی: د داخلي خطرونو مدیریت لپاره باید د عملیاتو کنټرول پراخ شي، د مدیریت صلاحیتونه تقویت شي او د غلطیو مخنیوي لپاره جدي تدابیر ونیول شي. (العربي، يوسف، إدارة العمليات في المصارف الإسلامية، دار الثقافة للنشر والتوزيع، ٢٠١٧ . ص. ٩٠-١٠٠.)

**پنځم مبحث: د افغانستان په اسلامي بانکوالۍ کې د مضاربت، مشارکت او مرابحې تمویلي خطرونه او د حل لارې**

د اسلامي مالي سیستم د تطبیق لپاره، مضاربت، مشارکت او مرابحې له مهمو تمویلي وسایلو څخه دي، چې په افغانستان کې د اسلامی بانکدارۍ د پراختیا لپاره اهمیت لري. دا مبحث د دې تمویلي وسایلو سره تړلي خطرونه او د هغوی د حل لارې په افغانستان کې د سیاسي او اقتصادي ثبات په سیاق کې څیړي.

**لومړی مطلب: د مضاربت تمویلي خطرونه او د حل لارې**

**خطرونه:**

اقتصادي عدم ثبات: په افغانستان کې اقتصادي عدم ثبات د مضاربت تړونونه د خطرو سره مخ کوي، ځکه چې اقتصادي ناپایداري د عایداتو کمښت او د سرمایې له ضیاع سره مخامخ کوي. (وهبة الزحيلي، الفقه الإسلامي وأدلته، ناشر : دار الفكرسنة الطبع: ۲۰۱۴ج:٤ ، ص: ۹۵-۸۵)

د ګټې شریکول: د ګټې شریکولو د پروسې د شفافیت نشتوالی ممکن د مضاربت تړونونو کې د اختلافاتو سبب شي.

د مالي بازار ناپایداري: د مالی بازار ناپایداري ممکن د مضاربت سرمایه کارۍ ته زیان ورسوي.

**د حل لارې:**

د اقتصادي پلان جوړونه: د اقتصاد د ثبات لپاره جامع پلانونه او پالیسۍ ترتیبول چې د مضاربت په تړونونو کې د خطرونو کمښت ته وده ورکړي.

د شفافیت زیاتوالی: د مضاربت تړونونو کې د شفافیت زیاتول، چې د ګټې شریکولو پروسه په واضح ډول تر سره شي.

د مالي بازار ښه تنظیم: د مالي بازار د ښه تنظیم لپاره قوانین او تدابیر جوړول چې د ناپایداري مخنیوی وکړي. (عبد الرحمن بن يوسف ، لاقتصاد الإسلامي: مبادئه وأحكامه، ناشر :دار السلام، سنة الطبع: ۲۰۱۷ج:،۲ ،ص:.۱٤۰-۱۱۰ )

## دویم مطلب: د مشارکت تمویلي خطرونه او د حل لارې

**خطرونه:**

مدیریتي اختلافات: د مشارکت په پروژو کې د شریکانو ترمنځ مدیریتي اختلافات ممکن د پروژې پرمختګ ته زیان ورسوي.

د فنډونو غیر مؤثر استعمال: د فنډونو غیر مؤثر استعمال او د پروژې د هدفونو سره د نابلدتوب ممکنه ده.

د حقوقي او قانوني خنډونه: د حقوقي او قانوني خنډونو شتون ممکن د مشارکت پروژو کې ستونزې راولي. (مصطفى الزرقا ،أحكام الصفقات في الفقه الإسلامي ، ناشر : دار القلم، سنة الطبع: ۲۰۱۹الجزء۳ :الصفحة.۲۲۰-۱۹۰ )

**د حل لارې:**

د مدیریتي پروسیجرونو ښه کول: د مشارکت پروژو لپاره قوي مدیریتي پروسیجرونه ترتیبول چې د شریکانو ترمنځ توافق او همغږي رامنځته کړي.

د فنډونو څارنه: د فنډونو دقیق څارنه او ارزونه چې د غیر مؤثر استعمال مخه ونیسي.

حقوقي چمتووالی: د حقوقي او قانوني مسائلو لپاره د مناسبو تدابیرو او مشورې برابرول. (عبدالله الشمراني، دور المشاركة والمضاربة في تعزيز التنمية الاقتصادية،المجلة :مجلة الدراسات الإسلامية، سنة النشر: ۲۰۲۰، العدد۱۵ :، ص: ٦٠-٤٥ .)

## دریيم مطلب: د مرابحې تمويلي خطرونه او د حل لارې

**خطرونه:**

د ګټې نشتوالی: د مرابحې تړونونو کې د ګټې نشتوالی ممکن د تمويلي پروژو لپاره خطرناک وي.

د قيمتي توکو ناپايداري: د قيمتي توکو قيمتونو ناپايداري د مرابحې پروژو لپاره خطرونه رامنځته کوي.

د پلورلو ستونزې: د مرابحې د توکو د پلورلو کې مشکلات او ځنډونه ممکن د تمويل سره تړلي ستونزې راولي. (محمد حسين، تحليل المخاطر في التمويل الإسلامي: دراسة حالة، المجلة :مجلة البحوث المالية، سنة النشرا ۲۰۲۱، العدد۱۸ :، ص: ۴۰-۲۵)

**د حل لارې:**

د ګټې ضمانت: د مرابحې د تړونونو کې د ګټې ضمانت کول چې د تمويلي پروژو لپاره ثبات او يقيني پيدا کړي.

د قيمتي توکو د مديريت پلانونه: د قيمتي توکو د قيمتونو د ناپايداري لپاره د مديريت پلانونه جوړول.

د پلورلو د پروسې ښه کول: د مرابحې توکو د پلورلو لپاره ښه پروسې او تدابير ترتيبول. (عادل عوض الله، "فقه المعاملات المالية"، ناشر: مؤسسة الرسالة، سنة الطبع: ۲۰۰۵ الجزء۱ :الصفحة. ۱۰۰-۷۵)

د مضاربت، مشارکت او مرابحې تمويلي وسايل په افغانستان کې د اقتصادي او سياسي ثبات سره تړلي خطرونه لري، خو د دې خطرونو د حل لپاره جامع تدابير او پلانونه کولای شي چې د تمويلي وسايلو د پايدارۍ او موثرې کچه لوړه کړي. د دې مبحث په وسيله د هغو ستونزو حل لارې وړاندې شوي، چې د افغانستان په ځانګړي سياق کې د اسلامی بانکدارۍ د پرمختګ لپاره ضروري دي.

**د څیړنې لاس ته راوړنې:**

**د خطرونو پیژندنه او تحلیل** : څېړنې ښودلې، چې د اسلامي بانکوالی په سیستم کې د خطرونو پیژندل او دقیق تحلیل د سیستم د ثبات او مؤثریت لوړولو لپاره حیاتي دی. د دې خطرونو پېژندنه، لکه د بازار خطر، سیالی خطراو د شریعت پر اساس د موافقې خطرونه، د مؤثره مدیریت لپاره بنسټیز دي.

**د نړیوالو او داخلي خطرونو پوهه** : د نړیوالو اقتصادي بحرانونو، سیاسي بدلونونواو داخلي عملیاتو او مدیریت خطرونو پوهه د اسلامي بانکدارۍ د فعالیتونو د اغیزمنتیا د زیاتوالي لپاره مهمه ده. دې پوهې د خطرونو په مدیریت کې د مؤثرو ستراتیژیو پراختیا لپاره بنسټ ایښودلی دی.

**د تمویلي عقودو سره تړلي خطرونه** : د مضاربت، مشارکتاو مرابحې تمویلي عقودو سره تړلي خطرونه په افغانستان کې د اقتصادي او سیاسي ثبات سره تړاو لري. د دې عقودو د خطرونو تحلیل د دې لپاره بنسټیز دی چې د اسلامي بانکوالۍ وده او پرمختګ په ښه توګه یقیني شي.

**د مدیریت لپاره ستراتیژۍ** : د معاصرو مالي او فني ابزارو کارول د خطرونو د مدیریت لپاره مؤثره ستراتیژۍ وړاندې کوي. دې ستراتیژیو د اسلامي بانکوالۍ په سیستم کې د خطرونو سره د مؤثره مبارزې لپاره د حل لارو وړاندې کوي.

**د فني او عملي وړاندیزونو وړاندې کول** : د څېړنې له مخې، د افغانستان په اسلامي بانکوالۍ کې د خطرونو مدیریت لپاره فني او عملي وړاندیزونه وړاندې شوي، چې د بانکونو په فعالیتونو کې د خطرونو کمولو لپاره ګټور دي.

**د څیړنې پایلې:**

**د خطرونو مؤثره مدیریت** : د اسلامي بانکوالۍ په سیستم کې د خطرونو مؤثره مدیریت د دې سیستم د ثبات او پراختیا لپاره اساسي دی. د معاصرو مالي ابزارو او فني مېتودونو کارول د خطرونو په کمولو کې مرسته کوي.

**د نړیوالو او داخلي خطرونو پوهه** : د نړیوالو اقتصادي او سیاسي بدلونونو سره د اسلامي بانکدارۍ تعامل د دې سیستم د فعالیتونو د اغیزمنتیا د زیاتوالي لپاره اړین دی. د داخلي خطرونو لکه د عملیاتو او مدیریت خطاګانو ښه پوهه د دې سیستم د مؤثریت لپاره مهمه ده.

**د تمویلي عقودو د خطرونو تحلیل** : د مضاربت، مشارکتاو مرابحې تمویلي عقودو سره تړلي خطرونه په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ لپاره یو بنسټیز موضوع دی. د دې عقودو د خطرونو دقیق تحلیل د اسلامي بانکدارۍ د مؤثریت د زیاتوالي لپاره اړین دی.

**د مدیریت لپاره ستراتیژۍ او وړاندیزونه** : د معاصرو مالي ابزارو او ستراتیژیو کارول د خطرونو د مدیریت لپاره بنسټیز دي. د دې ستراتیژیو په مرسته، د اسلامي بانکوالۍ په سیستم کې د خطرونو سره د مؤثره مبارزې لپاره مهم وړاندیزونه وړاندې شوي دي.

**د څیړنې وړاندیزونه:**

**د خطرونو د مدیریت لپاره تازه ستراتیژۍ** : د اسلامي بانکوالۍ ادارو ته وړاندیز کېږي چې د معاصرو مالي ابزارو او فني مېتودونو څخه ګټه واخلي، ترڅو د خطرونو مؤثره مدیریت یقیني کړي. د نړیوالو اقتصادي بحرانونو او سیاسي بدلونونو سره د مقابلو لپاره نویو ستراتیژیو ته اړتیا ده.

**د داخلي خطرونو کمول** : د اسلامي بانکدارۍ په سیستم کې د داخلي خطرونو کمولو لپاره باید د عملیاتو کنټرول او د مدیریت د صلاحیتونو تقویت ته ځانګړې توجه وشي. د ټکنالوژۍ او بشري منابعو د پیاوړتیا لپاره اقدامات ترسره شي.

**د تمویلي عقودو د شفافیت زیاتوالی** : د مضاربت، مشارکتاو مرابحې د تمویلي عقودو شفافیت زیاتول د دې لپاره اړین دي چې د خطرونو کمښت او د پروژو د مؤثریت لوړول یقیني شي.

**د اقتصادي ثبات لپاره پالیسۍ او پلانونه** : د اقتصادي ثبات لپاره جامع پالیسۍ او پلانونه جوړول چې د مضاربت او مشارکت پروژو کې د خطرونو کمښت ته وده ورکړي. د شفافیت زیاتول او د فنډونو مؤثر استعمال باید د دې پالیسو یوه برخه وي.

**د حقوقي او قانوني خنډونو مخنيوی** : د مشارکت پروژو لپاره د حقوقي او قانوني خنډونو د مخنيوي لپاره مناسب تدابير او مشورې برابرول، ترڅو د پروژو پرمختګ يقيني شي.

**د څېړنې اخذليکونه:**


حسيني، عبدالله" .إدارة العمليات المصرفية الإسلامية ".دار الفكر المعاصر، ۲۰۱۸.

حسيني، عبدالله" .مراجعة تطبيقات إدارة المخاطر في المصارف الإسلامية ".دار الفكر المعاصر، ۲۰۱۹ .

الزامل، عبدالرحمن بن حسن" .أثر إدارة المخاطر على الأداء المالي في المصارف الإسلامية ".دار النهضة العربية، ۲۰۱۸ .

الزامل، عبدالرحمن بن حسن" .إدارة المخاطر في البنوك الإسلامية ".دار النهضة العربية، ۲۰۱۵ .ص. ۱۵-۲۵.

الزهراني، فهد بن سليمان" .إدارة المخاطر ودورها في تنمية الاقتصاد ".مركز الدراسات الاقتصادية، ۲۰۱۷ .

الزهراني، فهد بن سليمان" .الآثار السياسية والاقتصادية على القطاع المصرفي الإسلامي ".مركز الدراسات الاقتصادية، ۲۰۱۸ .

السباعي، محمد" .البنوك الإسلامية بين النظرية والتطبيق ".دار الفكر العربي، ۲۰۱۱ .

الشاذلي، أحمد" .إصلاح الأنظمة القانونية في المصارف الإسلامية ".دار الجامعات المصرية، ۲۰۱۹ .

الشاذلي، أحمد" .الآثار السياسية على المصارف الإسلامية ".دار الجامعات المصرية، ۲۰۱۵ .

الشاذلي، أحمد" .القطاع المصرفي الإسلامي في الدول النامية ".دار الجامعات المصرية، ۲۰۱۶ .

عادل عوض الله، "فقه المعاملات المالية"، ناشر :مؤسسة الرسالة، سنة الطبع : ۲۰۰۵ .

عبدالرحمن بن يوسف، "الاقتصاد الإسلامي: مبادئه وأحكامه"، ناشر :دار السلام، سنة الطبع : ۲۰۱۷.

عبدالله الشمراني، "دور المشاركة والمضاربة في تعزيز التنمية الاقتصادية"،المجلة :مجلة الدراسات الإسلامية، سنة النشر: ۲۰۲۰، العدد.۱۵.

العربي، يوسف" .إدارة المخاطر في البنوك الإسلامية: المفاهيم والتطبيقات ".دار الثقافة للنشر والتوزيع، ٢٠١٧ .
العربي، يوسف" .التدريب والتكنولوجيا في المصارف الإسلامية ".دار الثقافسة للنشر والتوزيع، ٢٠١٨ .
قاسم، سامي" .تطور المصارف الإسلامية في العالم الإسلامي ".مركز الدراسات المالية، ٢٠١٤ .
القطان، محمد" .إدارة المخاطر في المصارف الإسلامية ".دار النهضة العربية، ٢٠١٦ .
القطان، محمد" .الأزمات المالية وتأثيرها على المصارف الإسلامية ".دار النهضة العربية، ٢٠١٧ .
محمد حسين، تحليل المخاطر في التمويل الإسلامي: دراسة حالة"، المجلة :مجلة البحوث المالية، سنة النشرا ٢٠٢١، العدد: ١٨.
مصطفى الزرقا ،أحكام الصفقات في الفقه الإسلامي ، ناشر :دار القلم، سنة الطبع: ٢٠١٩.
وهبة الزحيلي، الفقه الإسلامي وأدلته، ناشر : دار الفكرسنة الطبع: ٢٠١۴.

**دوکتور شفیق الله امین**

**د شرعیاتو پوهنځی د فقه او قانون ډیپارټمنټ استاد**

**لارښود استاد: پوهندوی دوکتور فضل الرحیم بصیرت**

# په مسلمانه کورنۍ کې قوامیت د اسلامي فقه له نظره

**الملخص:**

تقوم هذه الدراسة ببيان مفهوم القوامة، والأحكام الفقهية التي تتعلق بها. وتهدف إلى بيان أدلة مشروعيتها، والحكمة منها، والآثار المترتبة عليها، ومنهج الدراسة هو: المنهج الاستقرائي التحليلي الاستنباطي المقارن، وأهم نتائج الدراسة: أن القوامة مشروعة، وقد دل على مشروعيتها الكتاب والسنة والمعقول، وبيان الألفاظ ذات الصلة بالقوامة الشرعية كالوصاية، والولاية، ونحوهما، أو المصطلحات الحادثة كالسلطة الذكورية أو الوصاية الذكورية، وغيرها مما يراد لتشويه المعاني الصحيحة الشرعية، وبيان الحكمة منها كتنظيم شأن الأسرة، وتوحيد رئاستها، ثم تفصيل ما يتعلق بآثارها التي منها، رعاية الزوجة والقيام على شؤونها، وإحسان عشرتها بما يشمل المعاشرة القولية والفعلية، ووجوب طاعة الزوج في المعروف، واستئذان الزوج في الخروج من المنزل بما لا يمس الأسرة بأذى مع مراعاة قواعد الشرع العامة في هذا الأمر بما لا يكون فيه ضرر على الزوجة، واستئذان الزوج في إجارة نفسها للعمل، واستئذان الزوج في إدخال الآخرين منزله فيما لا يعلم رضا الزوج، فإن علمت رضاه به جاز إدخاله بلا إذن، واستئذان الزوج في إرضاع ولدها من غيره، وله المنع ما لم يضطر الصغير إليها ويخشى عليه التلف، وتقويم الزوج سلوك زوجته إذا ما حصل منها تقصير وعصيان لأداء حقوقها الواجبة وفق التدرج المذكور في القرآن، بالبدء بالوعظ ثم الهجر ثم الضرب غير مبرح، ومن أهم التوصيات: نشر الوعي والتثقيف للأسرة، ولا سيما الزوجين، لبيان حقوق كل منهما وتجلية المراد بالقوامة بما يكفل حسن استخدامها دون إساءة للمرأة، وتجلية ما تتعرض له المصطلحات الشرعية بشكل عام، والقوامة بشكل خاص، من تلاعب لتشويهها وإظهارها بصورة سيئة تنفر من التمسك بها، وتأسيس منظمات ولجان للأسرة يكون من مهامها نشر الوعي الديني بكيفية التعامل السامي بين الزوجين، وحل ما يطرأ من مشكلات من منطلقات شرعية، وطرح البديل الإسلامي حال تجاوز الزوج في استخدامها.

## لنډیز:

دا څېړنه د قوامیت(مسئولیت) مفهوم او د هغې اړوند فقهي احکام بیانوي. موخه یي دا ده، چې د قوامیت مشروعیت، حکمت او اغیزې تشریح کړي. کړنلاره یي لوستل، راټولول، تحلیل او پرتلیز معیار باندې شوی ده. د دې څېړنې ترټولو مهمې پایلې دا دي، چې د قوامیت مشروعیت په قرآن، سنتو او عقل ثابت شوی دی.
د شرعي قوامیت په اړه د شرایطو تشریح او د هغو ناسمواصطلاحاتو وضاحت لکه د نارینه واکمني یا نارینه سالاري او نور هغه څه چې موخه یې د شریعت تحریف او بدنامول دي او د قوامیت د مشروعیت تر شا د موخو وضاحت، لکه د کورنۍ د چارو تنظیم او د هغې مشرتابه متحد کول، بیا د هغې د اغیزو په اړه څرګندونې، لکه د میرمنې د پاللو په شمول، د هغې د چارو سمبالول، له هغې سره په قولي او عملی توګه مهرباني کول او د هغی خاوند ته اطاعت لرل، لکه له کوره د وتلو پر مهال ترې اجازه غوښتل چې کورنۍ د ګډوډۍ له امله زیانمنه نه شي، د شریعت د احکامو په نظر کې نیولو سره باید ښځه د خاوند له اجازې پرته څوک کورته را دننه نه کړي او له خاوند څخه د بل چا ماشوم ته د شېدو ورکولو اجازه وغواړي.
که میرمن د خاوند په حقوقو کې غفلت کوی، هغه یې د قرآن کریم د هدایت پر بنسټ د تادیب حق لري ، چې لومړی نصیحت، بیا بستره بیلول او په وروستي پړاو کې له سختۍ پرته وهل دي.
دا چې په بیولوژیکې توګه د نر او ښځې د وجودي جوړښت کوم توپیر علماوو او ساینسپوهانو وړاندې کړی، د کورنۍ او ټولنې په جوړښت کې چې د نر او ښځې تر منځ کومې دندې د فطرت او شریعت له اړخه ټاکل شوي، د هغې اړین ارکان باید دا وي چې:
د کورنۍ لپاره روزي پیدا کول، د هغې خوندي ساتنه، ښوونه او روزنه او اړتیاوو پوره کولو لپاره شاقه او سخت کارونه؛ د نارینه کار دی. اسلام نارینه د مهر په ورکولو مکلف کړی، د کور او کورنۍ ټول مصارف او د خپلې میرمنې او ماشومانو نفقه هم د نارینه په غاړه ور اچولې ده او ښځه هم د دې بار څخه معاف کړې، دا په داسي حال کې چې ښځه له میړه څخه مهر اخلې او د خپلې کورنۍ څخه میراث ترلاسه کوي او دا حق هم ورکول شوی، چې خپله دغه شتمنې په کار واچوي او ګټه هم تر لاسه کړي.
کلیدي کلمې: کورنۍ، قوامیت، میړه، میرمن، مهر، نفقه

## سریزه:

الحمد لله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سید المرسلین نبینا محمد وعلی آله وصحبه ومن اتبعه إلی یوم الدین.

الله تعالی د اسلام دین د بشریت د هدایت لپاره غوره کړی او د محمد ﷺ په مبعوثیت او پر هغه د قرآن کریم پر نزول یې بشپړ کړي دي، الله تعالی فرمایي: ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾(سورت المائدة، ۳ آیت)

**ژباړه:** نن ورځ می تاسې ته دین بشپړ کړو، نعمتونه می درکړه او د اسلام دین می درته غوره کړو.

د اسلام دین د هر ځای او وخت لپاره سمون لري او تر قیامته به د بشریت لارښود وي.

په مسلمانې کورنۍ کې د میړه قوامیت (مشري) د شرعي اصولو سره سم د دین یوه برخه ده.

**الله تعالی فرمایې: ﴿الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ﴾ (سورت النساء، ۳۴آیت)**

**ژباړه:** سړي پر ښځو مشران ټاکل شوي دي.

په کورنۍ کې قوامیت د الله تعالی د هغو نعمتونو څخه دی، چې د ښځې او سړي دواړو لپاره گټور او د فطرت سره برابر او مناسب دي.

### په کورنۍ کې د قوامیت (مسئولیت) پر موضوع د لیکلو اهمیت او اړتیا:

د وخت په تیریدو او د نړۍ د کلتورونو د کشمکش او د اسلام د بدنامولو لپاره د دښمنانو د پرلپسې مستقیمو او غیر مستقیمو دسیسو او د ډیرو مسلمانانو د ناپوهۍ له امله د قوامیت په هکله شبهات او تشویشونه منځ ته راغلي دي، نو ځکه مو په دې مهمه موضوع رڼا اچول او ښه روښانه کول اړین وگڼل.

زما دا لیکنه په دې ډگر کې لومړۍ لیکنه نه ده، خو د تفصیل او زیات وضاحت په لحاظ راته مهمه او اړینه بریښي.

تر دی مخکې په لنډه توګه د ځینو لیکنو یادونه:

۱- په کورنۍ کې د قوامیت اهمیت او ضرورت د اسلامی ضوابطو سره سم. لیکنه: وفاء السویلم

۲- د قوامیت په هکله نظرونه او اسلامی لارښوني. ویب پاڼه د محمدی علماو ټولنه، المغرب

۳- د قوامیت اهمیت د مسلمانې کورنۍ په ارامتیا کې. لیکنه: عبد الحمید بن صالح الکراني

د دي لیکنې موخې:

میړه د خپلې میرمنې مشر دی، هغه ته دا امانت سپارل شوي دی، چې د پالنې او ساتنې لپاره یې اقدامات وکړي، هغه ورته په ښو کارونو امر او له بدو یې مخه ونیسي، لکه څنګه چې والي د خپل رعیت سره کوي.

د کورنۍ د جوړښت وروسته چې د یوه صالح تمدن لپاره کوم شي ډیر اړین دي هغه دا دي، چې د ښځې او نر تر مینځ اړیکې په سم ډول و ټا کل شي، د هغوی تر مینځ مسؤلیتونه وویشل شی او په کورنۍ کې د هغوی مرا تب او وظایف و ټاکل شي.

یو شمیر قومونه داسې دي، چې هغوی ښځې په نارینه و باندې قوامې او مدیرې ګرځولي، خو یو شمیر بیا داسې دي چې نارینه یې په ښځه باندې قوام ګرځولي دي او دې کار نارینه د ظلم او تیري اخری درجې ته رسولي، ښځې یې یواځې د خپلو نفسي غوښتنو یا د وینځو او لوبو د آلاتو په څېر ګرځولې دې او د هغوی ټول تمدنې او اقتصادي حقوق یې تر پښو لاندې کړي.

خو اوسنې غربی تمدن دریېمه لار خپله کړې هغه دا چې ښځې او نارینه یې یو ډول برابر بللي دي، د دواړو مسؤلېتونه یو شان او یو څېر دي، دواړه خپله روزي په خپله پیدا کوي او خپلې اړتیاوي په خپله پوره کوي. خو دا ټولنیز تنظیم او قاعده لا تر اوسه پورې تکمیل ته نه ده رسېدلې.

څکه چې اوس هم د نارینه قوامیت او لوړوالی تر سترګو کېږي، د ژوند هېڅ څانګه کې ښځه د نارینه هم پله نه ده ګرځېدلې او ټول هغه حقوق، چې مساوات او برابري یې غواړي، ښځې نه دي تر لاسه کړي.

خو دغه درې واړه ډولونه د عدل، برابرۍ او تناسب څخه خالي دي. په دې کې هیڅ شک نشته چې د انسانیت له لارې ښځه او نر دواړه برابر دي، دواړه د انساني نوعې دوه برابرې برخې دي، د تمدن په پرمختګ کې او د انسانیت په خدمت کې دواړه په برابره توګه شریک دي. زړه، دماغ، جذبا ت، غوښتنې او بشري اړتیاوي دواړه لري او تر دې حده د دواړو ترمنځ د برابرۍ دعوی باالکل پر ځای او صحیح ده او دا د هر صالح تمدن دنده ده، چې ښځو ته هم د نارینه و په څېر د خپل فطري استعداد او صلاحیت زمینه برابره کړي، چې هغوی هم د همدې خدمتونو د تر سره کولو لپاره ګټور وګرځي.

د دې لیکنې کړنلاره: لوستل، راټولول، تحلیل او پرتلیز معیار باندې شوی ده.

دا لیکنه: لنډیز، سریزه، اوه څپرکي، پایله، وړاندیزونه او ماخذونه لري: لومړی څپرکی: د قوامیت پیژندنه، دوهم څپرکي: د قوامیت د مشروعیت دلیلونه، دریم څپرکی: د قوامیت حکمت، څلورم څپرکی: د قوامیت لاملونه، پنځم: څپرکی: د قوامیت موخې، شپږم څپرکی: پر میړه د میرمنې حقوق، اووم څپرکې: آیا میړه د قوامیت نه تنازل کولای شي؟

# لومړۍ څپرکی

## د قوامیت پیژندنه:

قوامیت د یو شي ساتنه او ګټې یې خوندي کولو ته وايي. قیم مشر ته وايي، د قوم قیم هغه دی چې د هغوی کارونه اداره کوي، ترتیب او تنظیم یې برابروي.

امام البغوی وايي: د قوام او قیم معنی یوه ده، خو د قوام لفظ کې قوت او بلاغت زیات دي څکه هغه دلالت پر پالنه، اداره او تادیب کوي.(تفسیر البغوی، ۶۱۱/۱)

فقهاو کرامو د قوامیت لفظ په لاندی دریو ځایونو کې استعمال کړی دی:

۱- قیم د نا بالغ ماشوم د کارونو د سمبالښت لپاره د قاضي له خوا مناسب شخص ټاکل
۲- قیم د وقف شوو املاکو د ساتنې او پالنې لپاره مناسب شخص غوره کول
۳- قیم د میرمنې لپاره، میړه د خپلې میرمنې په ساتنه، پالنه او اړتیاوو پوره کولو باندې مکلف کول.
دلته همدا دریېم ډول مطلوب دي، چې میړه د خپلې میرمنې د ژوند د ټولو اړتیاوو د پوره کولو مسئولیت د نکاح د تړون له امله په غاړه اخلي او دا مکلفیت اختیاري نه، بلکې د شریعت له اړخه پر ده فرض شوی دی. د تقصیر او سر غړونې په صورت کې د دنیاوي او اخروي محاسبې لاندې راځي.

امام ابن کثیر د ﴿الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ﴾ په تفسیر کې لیکي: سړی د ښځې لپاره مشر دی، رئیس دی او حاکم دی، د غلطۍ په صورت کې یې تأدیبولای هم شي.( ۵۶/۲.: تفسیر القرآن العظیم، ابن کثیر)

امام الجصاص د دې آیت په تفسیر کې لیکې: سړي د ښځو ساتونکي، پالونکي او تادیبوونکي دي، څکه چې الله تعالی سړی پر ښځه د عقل او رأيې له لحاظه بهتر کړی دی او سړی یې د نفقې په برابرولو مکلف کړی دی. أحکام القران،الجصاص ۳۷/۲

الله تعالی په قرآن کریم کې نکاح د محکم تړون په نوم یاده کړې ده.

الله تعالی فرمایي: ﴿وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهُ وَقَدْ أَفْضَى بَعْضُكُمْ إِلَى بَعْضٍ وَأَخَذْنَ مِنْكُمْ مِيثَاقاً غَلِيظاً﴾ (سورت النساء،۲۱ آیت)

ژباړه: تاسي څنګه د دوی نه (طلاقو شوو میرمنو نه) مهرونه واپس اخلئ؟ په داسي حال کې چې تاسې دوی سره بستره کې یو ځای شوي یاستئ او له تاسې یې محکم تړون اخیستی دی.

قوامیت د ښځې د عزت، احترام او سالمې پالنې او ساتنې معنی لري او سړي یې د دې د ژوند د ټولو اړتیاوو په پوره کولو مکلف کړي دي.

د اسلام د د ښمنانو غلط تبلیغات، چې ګواکې قوامیت د سړي سالاری، د ظلم، وحشت او د ښځو د قید کولو او ازادۍ سلبولو په معنی دي، په حقیقت کې روښانه شو او د ټولني ټول وګړي پري پوه شو چې دا ټولې د سبسې د مسلمانې کورنۍ د کمزوري کولو او د غږو ترمنځ یې د نفرت پیدا کولو لپاره دي. کفري نړۍ د کورنۍ او د هغې د هوسا ژوند له نعمت څخه بې برخې ده، خپلمنځې اړیکې او احترام پکې شتون نه لري، ښځې او نر ټول باید کار وکړي او ځانته د ژوند وسائل پیدا کړي.

په نکاح سره د یوې کورنۍ بنسټ ایښودل کیږي، دوه کسان په خپلو منځو کې تعهد کوي، چې د خپل ژوند په سفر کې به یو د بل مټ وي، بل ته به پر تا غوره والی نه ورکوي، له تا سره به خیانت نه کوي، نکاح د ښځې او نر تر منځ یوه برابره معامله ده، په دې سره د دواړو یوې طبیعې او انساني اړتیا ته ځواب ویل کیږي.

دا چې په بیولوژیکي توګه د نراوښځې د وجودي جوړښت کوم توپیرعلماوو او ساینسپوهانو وړاندې کړی؛ کولی شو، چې په اړوندو کتابونو کې یې مطالعه کړو، ځکه دا مقاله د دې تشې د ډکولو څخه عاجزه ده، خو د کورنۍ او ټولنې په جوړښت کې چې د نر او ښځې تر منځ کومې دندې د فطرت او شریعت له اړخه ټاکل شوي، د هغې اړین ارکان باید دا وي چې:

د کورنۍ لپاره روزي پیدا کول، د هغې خوندي ساتنه، ښوونه او روزنه او اړتیاوو پوره کولو لپاره شاقه او سخت کارونه د نارینه کار دی. اسلام نارینه د مهر په ورکولو مکلف کړی، د کور او کورنۍ ټول مصارف او د خپلې میرمنې او ماشومانو نفقه یې د نارینه په غاړه ور اچولې ده او ښځه یې له دې بار څخه معاف کړې، دا په داسي حال کې چې ښځه له میړه څخه مهر اخلې او د خپلې کورنۍ څخه میراث ترلاسه کوي او دا حق هم ورکول شوی، چې خپله دغه شتمني په کار واچوي او ګټه یې تر لاسه کړي.

# دوهم څپرکی

## د قوامیت د مشروعیت دلیلونه

### ۱- په قرآن کریم کې:

﴿الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ ۚ فَالصَّالِحَاتُ قَانِتَاتٌ حَافِظَاتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللَّهُ ۚ وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ ۖ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا﴾ (سورت النساء، ۳۴آیت)

**ژباړه:** سړي حاکمان (مقرر شوي) دي پر ښځو باندې، په سبب د دې چې فضلیت (غوره والی) یې ورکړې دی الله ځینې د دوی ته پر ځینو نورو باندې او په سبب د دې چې نفقه (لګښت) کوي دوی (پر دغو ښځو) له مالونو خپلو، نو هغه ښځې چې نیکې دي، حکم منونکې دي ( د میړونو خپلو) ساتونکې دي، په غیاب د میړونو (ځانونو خپلو او د خپلو میړونو د کورونو، مالونو او اولادونو) په سبب د هغو شي ؤ، چې ساتلی دی الله (دوی ته له حقوقو پر میړونو) او هغه ښځې چې ویریږئ تاسې له سرکشۍ (بد ګزرانۍ) د دوی نه، نو نصیحت وکړئ دوی ته او پریږدئ تاسې دوی (خپلې شاوې ورته وګرځوئ!) په ځای د خوب کې (که په نصیحت سمې نه شوې) او وهئ تاسې دوی (که په بیلتون هم سمې نه شوې) نو که اطاعت یې وکړ (غاړه یې کېښوده) تاسو ته، نو مه لټوئ تاسې پر دوی باندې لاره (د ضرر او اذیت) بېشکه الله دی ډیر پورته (په غلبه اومرتبه کې) ډیر لوړ له ټولو اشیاؤ).

ځکه چې سړي نظر ښځو ته زیاتې ټولنیزې اړیکې لري، د کورنۍ نفقه او مصارف برداشت کوي او په خارجی حوادثو کې نظر ښځو ته د قوي جسم لرونکی دی.

امام القرطبی وایې: سړي ځکه فضیلت لري، چې دوی میرمنو ته نفقه ورکوي او دفاع ترې کوي. (تفسیر القرطبی(۱٦۸/۵)

﴿وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۚ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾
(سورت البقره، ۲۲۸ آيت)

ژباړه: او شته دی ښځو لره حقوق پر ميړونو باندې، په شان د هغو حقوقو چې په دوی دی د خاوندانو په ښه وجه سره او شته نارينوو لره په دې ښځو باندې بهتر والی (فضيلت).

امام الجصاص وايي: (ميړونه او ميرمنې يو پر بل حقوق لري خو ميړونو ته پهتر والی ورکړل شوی دی. (احكام القرآن ۲/۶۸)

## ۲- په سنتو کې:

*عن أبي هريرة رضى الله عنه قال: قال الرسول ﷺ: (والذي نفسي بيده ما من رجل يدعو امرأته إلى فراشه فتأبى عليه إلا كان الذي في السماء ساخطاً عليها حتى يرضى عنها). مسلم كتاب النكاح،۲/۱۰۶۰ (۱۴۳۶)

ژباړه: په هغه ذات مې دې قسم وي، چې زما روح د هغه په قبضه کې دی، هر کله چې ميړه د خپلې ښځې څخه د نفس په اړه غوښتنه وکړي او هغه انکار وکړي، الله تعالی به ترې تر هغې ناراضه وي تر څو يې چې ميړه راضي شي.

* عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال الرسول ﷺ (لايحل للمرأة أن تصوم و زوجها شاهد إلا بإذنه، ولا تأذن في بيته إلا بإذنه) (البخاري، كتاب النكاح، ۱۹۹٤/۵(٤۸۹۹)

ژباړه: هيڅ ښځې لپاره روا نه ده، چې د خاوند د شتون پر مهال د هغه له اجازې پرته نفلي روژه ونيسي او نه کور ته د ميړه له اجازې پرته چاته د ننوتو اجازه ورکړي.

* عن عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه قال: قال الرسول ﷺ: (إذا صلت المرأة خمسها، وصامت شهرها، وحفظت فرجها، وأطاعت زوجها، قيل لها: ادخلي الجنة من أي أبواب الجنة شئت) (أحمد في مسنده،۱/۱۹۱(۱۶۶۱)

ژباړه: کله چې ښځه خپل پنځه وخته لمونځونه وکړي او د روژې مبارکې میاشتې روژه ونیسې، خپل شرم ځای او شرافت هم خوندي وساتي او د میړه پیروي وکړي، نو د جنت له هرې دروازې څخه چې وغواړي جنت ته به ننوزي.

* عن جابر رضي الله عنه قال: قال الرسول ﷺ فی حجة الوداع: (فاتقوا الله في النساء فإنكم أخذتموهن بأمان الله، واستحللتم فروجهن بكلمة الله، ولكم عليهن أن لا يوطئن فرشكم أحدا تكرهونه فإن فعلن ذلك فاضربوهن ضربا غير مبرح ولهن عليكم رزقهن وكسوتهن بالمعروف ) مسلم، کتاب الحج،۸۹۰/۲(۱۲۱۸)

ژباړه: جابر رضی الله عنه وایي: رسول الله ﷺ د حجة الوداع پر مهال په خپله خطبه کې وفرمایل: د ښځو په باره کې له الله ﷻ څخه وویرېږئ! تاسې هغوی د الله ﷻ په امان اخیستي دي او تاسې ته د هغوی شرمګاه د الله ﷻ په کلمه حلال شوي او ستاسې پر هغوی باندې دا حقونه دي، چې هغوی به ستاسي فرشونه داسې چا ته نه غوړوي، چې تاسې يې بد ګڼئ (کوم څوک چې د تاسې خوښ نه وي، هغه بې اجازې کور ته نه ننباسي) که يې داسې وکړل، نو هغوی ووهئ، لږ وهل چې زخم کونکې نه وي او همدارنګه د هغوی پر تاسې باندې دا حق دی، چې په ښه شان نفقه او د استوګنې ځای ورته برابرکړئ.

## ۳- عقلی دلیل:

د انسانیت تقاضا هم دا ده، چې کله هم څو کسان په یو ځای کې د کار یا مشورې لپاره راټولیږي؛ حتما یو کس د دې ټولنی د ادارې او تنظیم لپاره ټاکي، چې مشر بلل کیږي.

د دې په پرتله د کورنۍ اهمیت ډېر زیات دی، ځکه دوامدار فکر، کاراو تنظیم ته اړتیا لري، نو ځکه ورته د قیم او مشر ضرورت دی او د مشرۍ لپاره مناسب شخص سړی دی.

# دریم څپرکی

## د قوامیت حکمت

الله تعالی مؤمنانو ته د شورا امر کړی دی او دوی یې د شورا له امله ستایلي دي.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَ الَّذِينَ اسْتَجابُوا لِرَبِّهِمْ وَ أَقامُوا الصَّلاةَ وَ أَمْرُهُمْ شُورى بَيْنَهُمْ وَ مِمَّا رَزَقْناهُمْ يُنْفِقُونَ﴾ (سورت الشوری، ۳۸ آیت)

**ژباړه:** او هغه کسان چې اجابت کوي (د احکامو) درب د دوی او قائموي (اداء کوي سره له ټولو حقوقو) لمونځ او کار د دوی (په) مشورت (سره) وي په منځ د دوی کې او له ځینو د هغو شیانو چې ورکړی دی مونږ دوی ته نفقه کوي د بل لپاره (په لاره د الله).

د رسول الله ﷺ میرمنو به د هغه سره د اختلاف په صورت کې خپل نظر ښکاره کولو او د قناعت ورکولو کوښښ به یې کولو.

په دې سره په کورنۍ کې د مینې محبت او اعتماد فضا رامنځ ته کیږي.

هر غړی په کورنۍ کې خپل ځان آزاد او صلاحیت لرونکې محسوسوي او د مشر موجودیت دوی ته حمایت ورکوي.

د مشر معنی استبداد او ځورونه نه، بلکې لار ښوونه، دفاع او ساتنه ده.

کېدی شي د ځینو سړیو له لورې د دې قوامیت او مشرۍ نه غلطه استفاده وشي، خو په هره قاعده کې استثناء وي، ټول نظام د سوال لاندې نه شي راوستلی.

که چېرته د محمد ﷺ سیرت ته ځیر شو، نو دا به مونږ ته په پوره توګه روښانه شي چې ښځه نه بندۍ وه او نه هم د ټولنیز ژوند څخه ګوښه ګړی شوی وه، لکه څرنګه چې ورسره د تخلف او د په شا تګ په بعضو پیړیو کښې د ګوښه کېدلو معامله وشوه.

بلکه ښځې په پوره ډول سره د جماعت او جمعې په لمونځونو کې ګډون کاوه. او رسول - ﷺ - به ورته دا نصیحت او وینا کوله، چې په آخري صفونو کې ودریږئ او په نبوي مسجد کې د

سړیو او ښځو تر منځ کومه پرده د دیوال یا لرګیو نه وه او په اول وخت کې چې به نارینه او ښځینه په هره دروازه راپیښ شول، نو په هماغه باندې به جومات ته راننوتل او طبیعی ده چې یو قسم ګڼه ګوڼه به منځ ته راتلله، نو رسول - ﷺ - وفرمایل: (چې دغه فلانۍ دروازه ښځو ته ځانګړې کړئ) نو هماغسې وشول، څرنګه چې رسول - ﷺ - وفرمایل او تر نن تاریخه پورې نبوي مسجد کې په (باب النساء) یادیږي.

د جمعې د لمانځه او خطبی د اوریدلو لپاره به زنانه نبوي مسجد ته راتللی، آن تر دې پورې چې د بعضو منظم ورتګ د دی سبب شو، چې سورت (ق) په یادو حفظ کړي، هغه دا چې د رسول الله - ﷺ - نه به یې د منبر له پاسه هر وخت اوریدلو او زنانه وو به د اختر په لمونځونو کې هم پوره برخه اخیستله او په دغه لویه اسلامې میله کې به یې ګډون کولو، په کومه کې به چې وړو، زړو، نارینه او زنانه و په یوه لویه دښته کې سره راټولیدل او د تکبیر او تهلیل اوازونه به یې اوچتیدل. امام مسلم روایت کوي: د حضرت ام عطیة رضی ا الله عنها نه چې هغې فرمایلی: (مونږ ته امر شوی، چې د اختر لمونځو ته ووځو او پیغلې به مو هم له ځان سره ویستلې)

بله دا چې ښځې به د درس ځایونو او د رسول الله - ﷺ- علمې حلقو کې حاضرې وې، تر دې پورې چې بي بي عائشه رضی الله عنها له دې کبله د انصارو د ښځو ستاینه کړې ده او داسی یې فرمایلي دي: (د الله رحمت دی وي د انصارو په میرمنو خپلی حیا له دی نه منعې نه کړې، چې په دین کې پوهه او علم حاصل کړي او رسول ﷺ نه به یې د جنابت، احتلام، غسل، حیض، استحاضې او نفاس په باره کې پوره معلومات حاصلول او په علم او عرفان باندې د لا مړیدلو لپاره د رسول ﷺ - څخه یې غوښتنه وکړه، چې یوه ورځ ورته وټاکې، تر څو زده کړه ترې وکړي او داسی یې ورته وویل: چې ای د الله رسوله! ټوله توجه او پاملرنه دې نارینوو ته شوی او ډیر څه یې درنه حاصل کړل، نو مونږ ته هم یوه ورځ وټاکه چې علم او زده کړه وکړو، نو هغه دا وه چې رسول - ﷺ - یوه ورځ ورته وټاکله او وعظ او نصیحت به یې ورته کولو.

او دا ونډه لا نوره هم زياته شوه تر دې پورې چې ښځو د جنګ په ميدان کې د خپلو مجاهدينو ورونو سره اوږه په اوږه برخه واخيسته او د هغوی لپاره يې خوراک، طبي امداد، د مجاهدينو د زخميانو خدمت اوبه راوړل او نور انساني کارونه سرته رسول.

امام مسلم د انس رضی الله عنه نه روايت کوي، چې هغه فرمايلي: ( د احد په غزا کې حضرت عائشه او ام سليم - رضي الله عنهما- به مشکونه په خپلو شاګانو راوړل او د مسلمانانو د لښکر مجاهدينو ته به يې اوبه ورکولې او د ام المؤمنين عائشه موجوديت په دې جنګ کې، چې د خپل عمر مبارک په دويمه لسيزه کې وه، دا يو قاطع دليل دی چې په جنګ کې ګډون د زړو ښځو او ځوانو ښځو دواړو لپاره و.

امام احمد بن حنبل روايت کوي: (شپږ ښځې د مسلمانانو له هغه لښکر سره وې، چې خيبر يې محاصره کړی و. چا به غشي ورکول، چا به ستوان په مجاهدينو څښل، چا به هم د زخميانو د ټپونو درملنه کوله او وړی به يې وريشلې او د الله تعالی په لار کې به يې کومک کولو او رسول - ﷺ - ورته په غنيمت کې خپله ونډه ورکړه. (مسند احمد ۱/۱۹۱(۱٦٦۱)

بلکه دا هم ثابته ده، چې د اصحابو کرامو ميرمنو په ځينو جنګونو کې په عملي توګه توري په لاس برخه اخيستې ده او په دې لړ کې د أم عمارة نسيبه بنت کعب قصه مشهوره ده، کومه ميړانه چې هغې د احد په جنګ کې ښودلې وه، آن تر دې پورې چې رسول - ﷺ - يې په هکله وفرمايل: (د أم عماره برخه اخيستنه له فلان او فلان نه ډيره غوره وه.) د أم سليم سره د حنين په غزا کې خنجر و او کوم کافران به چې ورته رانږدې کېدل، د هغوی خيټې به يې پرې سورې کولې.

د يوې مسلمانې ميرمن سرښندنه په جنګ او جګړه کې صرف د عربو تر ټاټوبی پورې محدوده پاتې نه ده، بلکه په نړيواله سطحه باندې هم د اسلام خپرولو لپاره يې ډير څه کړي دي، چې تاريخ پرې وياړي او زمونږ لپاره د لارې مشال دی.

# څلورم څپرکی

**د قوامیت لاملونه:**

علماو کرامو د سړي پر ښځه د قوامیت لاملونه درې یاد کړي دي:

۱- د عقل کمال او ښه تدبیر: امام القرطبی لیکي: سړو ته الله تعالی د عقل او تدبیر کمال ورکړی دی، نو ځکه یې پر ښځو قوام کړي دي.

۲- د دین کمال: سړي ته د ټولو فرایضو د اداء کولو صلاحیت ورکړل شوی دی او ښځه د ځینو عوارضو له امله د ځینو فرایضو اداء کولو نه محرومه شوې ده، لکه جهاد، په جماعت لمونځ، د جنازې لمونځ، د حیض او نفاس پر مهال د لمونځ او روژې څخه محرومیت، د حج او عمرې لپاره د محرم ضرورت.

۳- په مهر او نفقه کې د مال ورکول: شریعت میړه خپلې میرمنې ته د مهر په ورکولو او د نفقې په ورکولو مکلف کړی دی. که میرمن شتمنه هم وي، مهر او نفقه یې په میړه فرض ده.

یوي اړینې ملاحظې ته مو توجه راګرځول غواړم، هغه دا چې په آیت کریمه کې د سړیو جنس ته د ښځو پر جنس  غوره والی ورکړل شوی، نه دا چې هر یو سړی د هرې یوې ښځې نه غوره دي، ځکه داسې ښځې شته چې د خپلو میړونو نه په علم، دینداری، کاراو نظر کې بهترې دي، نو له همدې امله قرآني تعبیر کې ( بعضهم علی بعض) راغلی ( د ځینو په ځینو باندې) داسي یې نه دي ویلي ( بتفضیلهم علیهن)( د پهتر والی د دوی نه په هغوی باندې (اسلام ویب ۱۲/۲/۲۰۰۱م)

# پنځم: ښځې

## د قوامیت موخې:

۞ د میرمنې پالل او اړتیاوې یې پوره کول:

الله تعالی فرمایلی دي: (الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ..) (سورت النساء،۳۴ آیت)

**ژباړه:** سړي حاکمان (مقررشوي) دي پر ښځو باندې په سبب د دې چې فضلیت (غوره والی) ورکړی دی الله ځینې د دوی ته پر ځینو نورو باندې او په سبب د دې چې نفقه (لګښت) کوي دوی (پر دغو ښځو) له مالونو خپلو.

امام القرطبی وایي: چې سړي خپلو میرمنو ته نفقه ورکوي، ساتنه او حمایت یې کوي. (تفسیر القرطبی۵/۱٦۸)

الله تعالی فرمایلی دي: (وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۚ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا ) (سورت النساء،۱۹ آیت)

**ژباړه:** او ګزران کوئ تاسې (ای میړو) له دې (ښځو) سره په نیکې طریقې سره! پس که خوښې نه وي ستاسې دا ښځې نو (صبر وکړئ) ښایې چې نه به خوښوئ تاسې یو شی حال دا چې ګرځولی به وي الله په دې شي کې خیر ډېر.

امام ابن کثیر وایې: څومره چې توان لرئ، ښایسته وینا او کړنه ورسره وکړئ او خپل ظاهري بڼه هم ښه کړئ، لکه څنګه چې ته ترې نه هیله لرې، هماغه شان تعامل ورسره وکړه. د رسول الله ﷺ د اخلاقو نه دا و، چې تل به یې ښه تعامل کولو، مسکی به و او خپلو میرمنو سره به یې ټوکې کولې.(۴٦۷/۱ تفسیر ابن کثیر)

الله تعالی فرمایلی دی: (وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ، وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ، وَاللهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ) (سورت البقرة، ۲۲۸ آیت).

**ژباړه:** او شته دی ښځو لره (حقوق پر میړونو باندې په شان د هغو (حقوقو) چې په دوی (د خاوندانو) په معروف (ښه وجه) سره او شته نارینه و لره په دې ښځو باندې بهتروالی (فضیلت) او الله ښه غالب (د احکامو په انفاذ) او ډیر تدبیر والا دی (چې هر کار په حکمت او مصلحت سره کوي).

امام ابن قدامه وایې: د میړونو او میرمنو د حقوقو ترمنځ داسې ورته والی دی، چې یو د بل حق په ښه طریقه، ورین تندی او بې له غوښتلو ورکړي، په داسی حال کې چې بد یې ونه ګڼي. د بدو خبرو او منت ځای پکې نه وي او هر یو ته ښایې چې د بل سره نرمي او ښه سلوک وکړي او د صبر او زغم نه کار واخلي. (المغنی ۷/۲۲۳)

### ۞ په ښه ډول د میړه اطاعت کول:

مسلمانه میرمن د خپل میړه اطاعت د دین پر بنسټ په ځان فرض ګڼي او الله تعالی ته د ځان نږدې کېدو او د صالحینو په لست کې د شاملیدو ذریعه یې شمیرل، کورني ژوند ته ځانګړی اهمیت ورکوي او د مودت او رحمت د الفاظو تعبیر په عملي بڼه منځ ته راوړي.

۱- الله تعالی فرمایلی دی: ﴿الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ ۚ فَالصَّالِحَاتُ قَانِتَاتٌ حَافِظَاتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللَّهُ ۚ وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ ۖ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا﴾ (سورت النساء، ۳٤ آیت).

**ژباړه:** سړي حاکمان (مقررشوي) دي پر ښځو باندې په سبب د دې چې فضلیت (غوره والی) ورکړې دی الله ځینې د دوی ته پر ځینو نورو باندې او په سبب د دې چې نفقه (لګښت) کوي دوی (پر دغو ښځو) له مالونو خپلو؛ نو هغه ښځې چې نیکې دي حکم منونکې دي (د میړونو

خپلو) ساتونکي دي په غياب د مېړونو (خپلو کې د ځانونو خپلو او د خپلو مېړونو د کورونو، مالونو او اولادونو) په سبب د هغو شيانو چې ساتلي دي الله (دوی ته له حقوقو پر مېړونو)؛ او هغه ښځې چې ويرېږئ تاسې له سرکشی (بد گزرانی) ددوی نه، نو نصيحت وکړئ دوی ته او پرېږدئ تاسې دوی (خپلې شاوې ورته وگرځوئ!) په ځای د خوب (که په نصيحت سمې نه شوې) ووهئ تاسې دوی (که په بيلتون هم سمې نه شوې)، نو که اطاعت يې وکړ (غاړه يې کېښوده) تاسو ته، نو مه لټوئ تاسې پردوی باندې لاره (د ضرر او اذيت) بېشکه الله دی ډېر پورته (په غلبه او مرتبه کې) ډېر لوی (له ټولو شيانو)

٢- عن عبدالرحمن بن عوف قال: قال الرسول ﷺ: (إذا صلت المرأة خمسها، وصامت شهرها، وحفظت فرجها، وأطاعت زوجها، قيل لها: ادخلي الجنة من أي أبواب الجنة شئت) (أحمد في مسنده،١٩١/١(١٦٦١)

ژباړه: کله چې ښځه خپل پنځه وخته لمونځونه وکړي او د روژې مياشتي روژه ونيسې، خپل فرج او شرافت خوندي وساتي او د مېړه اطاعت وکړي، نو د جنت له هرې دروازې څخه چې وغواړي، جنت ته به ننوزي.

٣- عن أبی هريرة: سئل الرسول صلی الله عليه وسلم أی النساء خير؟ قال: (التی تسره إذا نظر، وتطيعه إذا أمر ولا تخالفه فيما يكره في نفسها وماله (مسند أحمد ٢٥١/٢،(٧٤١٥)

**ژباړه**: رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه، کومه ښځه ښه ده؟ ويې فرمايل:

د ښځو نيکه او ښه ښځه هغه ده، چې کله هغې ته گورې تا خوشحاله کړي او کله چې هغې ته د څه امر وکړې هغه اطاعت کوي او کله هم د خپل ځان او ستا مال کې داسی تصرف نه کوي، چې ستا خوښ نه وي.

### ۞ د خاوند له اجازی پرته د کور څخه د ښځې نه وتل:

الله تعالی په قرانکريم کې فرمايلي دي: ﴿وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ ۖ وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا﴾ (سورت الاحزاب،٣٣ آيت)

**ژباړه:** او قرار ونیسئ (ای ښځو!) په کورونو خپلو کې او مه ښکاره کوئ ( ښایست خپل بیگانه سړیو ته) په شان د اظهار (او ښایست) د جاهلیت (د ښځو) لومړنیو او سم ودروئ لمونځ (چې د بدني عباداتو اصل دی) او ورکوئ زکات (چې د مالي عباداتو اصل دی) او (تل) اطاعت کوئ د الله او د رسول د دغه (الله) بیشکه همدا خبره ده چې اراده لري الله د دې چې لرې کړي له تاسې گناه ای اهل البیت ( کورنۍ د محمد رسول الله) او چې پاك کړی تاسې (له گناه) په پاکوالي.

د پورتنی آیت شریف څخه څرگنده ده، چې ښځې باید د خاوند له اجازې پرته هیڅ چېرته هم لاړې نه شي او باید په خپلو کورونو کې و اوسي.

همدارنگه علماء کرام وایې: د ښځې لپاره نه ده روا چې د خپل میړه له اجازې پرته له کور څخه د باندې ووځي او که ووته، نو گناهگاره ده او د عذاب مستحقه گرځي.

خو هوښیار، عاقل او با احساسه خاوند باید دا درک کړي، چې، کور د زندان حیثیت نه لري، باید دوی خپلو میرمنو ته اجازه ورکړي، تر څو د مور، پلار او خپلو خپلوانو لیدلو ته لاړې شي.

ډیر فقهاء په دې متفق دي، چې ښځه باید د میړه بې اجازې له کوره ونه وځي. (مغنی المحتاج ۴۳۷/۳. المغنی ۲۲۴/۷.الدرالمختار ۱۴۵/۳. الکافی ۲۵۷/۱)

جمهور فقهاء احناف، مالکیه او شافعیه وایې چې ښځه د عذر له امله د میړه بې اجازې له کوره وتلی شي، لکه د والدینو لیدنه او د قضاء پواسطه د خپل حق غوښتنه. (الدر المختار۱۴٦/۳. مواهب الجلیل۱۸٦/۴.مغنی المحتاج ۴۳۷/۳)

### ۞ د بل چا بچي ته د شېدو ورکولو اجازه اخیستل:

که کله ښځه خپل بچي ته چې د بل میړه څخه دی شیدی ورکول وغواړي، باید چې له میړه څخه اجازه واخلي، ځکه د دې وخت د میړه سره په خوند اخیستلو مصروف دی او د بچي رضاعت په دې خوند اخیستلو کې خلل واقع کوي. (الفتاوی الهندیة،۴۳۲/۴. المغنی ۱۹۸/۸. مغنی المحتاج ۴۵۰/۳)

که حالت اضطراري و، هغه دا چې د نفس د هلاکت امکان و، نو بیا د میړه اجازې، ته ضرورت نشته، ځکه د نفس ساتنه فرض ده. (المغنی ۱۹۸/۸)

### ۞ د خاوند له اجازې پرته څوک کور ته نه راوستل:

څلور واړه فقهي مذهبونه په دې متفق دي، چې میرمنه د میړه له اجازې پرته څوک کور ته نه شي دننه کولی. (عمدة القارئ ۱۸۵/۲۰.اکمال المعلم ۱۹۱/۳،شرح النووی علی صحیح مسلم ۱۱۵/۷. کشاف القناع ۱۸۸/۵)

عن أبي هريرة أن رسول الله ﷺ قال: ( لا يحل للمرأة أن تصوم وزوجها شاهد إلا بإذنه، ولا تأذن في بيته إلا بإذنه) (رواه البخاري فی کتاب النکاح ۳۰/۷،الرقم (۵۱۹۵) ومسلم في كتاب الزكاة، رقم ( ۱۰۲۶)

**ژباړه:** د ښځې لپاره نه ده روا چې خاوند یې په کور کې وي او د خاوند له اجازې پرته نفلي روژه ونیسي، همدارنګه د ښځې لپاره جایز نه دي، چې د خاوند له اجازې پرته څوک کور ته ننباسي.

وعن جابر رضی الله عنه قال: قال الرسول ﷺ في حجة الوداع: (فاتقوا الله في النساء فإنكم أخذتموهن بأمان الله واستحللتم فروجهن بكلمة الله ولكم عليهن أن لا يوطئن فرشكم أحدا تكرهونه فإن فعلن ذلك فاضربوهن ضربا غير مبرح ولهن عليكم رزقهن وكسوتهن بالمعروف) (رواه مسلم ( ۱۲۱۸ )

**ژباړه:** جابر رضی الله عنه وایې رسول الله ﷺ په حجة الوداع کې وفرمایل: د ښځو په باره کې له الله تعالی څخه وویرېږئ، تاسې هغوی د الله تعالی په امان اخیستي دي او تاسې ته د هغوی شرمګا د الله تعالی په کلمه حلال شوي او ستاسې په هغوی باندې دا حقونه دي، چې هغوی به ستاسې فرشونه داسې چا ته نه غوړوي، چې تاسې یې بد ګڼئ (کوم څوک چې ستاسې خوښ نه وي، هغه بې اجازې کور ته نه ننباسي) که یې داسې وکړل، نو هغوی ووهئ، لږ وهل چې زخم کوونکي نه وي او همدارنګه د هغوی پر تاسې باندې دا حق دی، چې هغوی ته به په ښه شان نفقه او استوګنځی برابروئ.

### ۞ د مېړه له اجازې پرته بهر کار نه کول:

د نکاح یو هدف دا دی، چې نر او ښځه په مشروع ډول یو له بل څخه خوند واخلي او خپل شهوت پوره کړي، که خاوند له خپلې ښځې څخه شهوت پوره کول وغواړي، نو ښځه به له عذر پرته د هغه څخه مخ نه اړوي، عذر لکه: مرض چې هغې ته تکلیف رسوي، یا حیض، نفاس، احرام او روژه...

نو بهر کار کول ورته د مېړه له اجازې پرته جواز نه لري، په دی خبره آکثر فقهي مذاهب متفق دی. (فتاوی هندیه ۴۳۲/۴. کشاف القناع ۱۹۶/۵. منح الجلیل ۴۶۷/۷. الخرشی ۱۳/۷)

قال رسول الله - ﷺ - (إذا الرجل دعا زوجته لحاجته؛ فلتأته وإن كانت على التنور) ( الترمذي ١١٦٠، صحيح الترغيب ١٩٤٦)

یعنې: کله چې خاوند خپله ښځه د خواهش پوره کولو لپاره را وغواړي، نوهغې لره راتلل پکار دي، اگر که د تنور ډوډۍ پخولو په کار مصروفه هم وي.

همدارنگه رسول الله ﷺ فرمايي: (إذا دعا الرجل امرأته إلى فراشه فأبت فبات غضبان عليها لعنتها الملائكة حتى تصبح) (رواه البخاري ( ٣٠٦٥ ) ومسلم ( ١٤٣٦ )

یعنې کله چې مېړه خپله ښځه د کوروالي (جماع) د پاره راوبولي او هغه ورنه شي او خاوند په غصه کې شپه سبا کړي، ملائکې تر سبا پورې پر هغې باندې لعنت وايي.

### ۞ د میرمنې تأدیب:

څرنگه چې مېړه د کور مشر او مسئول دی، خپل اهل اوعیال ته به په نیکو کارونو امر کوي او له بدو کارونو به یې منع کوي.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلاَةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا... ﴾ (سورت طه، ١٣٢آیت)

**ژباړه:** اهل ته مو په لمانځه کولو امر کوئ او خپله یی هم په صبر سره کوئ.

الله تعالی فرمایي: ﴿یا أیها الذین آمنوا قوا أنفسکم وأهلیکم ناراً وقودها الناس والحجارة﴾ (سورت التحریم، ٦آیت).

**ژباړه:** ای مؤمنانو خپل ځانونه او خپل اهل اوعیال له هغه اور څخه چې خس یې انسانان او ډبرې دي؛ وساتئ.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ الله عَنْهُمَا يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ: «كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، الإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي أَهْلِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا وَمَسْئُولَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا، وَالْخَادِمُ رَاعٍ فِي مَالِ سَيِّدِهِ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ». (بخاری:۸۵۳).

**ژباړه:** هر یو د تاسې راعی (ساتونکې) دی او هر یو د تاسې د خپل رعیت (لاس لاندې کسانو) په برخه کې مسئول دي (د رعیت په اړه به له ده څخه پوښتنه کیږي). د ټولنې رهبر د خپل رعیت شپون او د خپل رعیت مسئول دی. سړی د خپل کور د اهل مسئول دی، ښځه د میړه په کور کې د خپل اولاد مسئوله ده، خادم د مالک په مال کې ساتونکې دی او په دغه باره کې مسئول دی.

که کله ښځه سرکشي وکړی، د میړه روا حقوق نه پر ځای کوي، میړه کولي شي چې هغې ته د قرآن کریم د لارښوونو په رڼا کې تأدیب ورکړي.

الله تعالی فرمایلي: ﴿ وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ ۖ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا﴾ (سورة النساء، آیت)

**ژباړه:** اوهغه ښځې چې ویریږئ تاسې له سرکشۍ (بد گزرانی) ددوی نه، نو نصیحت وکړئ دوی ته اوپریږدئ تاسې دوی (خپلې شاوې ورته وگرځوئ!) په ځای د خوب (که په نصیحت سمې نه شوې) ووهئ تاسې دوی (که په بیلتون هم سمې نه شوې)، نو که اطاعت یې وکړ (غاړه یې کېښوده) تاسو ته، نو مه لټوئ تاسې پر دوی باندې لاره (د ضرر او اذیت)، بېشکه الله دی ډیر پورته (په غلبه اومرتبه کې) ډیر لوي (له ټولو شیانو).

د تأديب په ترتيب سره دري مرحلي دي:

**لومړي:** نصيحت

**دويم:** بستره بيلول

**درېيم:** په احتياط سره داسې وهل چې زخمي كوونكي او ډير دردونكي نه وي.

دا د ميړه او د كور د مشر مسئوليت دی، چې خپل اهل اوعيال ته د دين ضروري احكام وښيې او همدارنگه هغوی ته په نيكو كارونو امر وكړي او له بدو كارونو يې منع كړي. (تفسير ابن كثير ۳۹۲/۴)

عن عبد الله بن زمعة رضي الله عنه أن الرسول ﷺ قال: (لايجلد أحدكم امرأته جلد العبد ثم يجامعها في آخر اليوم)(بخاری۵/۱۷۹۷.(۴۹۰۸)

**ژباړه:** تاسي خپلې ميرمنې د غلامانو په څير مه وهئ او بيا ورسره د ورځی په پای كې كوروالی كوئ.

د ښځو وهل او بيا ورسره جماع كول ناروا كار دي، هغه چې رسول الله ﷺ ترې نه منع كړې ده. ښه به دا وي چې له وهلو نه په هرحال كې ډډه وشي، ځكه په مينی او محبت ژوند تيرولو لپاره صبر او تحمل اړين دي. (المبدع۷/۲۱۵)

عن عائشة رضي الله عنها قالت: (ما ضرب رسول الله ﷺ شيئاً قطُّ بيده، ولا امرأةً، ولا خادماً، إلا أن يجاهد في سبيل الله، وما نيل منه شيء قطُّ فينتقم من صاحبه إلا أن يُنتهك شيء من محارم الله، فينتقم لله تعالى) (رواه مسلم (۲۳۲۸)

**ژباړه:** هيڅکله رسول الله ﷺ کوم شی په لاس نه دی وهلي، نه ښځه او نه خادم، مگر دا چې د الله په لار کې جهاد وي او هيڅکله يي هم د شي په بدل کې د چا څخه انتقام نه دی اخيستي، مگر دا چې د الله تعالی له خوا د ټاکل شوو پولو (محارمو) سپکاوي وشي، نو بيا يې د الله تعالی لپاره بدل اخيستی دی. (البخاري، (٤/ ٩٤)، رقم: (٣١٤٩)، ومسلم، (٢/ ٧٣٠)،رقم(١٠٥٧)

د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه د (الضرب غير المبرح)(نه دردوونکې وهلو) په هکله پوښتنه وشوه، هغه وفرمايل: (السواک وشبهه يضربها به) په مسواک او يا د هغې په څير بل شي باندې وهلو ته وايې. (ابن جرير الطبری ٦٨/٥)

# شپږم څپرکی

## پر مېړه د مېرمنې حقوق:

### ۱- مالي حقوق:

مېړه شرعا مکلف دی، چې خپلې مېرمنې ته د ژوند اړتیاوې پوره کړي، لکه مهر، نفقه، استوګنځی، لباس، علاج او داسي نور، دا د دې لپاره، چې مېرمن مېړه ته فارغه وي او بې عذره د ده د استمتاع او خوند اخیستلو مانع نه شي.
په لاندې ټکو کې د مېړه له خوا مېرمنې ته د برابر شویو اسانتیاوو یادونه کوو:

۱- مهر: مهر هغه مال دی، چې خاوند یې د عقد نکاح پر مهال خپلې مېرمنې ته ورکوي او دا پر خپل خاوند باندې د مېرمنې واجب حق دی.
الله تعالی فرمایي: ﴿وآتوا النساء صدقاتهن نحلة﴾ (سورة النساء،۴آیت)
**ژباړه:** او ښځو ته د دوی مهر په خوښۍ او رضا ورکړئ.

که د نکاح د عقد په وخت کې مهر نه وي ټاکل شوی، نو بیا مهر (مثل) ورکول لازمیږي.
۲- نفقه: د اسلامي امت د علماوو په دې باندې اتفاق دي چې د ښځې نفقه پر مېړه باندې فرض ده، ځکه چې د نفقې پیدا کولو لپاره د کور څخه د باندې وتل د نارینه مسئولیت دی، نه د ښځې او مېړه به خپلې ښځې ته د خپل اقتصادي توان موافق نفقه برابروي.

الله تعالی فرمایي: ﴿وعلى المولود له رزقهن وکسوتهن بالمعروف﴾ (سورة البقرة،۲۳۳آیت)

**ژباړه:** په دې صورت کې به د ماشوم پلار هغوی (مور او ماشوم) ته په ښه توګه خواړه او جامې ورکوي.

او الله تعالی فرمایي: ﴿لینفق ذو سعة من سعته و من قدر علیه رزقه فلینفق مما آتاه الله﴾ (سورت الطلاق،۷ آیت)

**ژباړه:** توانا خاوند ښايي د خپل توان په اندازه نفقه ورکړي او په هر چا چې روزي تنگه شوه، نو د هغه څه نه چې الله تعالی ورکړي دي؛ نفقه دي وکړي.

عائشه رضی الله عنها روايت کوي چې «أنَّ هند بنت عتبة قالت: يا رسول الله إنَّ أبا سفيان رجل شحيح، وليس يعطيني ما يكفيني وولدي إلاَّ ما أخذت منه وهو لا يعلم، فقال: خذي ما يكفيك وولدك بالمعروف» (البخاری ۳۸۲۵)

ژباړه: هند د ابوسفيان ميرمن وويل: ای د الله رسوله! ابوسفيان يو بخيل سړی دی او ماته دومره شی چې د ځان او اولاد مې کفايت ورباندې وشي، نه راکوي، مگر څه چې زه يې د هغه له مال څخه په پټه اخلم هغه ور باندې نه پوهيږی، رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه څه چې د ستا او ستا د اولاد له پاره کفايت کوي او اسراف پکې نه وي واخله، ولو که هغه ورباندې پوه نه شي، ځکه د ښځې او اولاد نفقه پر خاوند واجبه ده.

خپلې ښځې او اولاد ته د نفقي برابرولو د فضيلت په اړه رسول الله ﷺ فرمايي:

(دِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ في سَبيلِ اللهِ، وَدِينار أَنْفَقْتَهُ في رَقَبَةٍ، وَدِينارٌ تَصَدَّقْتَ بِهِ عَلَى مِسْكِينٍ، وَدِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ، أَعْظَمُهَا أَجْراً الَّذِي أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ) (رواه مسلم (۹۹۵)

**ژباړه:** يو هغه دينار دی، چې د الله ﷻ په لار کې صدقه شي، بل هغه دينار دی چې غلام پرې آزاد شي او بل هغه دينار دی، چې په مسکېن باندې صدقه شي او بل هغه دينار دی، چې په خپل اهل خرڅ شي، تر ټولو د هغه اجر زيات دی، کوم چې د خپل اهل لپاره نفقه او خرڅ شي.

په پورته حديث شريف کې غوره خرڅ د خپل اهل عيال د نفقې د پاره مصرف ښودلی دی.

رسول الله ﷺ فرمايي: «إِذَا أَنْفَقَ الرَّجُلُ عَلَى أَهْلِهِ يَحْتَسِبُهَا فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ». (البخاری:۵۵)

**ژباړه:** که څوک د ثواب پــه نيت په خپل اهــل او عيال خـرڅ وکـړي د هغـه دا نفــقه کـول صدقــه شميرل کيږي.

**۳- استوګنځی:**

خاوند به خپلې میرمنې ته د خپل اقتصادي توان موافق استوګنځی برابروي چې کم یې ځانته اتاق برابرول دي.

الله تعالی فرمايي: (أسكنوهنَّ من حيث سكنتم مِن وُجدكم ولا تُضاروهن) (سورت الطلاق، ٦آیت)

**ژباړه:** دوی په هغه ځای کې چې تاسې په خپله اوسیږئ، د خپل وس په اندازې استوګنځی ورته برابر کړئ او دوی ته ضرر مه رسوئ.

**۲-غیر مالي حقوق**

**د میرمنې پر خاوند غیر مالي حقوق:**

**الف -: د میرمنو تر مینځ د عدل ساتل:**

که د شرایطو برابریدو په صورت کې څوک دویم واده وکړي، نو په نفقه، سلوک او مسکن کې به د هغوی تر مینځ عدل کوي.

**ب -: ښه سلوک کول:**

خاوند به د خپلې میرمنې سره تر خپله وسه نیک سلوک کوي او د هغې پر وړاندې به مهربانه چلند کوي. قرآنکریم د میرمنو سره د ښه سلوک کولو امر کړی دی: ﴿وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا﴾ (سورت النساء، ۱۹آیت)

ژباړه: او له هغی سره په ښه طریقه ژوند تیر کړئ، بیا که هغه ستاسې (په څه وجه) خوښې نه وي، نو کېدی شي چې یو شی ستا خوښ نه وي، خو الله جل جلا له په هغه کې (ستاسو) لپاره ډیره څه ښیګڼه ایښې وي.

نو یو انسان خو به خامخا یو څه نیمګړتیاوي لري؛ مثلاً: که کومه ښځه په رنګ کې کمزورې وي، نو شاید بل اړخ ته یوه ډیره دینداره او نیک خویه وي، چې د خپل خاوند د دنیا او آخرت د نیکبختۍ سبب وګرځي.

عن أبي هريرة رضي الله عنه أن الرسول ﷺ قال: (أكمل المؤمنين إيمانا أحسنهم خلقا . وخياركم خياركم لنسائهم) (الترمذي ١١٦٢)

**ژباړه:** د ایمان په اعتبار سره تاسو کښې کامل ایمان والا هغه څوک دی، چې د هغه اخلاق او خوی ښه وي او تاسې کې بهترین اوغوره هغه دی، چې د خپلی میرمنې سره یی سلوک ښه وي.

(وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ الله عَنْهَا قَالَتْ: بَيْنَا أَنَا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ مُضْطَجِعَةٌ فِي خَمِيصَةٍ، إِذْ حِضْتُ، فَانْسَلَلْتُ، فَأَخَذْتُ ثِيَابَ حِيضَتِي، قَالَ: «أَنُفِسْتِ»؟ قُلْتُ: نَعَمْ، فَدَعَانِي، فَاضْطَجَعْتُ مَعَهُ فِي الْخَمِيلَةِ). (البخاری: ۲۹۸).

د مؤمنانو مور ام سلمه رضی الله عنها وايې: د رسول الله ﷺ سره په یوه څادر کې ویده وم، چې حایضه شوم، په کراره مې ځان بیرون کړ او د حیض جامې مې واغوستلې، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه؟ ایا حایضه شوې؟ ومې ویل: هو، بیا یې زه ور وغوښتم او له هغه سره په هماغه څادر کې ویده شومه.

مطلب دا چې، د ښځې سره د حیض او نفاس په موده کې خوړل، څملاستل او نور ټول روا دي، یوازې جماع کول حرام دی. د جاهیلت په دور کې به چې کله ښځې حایضې یا نفاسې شوې له هغوی څخه به لرې کېدل او کرکه به یې ورڅخه کوله.

**ج -: میرمنې ته ضرر نه رسول:**

دا د اسلام اصل دی چې هیڅ څوک به چا ته ضرر نه رسوي، رسول الله ﷺ فرمايې: ( لاضرر و لا ضرار فی الإسلام ) (ابن ماجه، الرقم ۱۹۰۹)

**ژباړه:** په اسلام کې ځان او بل ته ضرر رسول نشته.

ښځې ته به بدنې، لفظې ضرر نه رسوي او د ښځې خپلوانو سره به داسې چلند نه کوي، چې دا وربانديې وځوريږي، بلکه نیک چلند به کوي.

د خاوند باید دې ټکي ته پام وي، چې د ښځې لپاره پلارګنۍ خاص اهمیت لري او د ښځې د ډاډه، تسل او څو ورځو تیرولو همدا یوه دروازه ده. پام کوه دا دروازه د هغې پر مخ و نه تړي! پام کوه د هغوی سره بد چلند ونه کړې، چې د ښځې د ځور او خفګان سبب شي.

په هغه صورت کې چې چې خدای مه کړه ښځه بې لارې ته بدې ووهي، نو په ځینو حالاتو کې میړه چې د ښځې مشر او مسئول بلل کیږي، د هغې د اصلاح لپاره څه لږ بدني تأدیب ورکولی شي.

عن جابر بن عبد الله رضی الله عنهما قال: قال الرسول ﷺ في حجة الوداع: "فاتقوا الله في النساء فإنكم أخذتموهن بأمان الله واستحللتم فروجهن بكلمة الله ولكم عليهن أن لا يوطئن فرشكم أحدا تكرهونه فإن فعلن ذلك فاضربوهن ضربا غير مبرح ولهن عليكم رزقهن وكسوتهن بالمعروف " ( رواه المسلم ۱۲۱۸)

**ژباړه:** د ښځو په باره کې له الله ﷻ څخه وویریږئ، تاسې هغوی د الله ﷻ په امان اخیستې دي او تاسې ته د هغوی شرمګاه د الله جل جلا له په کلمه حلاله شوې ده او ستاسې په هغوی باندې دا حق دی، چې ستاسې فرشونه به داسې چا ته نه غوړوي، چې تاسې یې بد ګڼئ (کوم څوک چې ستاسې خوښ نه وي، هغه بې اجازې کور ته نه ننباسي) که داسې یې وکړل، نو هغوی ووهئ، لږ وهل چې دردوونکې او زخم کونکې نه وي او همدارنګه د هغوی پر تاسې باندې دا حق دی، چې هغوی ته به په ښه شان نفقه او استوګنځی برابروئ.

# اووم څپرکی

## آیا مېره د قوامیت نه تنازل کولاي شي؟

د کور مشري د مېره فرض او حق دی. آیا هغه ته روا ده، چې د دې حق نه بل چا ته تېر شي او یا د دې فرض په سرته رسولو کې تقصیر وکړي؟

د دې ځواب موندلو لپاره شرعي نصوصو او د علماء کرامو آراوو ته د لیدنې پر بنسټ شرعي حکم دا دي چې:

قوامیت د مېړه مطلق حق نه، بلکې شرعي مکلفیت دي، چې ده باندې د انفاق په مقابل کې فرض شوي دی. هغه نه شی کولی چې تنازل تری وکړي.

همدارنگه انفاق هم د مېړه اختیار نه، بلکې شرعی وجیبه ده، چې میرمنې او ماشومانو بچو باندې یې باید وکړي.

د قوامیت افضلیت د تشریف نه، بلکې د انسب اختیار دی، لکه ابوبکر الصدیق رضی الله عنه چې د خلیفه په حیث امت ته په خپل لومړي پیغام کې وفرمایل: «أیها الناس إني ولیت علیکم ولست بخیرکم» ای خلکو! زه ستاسي مشر وټاکل شوم، خو زه ستاسي څخه بهتر نه یم، ځکه مشري چې قوامیت یې هم یو ډول دی، هغه افضلیت ته چې د (خیریت) په معنی وي؛ اړتیا نه لري. (المصري الیوم, ۳۱/۳/۲۰۲۳.ویب سایټ)

**پایله:**

په دې کې شک نه شته چې انساني ټولنه د کورني نظام د جوړښت په هکله د ډیرو پړاوونو او تجربو نه تیره شوې، کله یو اړخ او کله بل اړخ ته پاملرنه زیاته شوې ده. د فطرت غوښتنی په شعوري یا غیر شعوري توگه د پامه غورځول شوي دي، نو ځکه د مادي پرمختگ په دې دور کې انساني ټولنه د داسې ناورین سره مخامخ ده، چې په علاج او حل کې یې د اختیار خاوند له خوا هیڅ غور نه کیږي، بلکې په دې هکله هر کوښښ ته د شک او دښمنۍ په سترگه گوري، ځکه داسې کړنې او بدلونونه د دوی موخې خطر سره مخ کوي، هغه چې غواړي، ښځې د سړیو په مقابل کې ودروي، د دوی تر منځ د مینې او محبت پر ځای د نفرت او کرکې فضا رامنځ ته کړي، تر څو وکړی شي، ښځې د خپلو شومو او حیواني مقاصدو لپاره استعمال کړي.

اسلامي شریعت چې کله د کورنۍ قوامیت سړي ته وسپارلو، د ښځې بنسټیزه دنده یې نه ده هیره کړې هغه د کور پالنه او د نسلونو تربیه ده، هغه په خپل کور کې د ملکې تاج په سر لري، میړه ورته د خادم په څیر نفقه، استوگنځی او لباس د توان په اندازه برابروي او د احترام او عزت مقام یې ورته تضمین کړی دی.

**د مهمو پایلو یادونه:**

۱- اسلام ښځو ته عزت او لوړ مقام ورکړی دی او د اسلامي ضوابطو پر اساس یې ورته ازادي تضمین کړې ده.

۲- د کورنۍ قوامیت د شریعت د حکم پر اساس سړي ته ورکړل شوی دی.

۳- سړي ته الله تعالی داسې صفات ورکړي دي، چې د قوامیت مستحق یې گرځولی دی.

۴- د کورنۍ قوامیت شرعي دنده ده، چې الله تعالی د ښځې د عزت او درناوي لپاره ټاکلې ده.

۵- د قوامیت د دندې معنی د سړي تسلط او د ښځې د حقوقو او په ژوند کې د هغې د رول کمزوی کول نه دي.

۶- الله تعالی چې کله د کورنۍ قوامیت سړي ته ورکړو، هغه یې مطلق العنان نه، بلکې په شرعي ضوابطو او احکامو یې مقید کړي، چې ظلم ته پکې ځای نه وي.

۷- د اسلام د دښمنانو له خوا چې کوم شبهات او زهرجن تبلیغات کیږي، دا د دوي د کرکې او اسلام سره د پخې دښمنۍ په سبب دي.

۸- په کورني کې قواميت د کورنۍ د ښه پاللو او په حکمت سره د اداره کولو په معنی دی.
۹-په کورنۍ کې قواميت سړي ته سپارل د کورنۍ د ثبات او نيکمرغۍ لامل دی.
۱۰ د کورنۍ قواميت د سړي په لاس کې ورکول په کورنۍ کې د ميرمنې مسئوليت او رول له منځه نه وړي، بلکې هغه په کورنۍ کې د هغې اړوندو کارونو بشپړ مسئوليت په غاړه لري.

**وړانديزونه:**

۱- د فرد، کورنۍ، ټولني او امت په ژوند کې د شرعي احکامو پلي کولو لپاره د شرعي علم پوهه اړينه ده.

۲- د نرو او ښځو پوهولو لپاره په هيواد کې د علمی مراکزو تاسيس او پياوړتيا ضروري ده.

۳- د افرادو او ټولنې د حقوقو د پلي کولو لپاره بايد با ثقافته باعلمه او متدين افراد و روزل شي.

۴- له واده څخه مخکې بايد ځوانانو ته د کورني ژوند په هکله لنډ مهاله منظم پروګرامونه داير شي.

۵- په کورنيو کې بايد په عملي توګه د والدينو په واسطه اولادونو ته د کورني ژوند په هکله روزنه ورکړل شي.

۶- په کورني ژوند کې قواميت د سړيو له خوا د شرعي اصولو په رڼا کې په کار واچول شي او هيڅکله د دې واکمنۍ څخه ناوړه استفاده ونه شي.

۷- د شرعي احکامو د مخالفت په صورت کې د عقوبت دوه اړخه دي: دنياوي عقوبت او اخروي عقوبت که کله هم کوم انسان د دنياوي عقوبت نه نجات مومي، بايد پوه شي چې اخروي عقوبت هم شته.

۸- په سمه توګه د قواميت اصل پلي کول، د سالمې او نيکمرغې کورنۍ په لور ښه پرمختګ دی.

۹- په کورني ژوند کې د ميړه او ميرمنې تر منځ په مينه او محبت ژوند تيرول د سالم نسل روزلو معنی لري.

۱۰- الله تعالی په قرآن کريم کې د زوجينو ترمنځ په مينه او رحمت(مودة ورحمة) باندې ټينګار کوي.

**د لغاتو پیژندنه:**

**قوام:** مسؤل، مشر، ساتونکی، پالونکی، اداره کوونکی، سمبالوونکی

**قیم:** هغه شخص ته ویل کېږی، چې د واکمنې محکمې د حکم له مخې هغه ته یو امر یا امرونه ورسپارل شوی وي او د هغو په نظم او اداره کې مسوول وي.

**قیمومیت:** له محجورو اشخاصو څخه په قانوني توګه استازیتوب کولو ته ویل کېږي، چې د واکمنې محکمې له خوا ټاکل کېږي.

**کورنی:** هغه ټولنیز واحد دی، چې د ښځې او نارینه تر منځ د واده له امله منځته راغلې وی.

**مهر:** هغه مالونه، نقود او خدمتونه دی، چې میرمنې ته یې د خاوند له خوا په عاجل او یا مؤجل ډول ورکول هغه مهال لازمیږی، چې میرمن یې تر صحیح نکاح لاندې راشي.

**نفقه:** د شرعی او یا هم قانون سره سم مستحق ته د خوراکي توکو، کالیو او د کور د نورو اړوندو څیزونو برابرولو ته وایې.

**تأدیب:** د قانون له احکامو سره سم، هغه نوع جزا ده، چې د صلاحیت لرونکي شخص له خوا د یومتخلف شخص د اصلاح یا سرزنش په موخه صورت مومی. (د حقوقی اصطلاحاتو قاموس: د چاپ کال ۱۳۸۷، ص: ۲۳۳،۲۸۴،۲۳٦،۴۷)

وصلی الله وسلم علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه ومن سار علی نهجه .

## مأخذونه:

١-قرآن كريم.

٢-الجصاص أحمد بن علي أبو بكر الرازي، آحكام القرآن، الطبعة: الأولى، ١٤١٥هـ/١٩٩٤م، حققه عبد السلام محمد علي شاهين،الناشر: دار الكتب العلمية بيروت - لبنان

٣- البغوي أبو محمد الحسين بن مسعود بن محمد بن الفراء الشافعي، معالم التنزيل في تفسير القرآن = تفسير البغوي، المحقق : عبد الرزاق المهدي، الطبعة : الأولى ، ١٤٢٠ هـ، الناشر : دار إحياء التراث العربي –بيروت.

٤-القرشي أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير،تفسير القرآن العظيم، الطبعة: الأولى - ١٤١٩ هـ المحقق: محمد حسين شمس الدين،الناشر: دار الكتب العلمية،بيروت.

٥-البخاري أبو عبد الله، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة ابن بردزبه، صحيح البخاري الطبعة الأولى ١٤٢٢ هـلدى دار طوق النجاة - بيروت،

٦- النيسابوري أبو الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري، الجامع الصحيح «صحيح مسلم»«طبعة مصححة ومقابلة على عدة مخطوطات،المحقق :محمد ذهني أفندي - إسماعيل بن عبد الحميد الحافظ الطرابلسي- أحمد رفعت بن عثمان حلمي القره حصاري ،الناشر: دار الطباعة العامرة – تركيا،عام النشر: ١٣٣٤ هـ،ثم صَوّرت وطبعت،الطبعة الأولى عام ١٤٣٣ هـ لدى دار طوق النجاة – بيروت.

٧- حنبل أحمد بن ،مسند الإمام أحمد بن حنبل،المحقق: شعيب الأرنؤوط وعادل مرشد،إشراف: د عبد الله بن عبد المحسن التركي،الناشر: مؤسسة الرسالة.

٨- الترمذي أبو عيسى محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك،سنن الترمذي،تحقيق وتعليق:أحمد محمد شاكر،ومحمد فؤاد عبد الباقي، وإبراهيم عطوة عوض المدرس في الأزهر الشريف،الناشر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي – مصر،الطبعة: الثانية، ١٣٩٥ هـ - ١٩٧٥ م.

٩- ابن ماجة أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني، سنن ابن ماجه،تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي،الناشر: دار إحياء الكتب العربية - فيصل عيسى البابي الحلبي.

١٠-النووي أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف، المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج،الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت،الطبعة: الثانية، ١٣٩٢هـ.

١١ العينى بدر الدين أبو محمد محمود بن أحمد، عمدة القاري شرح صحيح البخاري، إدارة الطباعة المنيرية، وصورتها دار إحياء التراث العربي، ودار الفكر) – بيروت.

١٢- الكاساني، علاء الدين أبو بكر بن مسعود، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع. ط٢.بيروت: دار الكتب العلمية ١٤٠٦هـ/١٩٨٦م .

١٣-البهوتي منصور بن يونس بن إدريس،راجعه وعلّق عليه: هلال مصيلحي مصطفى هلال - أستاذ الفقه والتوحيد بالأزهر الشريف،الناشر: مكتبة النصر الحديثة بالرياض، لصاحبَيها/ عبدالله ومحمد الصالح الراشد،الطبعة: بدون تاريخ طبع [لكن أرّخ ذلك د التركي في ١٣٨٨ هـ - ١٩٦٨ م

١٤- البرنهابوري نظام الدين برئاسته أعدتها جماعة العلماء، الفتاوى العالمكيرية المعروفة بالفتاوى الهندية، البلخي،بأمر السلطان: محمد أورنك زيب عالمكير،الطبعة: الثانية، ١٣١٠ هـ،الناشر: المطبعة الكبرى الأميرية ببولاق مصر (وصَوّرتها دار الفكر بيروت).

١٥- الشربيني شمس الدين، محمد بن محمد، الخطيب، مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج،حققه وعَلّق عليه: علي محمد معوض -عادل أحمد عبد الموجود،الناشر: دار الكتب العلمية،الطبعة: الأولى، ١٤١٥ هـ - ١٩٩٤ م.

١٦- الحصكفي محمد بن علي بن محمد بن علي بن عبد الرحمن، الدر المختار شرح تنوير الأبصار وجامع البحار المؤلف: الحنفي ،حققه وضبطه: عبد المنعم خليل إبراهيم،الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت،الطبعة: الأولى، ١٤٢٣ هـ - ٢٠٠٢ م.

١٧-المقدسي أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي، الكافي في فقه الإمام أحمد،الناشر: دار الكتب العلمية،الطبعة: الأولى، ١٤١٤ هـ - ١٩٩٤ م.

١٨- المغربي شمس الدين أبو عبد الله محمد بن محمد بن عبد الرحمن الطرابلسي المعروف بالحطاب الرُّعيني،مواهب الجليل في شرح مختصر خليل،الناشر: دار الفكر،الطبعة: الثالثة، ١٤١٢هـ - ١٩٩٢م.

١٩- المقدسى موفق الدين أبو محمد عبد الله بن أحمد بن محمد ابن قدامه، المغنى، الطبعة: الثالثة، ١٤١٧ هـ - ١٩٩٧ م المحقق: الدكتور عبد اللَّه بن عبد المحسن التركي، الدكتور عبد الفتاح محمد الحلو ،الناشر: دار عالم الكتب للطباعة والنشر والتوزيع، الرياض - المملكة العربية السعودية.

٢٠-السبتي أبو الفضل عياض بن موسى بن عياض بن عمرون اليحصبي ، شَرْحُ صَحِيح مُسْلِمِ لِلقَاضِى عِيَاض المُسَمَّى إِكمَالُ المُعْلِمِ بفَوَائِدِ مُسْلِم،المحقق: الدكتور يحْيَى إِسْمَاعِيل،الناشر: دار الوفاء للطباعة والنشر والتوزيع، مصر،الطبعة: الأولى، ١٤١٩ هـ - ١٩٩٨ م.

٢١- عليش محمد،منح الجليل شرح مختصر خليل، الطبعة: الأولى،: ١٤٠٤ هـ - ١٩٨٤ م الناشر: دار الفكر – بيروت.

٢٢- الخرشي أبو عبد الله محمد،شرح الخرشي على مختصر خليل: الطبعة: الثانية، ١٣١٧ هـ،الناشر: المطبعة الكبرى الأميرية ببولاق مصر،وصَوّرتها: دار الفكر للطباعة – بيروت.

٢٣- برهان الدين إبراهيم بن محمد بن عبد الله بن محمد ابن مفلح، أبو إسحاق،المبدع في شرح المقنع،الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان،الطبعة: الأولى، ١٤١٨ هـ - ١٩٩٧ م.

٢٤- الألباني محمد ناصر الدين، صحيح الترغيب والترهيب،الناشر: مكتبة المعارف للنشر والتوزيع، الرياض،الطبعة: الأولى، ١٤٢١ هـ - ٢٠٠٠ م.

٢٥- د حقوقى اصطلاحاتو قاموس: د چاپ كال ١٣٨٧.

٢٦- الطيب، د.أحمد شيخ الأزهر، مقالة نشرهاخالد مصطفي في ويب سايت:المصري اليوم, ٣١/٣/٢٠٢٣.

نویسنده: محمد قسیم شیرزاد

استاد دیپارتمنت قضاء وڅارنوالی پوهنځی حقوق و علوم سیاسی

استاد رهنما: دوکتور شفیق الله امین

# تفریق قضایی از منظر فقه اسلامی و حقوق افغانستان

# Judicial Separation from the Perspective of Islamic Jurisprudence and Afghan Law

## Abstract

Forming a marital life is one of the most important aspects of social life for human beings. For personal growth and fulfillment, as stated by Almighty Allah, humans require a partner of the same kind. Thus, marriage is an inseparable part of human life. While establishing a shared life is a necessary and crucial aspect of human existence, there are instances where it is essential to bring this shared life to an end, leading to separation and divorce. In such situations, the wise lawgiver has granted men the authority (divorce) to end the marriage if they are unable to continue the marital life with their wives. However, what should happen if the situation is reversed and the wife suffers in the marriage and can no longer tolerate the shared life? Since Islamic Sharia provides guidelines for all aspects of human life, based on credible jurisprudential evidence, there are instances where a woman can request judicial separation from the court. Upon fulfilling the necessary conditions and the presence of valid reasons, despite the husband's unwillingness, the judge may order a judicial separation between the spouses.

The reasons and causes that allow a woman to request judicial separation vary among Islamic jurists and schools of thought. According to Maliki jurisprudence, there are four grounds for judicial separation: defects, harm, failure to provide maintenance, and the husband's prolonged absence. Afghan civil law, following Maliki jurisprudence, has accepted these grounds. However, Hanafi jurists only accept the presence of defects in the husband as grounds for requesting judicial separation, rejecting the other reasons. Furthermore, judicial separation is sometimes considered equivalent to an irrevocable divorce (Talaq Baa'in) and at other times to a revocable divorce (Talaq Raj'i).

**Keywords: Judicial Separation, Husband, Wife, Adjudication, Jurisprudence, Law.**

**چکیده:**

تشکیل زندگی مشترک یکی از مهم ترین بخش‌های زندگی اجتماعی برای بشر می‌باشد. انسان برای تکامل همان گونه که الله متعال فرموده، نیازمند همسری از جنس خود می‌باشد بناء ازدواج بخش جدایی ناپذیر در زندگی انسان‌ها است. درعین اینکه تشکیل زندگی مشترک از مواردی لازم و ضروری زندگی می‌باشد، در مواردی نیز نیاز است که به این زندگی مشترک خاتمه داده و مفارقت و جدایی در زندگی بوجود آید. در این مورد شارع حکیم کلید جدایی (طلاق) را به در صورتی که مرد توان دوام زندگی با زوجه خود را نداشته باشد به دست و اختیار مرد قرار داده است، حال اگر موضوع برعکس باشد یعنی زوجه از زندگی با زوج متضرر گردیده و دیگر تحمل زندگی مشترک را نداشته باشد چیکار باید بکند؟ از آنجاییکه شریعت اسلامی برای تمامی ابعاد بشر دستورات و راهبرد هایی دارد، با توجه به ادله معتبر فقهی مواردی وجود دارد که زن می‌تواند از محکمه درخواست تفریق نماید و حاکم نیز با احراز شرایط و موجودیت سبب علی رغم میل شوهر، حکم به تفریق بین زوجین خواهد نمود. موارد و اسبابی که موجب درخواست تفریق توسط زوجه می‌گردد از منظر فقها و مذاهب متفاوت می‌باشد، از منظر فقه مالکیه چهار مورد؛ عیب، ضرر، عدم پرداخت نفقه و غیابت سبب تفریق می‌باشد، که قانون مدنی افغانستان نیز با پیروی از فقه مالکی همین موارد را پذیرفته است. اما نزد فقهای حنفی موجودیت عیب در زوج موجب درخواست تفریق بوده می‌تواند و سایر موارد آنرا نپذیرفته است. همچنان تفریق قضایی گاه در حکم طلاق بائن و گاهی در حکم طلاق رجعی بیان گردیده است.

**واژه‌های کلیدی:** تفریق قضایی، زوج، زوجه، حکم، فقه، قانون.

**مقدمه**

الحمد الله رب العالمین والصلاة و السلام علی محمد المبعوث رحمة للعالمین و علی آله و صحبه اجمعین.

ازدواج و تشکیل خانواده عقد و پیمان مقدس والهی است که بین زوج و زوجه بر اساس فطرت الهی و امر الله متعال صورت می گیرد، که این پیوند سبب آرامش، مودت و رحمت میان زوج و زوجه می گردد، چنانچه الله متعال در قرآن کریم بهترین تعبیری از ازدواج نموده و چنین فرموده است: ﴿وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَٰجًا لِّتَسْكُنُوٓا۟ إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ﴾ (سورة الروم/آیه ۲۱) ترجمه: و باز یکی از آیات (لطف) او آن است که برای شما از جنس خودتان جفتی بیافرید که در کنار او آرامش یافته و باهم انس گیرید و میان شما رأفت و مهربانی برقرار فرمود. در این امر نیز برای مردم بافکرت ادله‌ای (از علم و حکمت حق) آشکار است.

قسمیکه الله متعال فرموده است ازدواج موجب آرامش زوج و زوجه بوده و بین آنها رابطه محبت آمیز و با مودت ایجاد می‌نماید، زندگی مشترک در آغاز غالبا از میل جنسی ریشه می گیرد. ولی در این حد متوقف نمی‌شود و به تدریج به نوعی همبستگی عمیق روحی و عاطفی، اقتصادی و اجتماعی میان آن دو منتهی می‌شود.

در این رابطه الله متعال حقوق و واجبات برای طرفین تعیین نموده است، که با بجا آوردن این حقوق و واجبات توسط زوجین همانا هدف ازدواج متحقق می‌گردد در غیر آن نتیجه برعکس آن گردیده و زندگی مشترک به جهنمی تبدیل گردیده که ادامه رابطه زنا شویی بین زوجین را ناممکن می‌سازد. که اگر این حقوق از طرف زوجه بجا آورده نشود در این صورت شریعت به مرد اختیار کامل داده است تا به آسانی از زوجه خویش طلاق گرفته از او خود را رها سازد. ولی اگر حقوق و واجبات توسط زوجه بجا آورده نشود طوریکه زوجه از آن متضرر گردیده و دیگر تحمل کرده نتواند، در اینصورت آیا می‌تواند از این رابطه خویش را خلاص ساخته رها سازد؟ بلی زوجه می‌تواند در صورت که شرایط که در شرع بیان گردیده موجود باشد در پیشگاه محکمه درخواست تفریق (طلاق قضایی) نماید. چرا که دوام چنین رابطه‌ای در نخست سبب از

بین رفتن آرامش در خانواده گردیده و سپس به جامعه سرایت می‌کند. بناء دوام چنین رابطه‌ای که در آن زوج یا زوجه آرامش نداشته و به حقوقی که در شرع برایش مقرر گردیده است دست نیابد، نه در شریعت جواز داشته و نه از نظر عقلانی.

در این تحقیق حالات و مواردی از منظر فقه و قانون مدنی افغانستان که زوجه می‌تواند درخواست تفریق از مظهر قضا نماید بیان گردیده است.

**اهمیت و ضرورت تحقیق:**

تفریق قضایی یک پدیده‌ای است که همچو طلاق تاثیرات گسترده‌ای بر فرد و خانواده اش دارد که می‌تواند تاثیر عمیقی در جامع داشته باشد، آنچه که مهم است تفهیم و بیان تفریق قضایی و شرایط آن منحیث حق مشروع زوجه می‌باشد، چونکه افغانستان یک جامعه‌ای سنتی بوده و اکثر افراد بخصوص زنان از حقوق شرعی شان آگاهی ندارند و اکثرا با پیروی از عرف وعادات سنتی زندگی زجربار و پر از مشقت را تحمل نموده و از آثار آن بالای نسل بعدی بی خبر اند بناء این تحقیق می‌تواند یکی از حقوق مشروع آنها که حق درخواست تفریق از محکمه است را بررسی نمود، معنا و مفهوم و اینکه تحت چه شرایطی می‌توانند اقدام به این عمل نمایند را واضیح بیان نماید و از سوی دیگر این تحقیق می‌تواند در تفهیم اجرای حقوق زنان به بهبود روند قضایایی تفریق همکاری نموده و به بهبود سیاست‌های قضایی و اجتماعی مرتبط با تفریق قضایی با استفاده از دیدگاه‌های فقهی و تخصصی کمک و همکاری نماید.

**هدف تحقیق:**

هدف کلی از تحقیق هذا، مطالعه و بررسی معنا و مفهوم تفریق قضایی، مشروعیت آن شرایط آن از منظر فقهای کرام و جایگاه قانون مدنی افغانستان در مورد آن می‌باشد.

**پیشینه تحقیق:**

یافته های برخی تحقیق‌ها و مطالعات انجام شــده، مبین نقش و اهمیت تفریق یا متارکه قضــایی در پرتو فقه موجود است که بشکل تحلیلی بر موضوع تفریق اثر علمی داخلی و خارجی زیادی موجود است که بر تعداد اندکی آن شاره میکنیم همچون التفریق القضایی بین الزوجین ( ۱۴۲۵ – ۲۰۰۴ م ) عدنان علی النجار، الزواج و الطلاق فی الفقه الاسلامی ( ۱۴۱۶ هـ ) امام محمد کمال الدین، الاحوال اشـخصـیه (محمد ابو زهره) الفقه الاسـلامی و أدلته (۱۴۱۸هــــ – ۱۹۹۷ م ) وهبه زحیلی، الفقه علی المذاهب الاربعه (۱۹۶۹ م ) عبدالرحمن الجزیری، موجبات تفریق قضایی
( ۱۳۹۵ ) به موجبات طلاق از منظر فقه شــافعی و حنفی مورد بررســی قرار گرفته، و بر ســایر کتب حقوق فامیل نصــیر احمد فایز (۲۰۰۸ ) و حقوق فامیل افغانســتان ( ۱۳۸۸ )، نکاح و احکام آن در شریعت و قانون (۱۳۹۶ ه) عنایت ابراهیمی، فقه خانواده در جهان معاصر ( ۱۳۸۲ هــ ) وهبه زحیلی، حقوق فامیل (۱۳۸۹ هـ ) نظام الدین عبدالله، حقوق مدنی ( ۱۳۸۲ هـ) ناصر کاتوزیان، حقوق زوجه در برابر شوهر (۱۳۷۴ هــــ ) عبدالقادر عدالتخواه، نظام حقوق زن در اسلام (۱۳۶۷ هــــ ) مرتضی مطهری، اکثر این آثار یا به زبان عربی نوشته شده، است یا هم در مطابقت به قوانین ایران و در کتب هم به صورت جزء نوشته شده است و کدام اثر مجزا در افغانستان به رشته تحریر درآورده نشده است.

**روش تحقیق:**

روش استفاده شده در تحقیق هذا روش تحقیق کیفی (توصیفی و تحلیلی) است که نویسنده درصــورت نیاز مطالب را از نویســنده گان دیگر نقل و قول می کند ســپس به تجزیه و تحلیل میپردازد بر علاوه استفاده از نظریات دانشمندان در این راستا آنها مورد تجزیه و تحلیل قرارگرفته است و روش جمع آوری اطلاعات به شکل کتابخانه‌ای است.

**سازماندهی تحقیق:**

تحقیق هذا دارای دو فصل بوده که فصل اول شامل کلیات در مورد تفریق قضایی که شامل یک مبحث که در این مبحث تعریف لغوی و اصطلاحی تفریق قضایی، اسباب موجبه تفریق، ماهیت تفریق قضایی و مشروعیت تفریق قضایی بیان گردیده است. فصل دوم در مورد انواع تفریق قضایی که شامل هفت مبحث بود که عبارتند از: مبحث اول- تفریق به سبب عیب؛ مبحث دوم- تفریق به سبب ضرر؛ مبحث سوم- تفریق به سبب عدم انفاق؛ مبحث چهارم- تفریق به سبب غیابت و حبس؛ مبحث پنجم- تفریق به سبب ایلاء؛ مبحث ششم- تفریق به سبب لعان؛ مبحث هفتم- تفریق به سبب ارتداد و یا اسلام احد زوجین.

# فصل اول

## کلیات

### مبحث اول: تفریق قضایی (متارکه قضایی)

**۱- مفهوم تفریق قضـایی:** از آنجا که تفریق قضـایی ترکیب از دو کلمه اسـت و هر کلمه معنای خاص را افاده می نماید، بناء در نخسـت مفهوم و معنای تفریق، ثانیا معنا و مفهوم قضـا را به صـورت جداگانه مورد بحث قرار داده و سـپس تقریق قضـایی را از نظر فقها و علما مورد بحث قرار میدهیم.

**۱-۱: تعریف لغوی و اصطلاحی تفریق:** تفریق در لغت از مصدر « فَرَّقَ، والفَرْقُ» گرفته شده است که ضد جمع به معنایی جدا کردن، جدایی انداختن و از هم گسیختن است (دانشنامه حقوق خصوصی، ج۱: ۷۲۰). در اصطلاح، فقها می گویند در رابطه تعریف خاصی وجود ندارد زیرا تعریف لغوی دلالت به تعریف اصطلاحی آن نیز می نماید(التفریق القضایی بین الزوجین: ۴).

**۱-۲: تعریف لغوی و اصـطلاحی قضـا:** قضـا در لغت از مصـدر « قَضـی» به معنای بریدن و جدا کردن و همچنان به معنای حکم نیز آمده اسـت چنانچه الله متعال می فرماید: « وَقُضِـيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَقِيلَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ»{سوره الزمر/۷۵} ترجمه: و میانشان به حق حکم می گردد و گفته می شود حمد و ثنا خاص برای پروردگار جهانیان است. مقصود جدایی میان اهل بهشت و جهنم یا میان امت و فرستادگان شان است، و بر اساس آنچه سزاوار شان است حکم می شود. در اصطلاح قضا عبارت است از حکم کردن بین مردم به حق، یا حکم به آنچه که الله متعال نازل کرده است(التفریق قضایی بین الزوجین: ۵،۴). اما قضایی آنچیزی است که به قوه قضائیه نسبت داده میشود و از آن صادر می گردد.

**۳-۱: تعریف تفریق قضایی:** فقهاء تفریق قضایی را چنین تعریف نموده است:«عبارت است از انحلال رابطه زنا شویی بین زوجین به حکم قاضی به درخواست یکی از طرفین به سبب اختلاف نظر، ضرر، عدم انفاق، عدم رعایت شریعت اسلامی و زمانیکه یکی از زوجین مرتد شود»(همان: ۵).

در قانون مدنی افغانستان هم تعریف مشخصی از تفریق وجود ندارد ولی اگر به محتوای ماده های در مورد تفریق بنگریم که مصادیق آنرا بیان نموده میتوانیم تفریق را چنین تعریف نمایم، تفریق عبارت است از حکم به جدایی زوج از زوجه توسط قاضی در اثر تقاضای زوجه به سبب عیب، عدم انفاق، ضرر، غیابت، حبس طویل مدت، ارتداد زوج، ایلا و لعان می باشد.

شارع حکیم و قانون موضوعه حق تفریق قضایی را برای زوجه در مقابل حق طلاق که برای مرد است داده است چنانچه فقره ۲ ماده ۱۳۵ ق.م چنین بیان نموده است «طلاق از جانب زوج یا محکمه با صلاحیت به درخواست زوجه مطابق به احکام این قانون صادر میگردد» تا در مقابل ضرر های که ممکن از ادواج برایش عاید می گردد از این حق استفاده نمایید. همچنان قسمی که در ماده متذکره دیده می شود درخواست باید از محکمه توسط زوجه صورت گیرد در موردی که زوجه به سبب عیب، عدم انفاق شوهر، سوء آمیزش، غیبت، حبس طولانی مدت شوهر، ضرر و .... متضرر گردد، در حالیکه در مورد طلاق چنین نیست. یعنی تفریق قضائی به حکم قاضی به نمایندگی از شوهر جبراً در صورت که شوهر زوجه اش را طلاق ندهد و زوجه نیز وسایل ضروري خلع را در اختیار نداشته باشد، صورت میپذیرد. اما به نظر می رسد وجه مشترک بین تفریق قضایی و طلاق در این است که هر دو طلاق است، با این تفکیک که طلاق توسط زوج به میل و اراده اش و یا وکیل زوج صورت می گیرد ولی تفریق قضایی توسط زوجه به صورت جبری براساس حکم محکمه با صلاحیت در اثر درخواست زوجه با رعایت شرایط پیش بینی شده در قانون و فقه صورت می گیرد.

**۲- اسباب موجبه تفریق:** قانون مدنی افغانستان با اتکاء به فقه مالکی از چهار سبب برای تفریق قضایی نام میبرد؛ تفریق در صورتی جواز دارد که زوجه ثابت نماید که به دلیل یک عیب یا یک مریضی اعلاج ناپذیر شوهر، یک ضرری که از جانب شوهر برایش عاید گردیده است، عدم پرداخت نفقه از طرف شوهر یا غیابت شوهر، زندگی مشترک زناشوهری را بیش ازین به پیش برده نمی تواند.

**۳- ماهیت تفریق قضایی:** تفریق قضایی گاه در حکم طلاق بائن و گاه در حکم طلاق رجعی میباشد. تفریق به سبب عیب و تفریق به سبب ضرر در حکم طلاق بائن محسوب می شوند و آثار طلاق بائن را به بار می آورند. تفریق به سبب عدم انفاق و تفریق به سبب غیاب در حکم طلاق رجعی پنداشته میشوند و با از بین رفتن دلیل تفریق و رجوع شوهر قبل از تکمیل عدت به زوجه اش رابطه زوجیت دوبار برقرار میگردد.

**۴- مبانی مشروعیت تفریق قضایی:** مشروعیت تفریق قضایی را می توان از قرآن، سنت و توسط دلایل عقلانی استنباط کرد.

**۱-۴: مشروعیت تفریق قضایی در قرآن:**

**۲. سیاسي بې ثباتي او د حکومتدارۍ ننګونې:** د دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته په افغانستان کې د سیاسي بې ثباتۍ او حکومتدارۍ ننګونو بحث د مطالعې لاندې راځي، چې په لنډ ډول موږ ویلی شو چې افغانستان له یادې جګړې نه د بېلابېلو سیاسي بې ثباتیو او ننګونو شاهد دی، چې په دې کې د مختلفو ډلو تر منځ د واک لپاره د مبارزې، د قومي او توکمیزو تحرکاتو رول او د افغانستان په سیاست باندې د بهرنیو هېوادونو سیاسي اغېزې هم شاملې دي.

**۳. د سړې جګړې د سیالیو منفي اغېز:** په افغانستان کې د سړې جګړې د سیالیو د اغېزو دغه هېواد د سیالو زبرځواکونو، یعنې متحده ایالاتو او شوروي اتحاد لپاره د جګړې په ډګر بدل شو، چې هر یو یې د خپل نفوذ او د خپلو ګټو د پراختیا په لټه کې و. د دې پوهېدل، چې څنګه دغو سیالیو د افغانستان سیاست، ټولنې او اقتصاد ته بڼه ورکړه .

**٤. د ټولنیز-اقتصادي پراختیا او عصري کولو هڅې:** له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د ټولنیز-اقتصادي پراختیا او عصري کولو په برخه کې د افغانستان هڅو ته هم اشاره کوي. په دې کې د پاچا ظاهر شاه له خوا د پیل شویو اصلاحاتو مطالعه کول او همدارنګه د افغانستان د پرمختیایي اهدافو په ملاتړ کې د بهرنیو مرستو رول شامل دي.

**۵. جګړې او د کورنۍ جګړې تحرک:** یو مهم اړخ چې باید دلته په دې ځای کې اشاره ورته وکړو، هغه د هاغو شخړو او د کورنۍ جګړې د تحرکاتو بحث قابل د مطرح دی چې د جګړې وروسته دوره کې یې په افغانستان یې ښکېل کړ. په دې کې د شوروي یرغل او ښکېلاک، د افغانستان د مقاومت غورځنګ، د طالبانو راڅرګندېدل، او ورپسې کورنۍ جګړې، چې هېواد یې ویجاړ کړ؛ تر بحث د لاندې نیول کېږي.

**٦. د بشردوستانه او بشري حقونو اندېښنې:** له دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته په افغانستان کې د بشر دوستانه او بشري حقونو اندیښنې شاملې دي. په دې کې په میلونونو انسانانو د بې ځایه کېدو، د کډوالو کړکیچ، د بشري حقونو سرغړونې او په ملکي وګړو باندې د جګړې اغېزې په څېر مسایلو حل کول شامل دي.

**۷. بهرنۍ مداخله او نړیواله ښکېلتیا:** په پای کې، دومره ویلی شو، چې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته په افغانستان کې د بهرنۍ مداخلې او نړیوالې ښکېلتیا رول څېړل ډېر مهم دي، چې افغانستان په هغه وخت کې څومره کړکېچونو سره مخ شو او پایله یې څه وه؟ په دې کې د بهرنۍ مداخلې تر شا د هېوادونو بدې ارادې او کوښښونه، د بهرنیو لوبغاړو له خوا کارول شوي ستراتیژۍ، او د افغانستان د حاکمیت او ثبات لپاره د بهرنۍ ښکیلتیا هم باید له یاده ونه باسو.

**د څېړنې ارزښت:**

دشلمې پیړۍ په دېرشو کلونو کې په المان کې نازي ایزم او په ایټالیاکې فاشیزم ژورې لمبې وکړې، څو په (۱۹۳۶م) کال کې د روم او برلین محور جوړ شو چې د جنګ په دوران کې د جاپان بلغاریا او ځینې نور هېوادونه غړي شول. ددې موضوع اهمیت په پار موږ دا هم بیانولای شو چې په دویم نړیوال جنګ د اسیا ځینې هېوادونو په جګړه کې ورګډ شول او ځینې هېوادونو بیا بې طرفي اختیار کړه، نو د دغه موضوعاتو په اړه د خلکو پوهاوی خورا د اهمیت وړ دی.

هېرده نه وي چې اوسمهال کوم ناسم تصور د خلکو په ذهن کې د ناسمو ارقامو او معلوماتو د تحلیل موضوع ده، چې ځینې خلک د ټولنې عامه ذهنیت خرابوي او د دې واقعې اصلي تحلیل نه شي وړاندې کولای، نو له دې نه وروسته به لوستونکي په دې وپوهېږي چې دویمې نړیوالې جګړې په اسیایي هېوادونو کې کوم تغیرات راوستل او د هغوی وضعیت د جګړې څخه وروسته کوم ډول و؟

په پای کې ویلی شو چې، د نړۍ زیاتره هېوادونه په دې فکر کې و چې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته ځان یو قدرت وښایي. همدا مسئله وه چې په سیاسي علومو کې بیا د نړۍ قطبیتوب موضوع مطرح کېږي او د هغې اصلي انځور وړاندې کېږي.

**د څېړنې موخې:**

اصلي موخه: د دويمې نړيوالې جګړې په هکله ټولنې ته تاريخي حقايقو په اړه کره او موثق معلومات وړاندې کول.

**فرعي موخې:**

۱. د دويمې نړيوالې جګړې وروسته د افغانستان هر اړخيز وضعيت روښانه کول.
۲. د نړيوال هېوادونو د نړيوالو قوانينو نقض په ساده ژبه تشريح کول.

**د څېړنې شاليد:**

دويمه نړيواله جګړه چې پيل يې د اروپا څخه شوی و د اسيا يو شمېر هېوادونه هم اغېزمن کړي وو او تقريباً په ټوله نړۍ کې يې تغيرات راوستل چې په دې برخه کې په ټوله نړۍ کې ددې جګړې تاريخ او يا سياسي تاريخونه ليکل شوي دي چې په پښتو ژبه کې هم يو شمېر تاريخونه ليکل شوي دي چې، يو د هغو له جملې عبدالصبور مبارز (د نړۍ سياسي تاريخ)، د سيّد عبدالحکيم حکمت (د نړۍ سياسي تاريخ ، او د ضياءالدين هوتک (د اسيا تاريخ يادولای شو، خو په پورته کتابونو کې هر يو په بېلابېلو موضوعاتو ليکنې کړي دي مثلاً د نړۍ په سياسي تاريخ کې د ټولې نړۍ تاريخ دی خو په ټوله کې زياتره دغه ډول څېړنې يو اړخيزې او نيمګړې وې چې په دې څېړنيزه مقاله کې به يې تر يوه بريده نيمګړتياوې بشپړې شي او د يادولو ده، چې په دې مقاله کې ما د اسيا تاريخ هم ذکر کړی دی او ځينې اصلي ټکي مې هم په ګوته کړي د عامه پوهاوي لپاره.

**د څېړنې پوښتنې:**

۱. دويمه نړيواله جګړه کله پيل او کله پای ته ورسيده؟
۲. د دويمې نړيوالې جګړې په پيل او پای ته رسيدو څخه وروسته د اسيا وضعيت په کوم ډول و؟
۳. د اسيا کوم هېوادونه مستقيماً په دويمه نړيواله جګړه کې ورګډ شوي وو؟

**د څېړنې مواد او کړنلاره:**

نوموړې موضوع کتابتوني بڼه لري. راټول شوي معلومات تحلیل شوي او له تحلیل څخه وروسته بیا د دغې موضـــوع د تکمیل او پوره کولو په موخه زیاته هڅه شـــوې، چې ټول اســـاسي موضوعات له مختلفو منابعو او موثقو سرچینو څخه ترتیب شي او تر څېړنې لاندې ونیول شي.

د یادولو ده چې، د موضوع د لا وضاحت په موخه د نړۍ سیاسي تاریخ د کتابونو څخه هم ګټه اخیستل شوې، چې د یادې موضوع څېړل پرته له دې کتابونو نیمګړی و.

**لومړی مبحث: د دویمې نړیوالې جګړې پېژندنه او لاملونه**

په ۱۹۲۰م کال کې زیاتره جرمنیان د وارسا (WARSAW PACT) د تړون د ځېنو موادو سره مخالف وو، له (۱۹۳۰م) کال نه وروسته جرمني کې لومړی ملیت غوښتونکو ګوندونو او په (۱۹۳۳م) کال کې د نازي ګوند د قدرت واګې په لاس کې واخېستلې. په دې وخت کې جرمني چمتو نه و، چې خپل مســؤلیتونه د جګړې د تاوان په اړه پرځای کړي او هیله یې لرله چې د تړون ځینې موارد به بدل شي، په همدغه وخت کې چې جرمني د دغو تعدیلاتو غوښتنه کوله.

د وارسا (WARSAW PACT) د تـړون د ځنځیرونو په شلولو یـې لاس پورې کړ.

د ســته تــسکو ( Statusque) مدافعین په تېره انګلیستان او فرانسویان مقاومت ته چمتو نه وو او دوی هم دغې عقیدې ته رســېدلي وو، چې د وارســا (WARSAW PACT) د تړون ځینې مواد له منځه ولاړ شي او په دې اســاس یې د تړون د موادو په تعدیلولو لاس پورې کړی و، چې په پای کې د وارسا (WARSAW PACT) د تړون هیڅ شـی پاتې نه و. آیا د ملتونو ټولنې دا نه شو کولای چې د دغو تعدیلاتو مخه ونیسـې، طبعاً د دغې پوښـتنې ځواب منفي دی. د دې لپاره چې اواز او قدرت د ټولنې د هغو د غړو په اواز او قوت پورې اړه لري، نو که لویو قواو ټولنه دې ته نه وای هڅولې، نو په خپله ټولنې هم حرکت نه شو کولی. (د نړۍ سیاسي تاریخ: ۱۹۴)

په (۱۹۳۱م) کال جاپان په منچوریا یرغل وکړ، دا له (۱۹۱۸م) کال نه وروســـته، لومړنی تېری و چې د سولې په مقابل کې شوی دی. دا یرغل چې د ملي احساساتو او اقتصادي لاملونو له امله پیدا شوی و، د واشنګټن تړون او د ملتونو ټولنې له منشور سره یې سمون نه درلود، چین ملتونو

ټولنې ته شکایت وکړ، هغوی له جاپان نه غوښتنه وکړه، چې د چین له خاورې څخه ووځي، مګر جاپان ونه منله. په (۱۹۳۳م) کال کې چین او جاپان د متارکې تړون لاســلیک کړ، منچوریا د یوه پوشالي حکومت په توګه د جاپان تر لاس لاندې پاتې شو، ټولنې د هغه مخنیوی ونه کړی شو.

(د نړۍ سیاسي تاریخ: ۱۴۱)

## دویم مبحث: د دویمې نړیوالې جګړې پیل

د ۱۹۳۹م کال د ســپتمبر په میاشــت کې هټلر په پولینډ باندې په یرغل لاس پورې کړ، د لســو میاشتو نه په لږه موده کې یې شمالي او لویدیځه اروپا ټوله ونیوله، پولینډ د یوې میاشتې نه په لږه موده کې د نازي عسکرو په لاس تس نس او بیا وروسته د جرمني او وروسانو په منځ کې وویشل شــو د اکتوبر په میاشــت کې هټلر وویل: زما تصــمیم بدلېدونکی نه دی، ډېر ژر به په فرانســې او انګلیس یرغل وکړم.

د هالینډ او بلژیک بې طرفي د ماتولو خبره یوه بې معنا موضــوع ده، کله چې موږ ملکونه ونیســو، نو څوک دا پوښتنه نه شي کولی چې د موافقې او دجوړښت هیله بیخي ماشومانه خبره ده، مګر له بده مرغه چې پلانونه یې وځنډېدل، د دې لامل هم یوازې د ژمي د واورو ډېربښــت او د یخنۍ زیاتوالی و، دغه ځنډ فرانســې او انګلســتان ته وخت ورکړ چې خپل نظامي ترتیبات بشــپړ کړي. هټلر په ۱۹۴۰م کال یرغل وکړ، په پســــرلي کې جرمنیانو ډنمارک لاندې کړ او په نــــاروې کې انګلیسي-الوتکو په پوره مهارت سره د جرمني او نارویک ترمنځ د اوسپنې پټلۍ ورانې کړې او د انګلستان امیر البحر چرچل اعلان وکړ چې د جرمني هره بیړۍ دې ډوبه کړی شي.

(په منځنۍ ختیځ کې پېښې ستر نړیوال ناورین: ۹۶)

د ۱۹۴۰م کال د دسمبر په میاشت کې د جرمني ملګرې ایټالیې د افریقا په شمال کې په انګلیسانو حمله وکړه مګر دا یرغل په شا وتمبول شو هټلر د مارشال رومل په مشــرۍ جرمني لښکر دایټالیې ملاتړ ته واستولو، مګر انګلیسې بحر یې د محوري پوځونو په له منځه وړلو لاس پورې کړی او هټلر له دې څخه چې په افریقا کې جګړې ته دوام ورکړي صرف نظر وکړ، د دې پر ځای یې دا ښــه وګڼله چې په روســې باندې یرغل وکړي، له دې کار سره په دوو جبهو کې د جګړې لمبه بله شوه.

د ۱۹۴۱م کال د دسمبر په میاشت کې د هټلر فوځونه ماسکو څخه دباندې په شا وشړل شول، په ۱۹۴۲م کال د جرمني فوځونه د خپلو اتو میاشتو عملیاتو په پایله کې ققفاز ته ورسېدل، د ۱۹۴۳م کال د جنوري په میاشت کې روسانو د جرمنیانو په وړاندې لوی بری وګاټه، جرمني عسکر په سټالین ګراد کې کلابند او دښمن ته تسلیم شول. د یوه جرمني سیاسي مبصر-له خولې خبره ده، چې دا د جرمني لښکرو لویه ماتې وه، چې دوی ورسره مخامخ شول.

(لومړۍ نړیواله جګړه: ۲۳)

**درېیم مبحث: د دویمې نړیوالې جګړې پای**

په ۱۹۴۱م کال کې د انګلیسانو الوتکو د جوړېدو شمېر له جرمنیانو سره سم شو په ۱۹۴۲م کال د امریکې هوایي قواو د متحدینو سره برخه اخیستله، د جرمني اقتصادي منابع یې تر بمبارد لاندې ونیولې، د متحدینو هوایي قواوو د جرمني د حمل ونقل په وسایلو بریدونه پیل کړل، د جرمني اقتصادي ژوند او نظامي حرکت دسخت خطر سره مخامخ شو، د دوو میلیونو او شپږ سوه زرو ټنو بمونو له جملې څخه چې د غلیم په هېوادونو کې غورځول شوي وو، له نیمایي نه زیات یې په جرمني باندې واچول شول.

په ۱۹۴۳م کال د جنګي بېړیو په جوړولو سره د تېر تاوانونو تلافي وشوه، د جرمني هوایي ځواک له روسیې سره په جګړه کې کمزوری شوې وو، کله چې د متحدینو له خوا د جرمني بلاک کېدل بشپړ شو، نو جنګي توکي جرمني ته ونه لېږل شول حال دا چې د جرمني بلاک کېدل د متحدینو په وړاندې بې اغیزې وو.

د جګړې په پای کې هټلر هماغسې د ۱۹۱۸م کال غوندې زړې کیسې سره مخامخ شو، یعنې د مطلقې تباهی یا د تسلیمی غوره کول، هټلر د لومړۍ جګړې دنورو رهبرانو په خلاف خپل ځان او د جرمني دملت لپاره تباهي غوره کړه او ویې ویل چې ۱۹۱۸م کال بیا نه راځي، که جګړه مو بایلودله، نو د جرمن ملت به هم ورک شي مګر مونږ به چاته ځان ونه سپارو، چې په اخره په یو شمیر خلکو کې دا زړه پیداشو، چې د هټلر له امر نه سر وغړوي ځکه چې د هغه امر د جرمني په

مطلقه تباهی تمامېده، هټلر خپله په هغه وخت کې چې دښمن نژدې راغلی و، د برلین په یوه پټ ځای کې د بمونو نه بچ او خوندي پاتې شوی و، چې په پای کې یې ځان ووژلو.

(مخکینی ماخذ ، د نړۍ سیاسي تاریخ. ص ۲۱۱.

## د دویمې نړیوالې جګړې وروسته افغانستان وضعیت ته کتنه

### لومړی مبحث: د افغانستان عمومي وضعیت

د دویم نړیوال جنګ خړه او ګردجنه فضا له جنګ څخه څلور پنځه کاله وړاندې لا د اروپا په سر څرخېدله او کله کله به یې پر اسیا هم څپې را وهلې. د شلمې پېړۍ په دېرشو کلونو کې په المان کې نازي ایيزم او په ایټالیاکې فاشیزم ژورې لمبې وکړې، څو په (۱۹۳٦م) کال کې د روم او برلین محور جوړ شو، چې د جنګ په دوران کې د جاپان بلغاریا او ځینې نور هېوادونه غړي شول. ددې جریان مخه که څه هم په اول کې د هسپانیې خوا ته وه چې جنرال فرانکو یې حمایت کاوه، خو کله چې ایټالیا پر حبشې حمله وکړه. او په پوره سپین سترګۍ یې هغه آزاد مملکت په خپله ولکه کې راوست، نو د ملتونو ټولنې هم د دې تجاوز مخه ونه شوه نیولی او په دې توګه نړیواله مؤسسه له مینځه ولاړه. دغه خطر له نږدې ختیځ او منځني ختیځ له لارې سیمې ته متوجه و، چې تر هر څه وړاندې یې ترکیه عراق او ورپسې ایران او افغانستان هم تهدیداوه. له بلې خوا د لویدیځ اتحاد هېوادنو شوروي ته هم د شک په سترګه کتل، چې ښایي وضعیت بحراني شي، نو شوروي دې پر دغه سیمه یرغل وکړي. د همدغو جریاناتو له مخې تصمیم ونیول شو، چې ترکیه، ایران، عراق او افغانستان په یو تړون کې سره را یو ځای شي، څرنګه چې مصطفی کمال اتا ترک وفات شو، رضا شاه پهلوي په دې پوهېده، چې دی معمر مشر دی او حتماً به قیادت د ده وي، نو په کال (۱۹۳۷م) د جولای د میاشتې په (۷) مه نېټه د تهران د اسعدآباد په ماڼۍ کې د دغو څلور هېوادونو استازو په یو تړون لاسلیک سره وکړ چې وروسته د اسعدآباد په تړون باندې مشهور شو.

(د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه: ۲۳۷)

په دې تړون کې څلورو هېوادونو (افغانستان، ترکیه، ایران او عراق) فیصله وکړه، چې د خارجي تجاوز په صورت کې به یو د بل حمایت ته رسېږي او همدارنګه به په اقتصادي او کلتوري برخو کې به یو د بل همکاري کوي. دا هم هغه کال په سیپتمبر میاشت کې د جنیوا (ژنیوا) د ترقي او اتفاق شورا غونډه وکړه او د اسعدآباد د تړون څلور هېوادونه یې هم د هغې شورا په غړیتوب وټاکل. څرنګه چې افغانستان لویو بین المللي جریاناتو ته ورننوتلی و، نو په (۱۹۳۹م) کال د اروپا او ختیځ وضعیت په یو ریږدیدونکي بحران واوښته او د دویم نړیوال جنګ لړې او ګردونه په نړۍ راخپریدې، نو د دې لپاره چې څلور غړي چې د اسعدآباد په تړون کې شامل و، یو مشترک محاذ یې غوره کړ. د دغه کال په اپریل کې علي محمد خان خارجه وزیر تهران ته ورغی، خو چندان راضي رانغی. دا تړون یو خنثی تړون وو او تش په نامه پاتې و. په (۱۹۴۳م) کال چې جنګ په شدت ادامه درلوده، د تړون د موادو مطابق پس له پنځه کالو خود بخود یې دوام تائید شو، خو جنګ یې ضرورت له مینځه یوړ، ترڅو پسې ختمې شوې او د همدغه تړون په مخ و، چې د بغداد او سنتو تړونونه مینځ ته راغلل او د افغانستان نه یې وغوښتل چې غړیتوب یې ومني.

(مخکینی ماخذ، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه.ص۲۳۷)

په افغانستان کې محمد ظاهرشاه پاچا او سردار محمد هاشم خان صدراعظم ؤ. محمد هاشم خان په ډېر لوی تدبیر نه یوازې افغانستان د جنګ له لمبو څخه وژغوره او هېواد ته یې زیان ونه رسیده، بلکې د اقتصاد د تنګیو سره سره یې د سپما څخه کافي ډالرهم ذخیره کړل چې وروسته په پراختیایي پروژو کې ورڅخه کار واخیستل شو. د جنګ په پیل کې په (۱۹۳۹م) کال د سیپتمبر د میاشتې په (٦) مه نېټه د شاهي فرمان مطابق افغانستان په جنګ کې بې طرفه اعلان شو. کله چې جنګ زور واخیست او د محور قواوې د ختیځې اروپا له لارې شوروي روسیې ته داخلې شوې نو هلته یو شمیر محوري او متفقینو قواوو غوښتل، افغانستان هم لکه ایران خپله پایګاه جوړه کړي. په (۱۹۴۱م) د جولای په ۲۸مه نېټه افغانستان یو ځل بیا خپله بې طرفي تائید کړه. په دې پسې د

همدغه کال په نومبر کې لویه جرگه راوغوښتل شوه او هلته په جدي توگه افغانستان بې طرفه اعلان شو. څرنگه چې په افغانستان کې یو شمیر الماني او ایټالوي انجنیرانو په ځینو پروژو کارونه کول، د دوی په اړه هم شوروي اتحاد او هم بریتانیې تشویش څرگنداوه، نو هماغه و چې لومړی شوروي اتحاد او ورپسې بریتانوي هند د دغو انجنیرانو په هکله افغانستان ته یاداشتونه ولېږل چې دغه المانیان او ایټالویان وباسي او افغانستان هم د ځینو شرایطو په منلو دې کار ته غاړه کېښوده او هغه کار کوونکي یې په عزت له افغانستان نه ووېستل. د جنگ بادونه په افغانستان هم راغلل، او یو شمېر امنیتي ستونزې یې منځ ته راوړې خو مدبر صدراعظم چې په عین زمان کې یو مستبد شخص و؛ په جدي توگه د افغانستان او ضاع نورماله وساتله او د هغه وخت د شرایطو سره سم د هاشم خان کار د هر ډول ستاینې وړ دی.

افغانستان یو پخوانی ناپییلی هېواد دی. د ناپییلتوب هغه اصول چې د ساړه جنگ په اوږدو کې وار په وار منځ ته راغلي دي، د افغان بهرني سیاست بنسټ جوړوي، له دویم نړیوال جنگ وروسته د یادونې وړ دوه ځانگړي انکشافات منځ ته راغلي. یو دا چې په نړیوال سیاست کې د نویو اړیکو د یوداسې بنې راوتل و، چې د هغې له مخې نړۍ په دوه بلاکونو وویشل شوه او مشري یې د شوروي اتحاد او د امریکاپه لاس ورغله.

دویم داچې استثمار څخه د خلاصیدو چټکې عملي پیدایښت چې د زیات شمېر اسیایي او افریقایي هېوادونو د خپلواکۍ سبب شو دواړو سترو دولتونو د خپل نفوذ جلا ساحې ولټولې نو دنویو خپلواک شویو هېوادونو د راکاږلو مبارزې ته یې لاس واچوه دغو انکشافاتو د عکس العمل په څرگندولو کې ځینو خپلواک شویو هېوادونو تصمیم ونېوه، چې په هېڅ یو بلاک کې برخه وانخلي او د نورو هېوادونو سره د اړیکو په ترڅ کې به خپلواکه پالیسي تعقیب کړي. چې افغانستان هم یو له دغو هېوادونوڅخه وو او دویم نړیوال جنگ د پیل کېدو په وخت کې په کال (۱۹۲۹م)د جولای د میاشتې په شپږمه د شاهي فرمان له مخې افغانستان په جنگ کې بې طرفه اعلان شو. کله چې جنگ زور واخیست، په دغه وخت کې په جنگ کې ښکېلو خواوو وغوښتل چې افغانستان

هم د ایران په شان نظامي پایگاه جوړه کړي، نو هماغه و، چې افغانستان یو ځل بیا خپله بې طرفي د (۱۹۴۱م) کال د جولای په (۲۸)مه نیټه تائید کړه. په دې پسې د همدغه کال د نومبر په میاشت کې لویه جرگه راوغوښتل شوه اوپه دې جرگه کې په جدي توگه افغانستان بې طرفه اعلان شو. افغانستان، هند او نورو اسیایې هیوادونو نږدې اړیکې او د نظریاتو د یو شان والي د جگړې څخه پاتې هېوادونو د استثمار ضد انقلاب پیل کړ او همدا شان د نړۍ پرمخ ناپیلتوب ښکاره شو. (افغانستان د څلور لارې پر سر: ۷۲)

**دویم مبحث: د دویمې نړیوالې جگړې اقتصادي او سیاسي اغېزې په افغانستان باندې**

**سیاسي بې طرفي:** د دویمې نړیوالې جگړې په جریان کې، افغانستان خپله بې طرفي اعلان کړه او د بې طرفۍ پالیسي یې وساتله. دا پرېکړه تر ډېره بریده د جگړه کې له ښکېلتیا څخه ډډه وکړي او د افغانستان د حاکمیت ساتنه وکړي.

**اقتصادي ننگونې:** له بې طرفۍ سره سره افغانستان د دویمې نړیوالې جگړې پر مهال له اقتصادي ننگونو سره مخ و. د جگړې له امله د نړیوالو سوداگریزو لارو گډوډېدل او د کرنیزو صادراتو کمښت د افغانستان پر اقتصاد، چې تر ډېره په کرنه او سوداگرۍ تکیه درلوده؛ ناوړه اغېزې وکړې.

**جیوپولیټیک اهمیت:** د جنوبي اسیا، مرکزي اسیا او منځني ختیځ تر منځ د افغانستان ستراتیژیک موقعیت د دویمې نړیوالې جگړې پر مهال د سیمه ییز جیوپولیټیک په برخه کې مهم رول لوبولی و. دغه هېواد د بریتانوي هند او شوروي اتحاد تر منځ د یو بفر زون په توگه کار کاوه او په سیمه کې د ثبات په ساتلو کې یې بې طرفي خورا مهمه وه.

**د پرمختگ او سیاسي پراختیا محدود کېدل:** دویم نړیوال جنگ د عصري کولو او پراختیا په برخه کې د افغانستان هڅې ورو کړې. د هېواد تمرکز د خپل امنیت تأمینولو او د خپلواکۍ د ساتلو په لور متوجه دی، د دې پر ځای چې د پام وړ اصلاحات پلي کړي یا په زیربنایي پروژو کې پانگونه وکړي.

**ډيپلوماټيکي اړيکې:** افغانستان د دويمې نړيوالې جګړې په ترڅ کې د متحدينو او محور دواړو قدرتونو په ګډون له بېلابېلو هېوادونو سره ډيپلوماټيکې اړيکې ټينګې کړې. په داسې حال کې چې دې ډلې په فعاله توګه د جګړې په هڅو کې برخه نه وه اخيستې، د افغانستان حکومت د خپلو ګټو د خوندي کولو او د هغه وخت د پېچلې جيو پوليټيکل منظرې د تيرولو لپاره په ډيپلوماټيکو خبرو اترو بوخت و.

**محدود اقتصادي پراختيا:** د دويمې نړيوالې جګړې څخه وروسته په نږدې وخت کې د افغانستان اقتصاد نسبتا لږ پرمختللی و، چې په کليوالو سيمو کې د کرنې پر بنسټ د ژوند کولو ځانګړتيا وه. صنعتي کول او عصري اقتصادي سکتورونه د محدودو زيربناوو او تخنيکي پرمختګونو سره نوي شوي.

**پر کورنيو کرنې تکيه:** کرنې له دويمې نړيوالې جګړې وروسته د افغانستان د اقتصاد د ملاتير په توګه کار وکړ، چې د خلکو اکثريت په کرنه او مالدارۍ بوخت و. حاصلات لکه غنم، وربشې، پنبه او ميوې په عمده توګه د کورني مصرف لپاره کرل شوي.

**بهرنۍ مرستې او مالي کومک:** افغانستان له دويمې نړيوالې جګړې وروسته له بېلابېلو نړيوالو سرچينو مالي مرستې ترلاسه کړې، چې په کې د غربي هېوادونو لکه امريکا او اروپايي هېوادونو مرستې او همدارنګه د ملګرو ملتونو او نړيوال بانک په څېر د نړيوالو سازمانونو ملاتړ هم شامل دی. دا مرستې اکثرا د زيربنايي پروژو، تعليم، او د عامې روغتيا نوښتونو ته لېږدول کېږي.

**۱. د پاچا محمّد ظاهر شاه اصلاحات:** پاچا محمّد ظاهر شاه چې له **۱۹۳۳** څخه تر **۱۹۷۳** پورې يې پر افغانستان واکمني وکړه، د هېواد د عصري کولو، سياسي پراختيا او د اقتصاد د تنوع په موخه يې يو لړ اقتصادي اصلاحات پلي کړل. په دې اصلاحاتو کې د زيربنا، تعليم او روغتيا په برخه کې پانګونه او همدارنګه د بهرنۍ پانګونې د راجلبولو او سوداګرۍ ته وده ورکولو هڅې شاملې وې. ( د نړۍ هنداره، (اسيا): ۵۵)

**د سیاسي بې ثباتۍ ننګونې:** افغانستان له جګړې وروسته په دوره کې د سیاسي بې ثباتۍ او داخلي جګړو له مهمو ننګونو سره مخ و. قومي تاو تریخوالي، قومي سیالي او د بېلابېلو ډلو تر منځ د واک جګړې د اقتصادي پرمختګ او ثبات خنډ ګرځي. برسیره پردې، د افغانستان ستراتیژیک موقعیت د سړې جګړې په جریان کې د جیوپولیټیک سیالیو لپاره د جګړې ډګر وګرځاوه او اقتصادي وضعیت یې نور هم پیچلی کړ.

**د سړې جګړې د تحرکاتو اغېزې:** د افغانستان مالي وضعیت د سړې جګړې د تحرکاتو له امله اغېزمن شوی و، چې دغه هېواد په بېلابېلو وختونو کې له شوروي او لوېدیځ څخه مرستې ترلاسه کولې. په هرصورت، د بهرنیو مرستو او نظامي مرستو راتګ هم په سیمه کې د انحصار او جیوپولیټیک کړکیچ سره مرسته وکړه.

**د شوروي مداخله او نیواک:** په ۱۹۷۹ کال کې پر افغانستان د شوروي یرغل او وروسته لسیزې اشغال د هېواد لپاره ژورې اقتصادي پایلې درلودې. د جګړې په پایله کې زیربنا ته پراخ زیانونه، د ژوند له لاسه ورکول او د خلکو بې ځایه کېدل، د افغانستان اقتصادي ننګونې نورې هم زیاتې کړې.

**د شخړو او بې ثباتۍ میراث:** په افغانستان کې مالي وضعیت له دویمې نړیوالې جګړې وروسته په لسیزو کې نا امنه پاتې شو، ځکه چې دغه هېواد د جګړو، سیاسي بې ثباتۍ او د پرمختګ له میراث سره لاس او ګرېوان و. په ۱۹۹۰ لسیزه کې د طالبانو راڅرګندېدل او وروسته کورنۍ جګړې اقتصادي فعالیتونه نور هم ګډوډ کړل او د پراخې بې وزلۍ او محرومیت لامل شو.

**د جګړې وروسته عواقب او پایلې:** له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د افغانستان لپاره تلپاتې عواقب درلودل، ځکه چې د سړې جګړې د دورې جیو پولیټیکل تحرک د هېواد د راتلونکي تګلارې په نوي ډیزاین جوړولو پیل وکړ. د شوروي اتحاد او متحده ایالاتو د زبرځواکونو په توګه راڅرګندېدل، د سړې جګړې د سیالیو له پیل سره، د جګړې وروسته دوره کې د افغانستان په بهرني سیاست او کورني سیاست تر ډېره برېده متأثر کړ، په داسې حال کې چې د تاریخ موثقو

او کره معلوماتو ته په کتو سره دا حقیقت په ډاګه کېږي چې، د ۱۹۳۹ کال د جولای په میاشت کې، افغانستان په ریښتیا سره د شوروي اتحاد له یرغل څخه ویره درلوده. افغانستان تر هغه وخته پورې له شوروي اتحاد څخه اقتصادي او پوځي مرستې منلې وې، چې په مداخلې بدلې شوې نه وې. افغانستان هم له بریتانیا څخه د پوځي تضمین غوښتنه وکړه، که څه هم ورته کافي ځواب نه و. دغه کار د دې لامل شو چې افغانستان له آلمان څخه د ملاتړ غوښتنه وکړي.

د کمونیزم ضد کړکیچ شاید افغان مشرانو ته د هوساینې وړ ښکاریده، چې نه یې غوښتل د خپلو دوو پیاوړو ګاونډیانو تر منځ ودریږي. په داسې حال کې چې لندن د آلمان په وړاندې د احتیاط غوښتنه وکړه، په هند کې د بریتانیې اداره د شوروي اتحاد سره ډېره اندېښنه وه. دا د پام وړ دی، ځکه چې د هند حکومت لید عموما د افغانستان په اړه د بریتانیا په پالیسۍ کې غالب دی. تاریخ لیکونکی میلان هاونر، د هند په محور ستراتیژۍ کې لیکوال، تشریح کوي چې د بریتانیې وزیر فریزر ټایټلر نوي ډیلي او لندن ته په خپلو راپورونو کې د آلمان د اقتصادي نفوذ اهمیت په ډاګه کړی، ځکه چې هغه د افغانستان د داخلي بحرانونو په اړه اندیښمن و، او هغه احساس کاوه. چې افغاني پاچاهۍ سقوط وکړي.

د ۱۹۳۷ په نومبر کې عبدالمجید زابلي د ملي اقتصاد د وزیر په توګه لندن ته ولاړ او د اقتصادي مرستو غوښتنه یې وکړه. هغه وویل چې افغانستان د بهرنۍ مرستې پرته پرمختګ نه شي کولی. هغه وویل چې هغه لومړی بریتانیې ته مخه کوي، او خبرداری یې ورکړ چې که د مرستې غوښتنه یې ناکامه شوه، هغه به آلمان ته مخه کړي.

. (A Political and Economic History of the Jews of Afghanistan, Volume: ٥٤: p.٧٠

**د خیبرنې موندنې:**

د پورتنیو موادو په رڼا کې ویلای شو چې افغانستان له دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته له کوم وضعیت او حالت سره مخ شو، چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

**لومړی-اقتصادي خنډونه:** څېړنه ښیي چې دویم نړیوال جنګ د افغانستان لپاره د پام وړ اقتصادي اغېزې درلودې، په شمول د سوداګریزو لارو خنډونه، د کرنیزو صادراتو کمښت او نړیوالو بازارونو ته محدود لاسرسی. دغه اقتصادي ننګونې د افغانستان د پرمختګ مخه ډب کړې او په پراخه کچه بې وزلۍ او محرومیت ته یې لاره هواره کړه.

**دویم-سیاسي بې طرفي:** څېړنه د دویمې نړیوالې جګړې په جریان کې د افغانستان د بې طرفۍ پالیسي او د نړیوالې جګړې په اوږدو کې د خپلواکۍ او حاکمیت د ساتلو هڅې تائیدوي. د متحدینو او محور دواړو قوتونو له فشارونو سره سره، افغانستان د خپلو ګټو د خوندي کولو او په جګړه کې د مستقیم ګډون د مخنیوي لپاره په بریالیتوب سره ډیپلوماټیکې اړیکې ټینګې کړې.

**درېیم-جیوپولیټیک اهمیت:** موندنې د دویمې نړیوالې جګړې په جریان کې په سیمه ایز جیوپولیټیک کې د افغانستان ستراتیژیک اهمیت په ځانګړې توګه د بریتانوي هند او شوروي اتحاد ترمنځ د بفر زون په توګه په ګوته کوي. د هېواد بې پرېتوب په سیمه کې د جګړې د لا زیاتېدو په مخنیوي کې مرسته وکړه او د جګړې پر مهال یې د سیمې له ثبات سره مرسته وکړه.

**څلورم-د عصریتوب او پرمختګ محدودیت:** د څېړنې موندنې ښیي چې دویم نړیوال جنګ د عصري کولو او پراختیا په برخه کې د افغانستان هڅې ورو کړې. د امنیت په تأمین او د خپلواکۍ په ساتلو باندې د هېواد تمرکز د اصلاحاتو له هوښیارو نوښتونو څخه منابع لیرې کړې، چې د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ په ټپه دریدلي دي.

**پنځم-د شخړو میراث:** څېړنه د دویمې نړیوالې جګړې وروسته په افغانستان کې د جګړې او بې ثباتۍ دوامداره میراث په ګوته کوي. د سړې جګړې د دورې جیو پولیټیکل تحرک، چې په ۱۹۸۰ لسیزه کې د شوروي د مداخلې له امله لا زیات شو، د افغانستان سیاسي منظرې ته یې دوام ورکړ او د بیارغونې او ملت جوړونې هڅې یې له خنډ سره مخ کړې.

**شپږم - د افغاني ټولنې انعطاف:** د دویمې نړیوالې جګړې او د هغې وروسته د ننګونو سره سره، څېړنه د افغاني ټولنې انعطاف او د بدلېدونکو شرایطو سره د موافقت وړتیا په ګوته کوي. ټولنې د اقتصادي ستونزو او سیاسي ناڅرګندتیا سره د مقابلې لپاره په دودیزو ټولنیزو شبکو او د مبارزې مېکانیزمونو باندې تکیه کړې.

**اووم - ډیپلوماتیکې اړیکې:** موندنې ښیي چې د دویمې نړیوالې جګړې په جریان کې د مختلفو هیوادونو سره د افغانستان ډیپلوماتیکې اړیکې، په شمول د متحدینو او محور دواړو قدرتونو په ګډون، د بهرني سیاست او نړیوال موقف لپاره اوږدمهاله اغیزې درلودې. د هیواد بې طرفۍ دې ته اجازه ورکړه، چې د مختلفو هیوادونو سره اړیکې وساتي او د جګړې وروسته دوره کې یو ناپیلتوب بهرنۍ پالیسي تعقیب کړي.

**اتم - لوستل شوي درسونه:**څېړنه د دویمې نړیوالې جګړې پرمهال د افغانستان له تجربو څخه زده شوي درسونه په ګوته کوي، په شمول د نړیوالو شخړو په وړاندې د بې طرفۍ ساتلو اهمیت، د اقتصادي ستونزو په وخت کې د انعطاف او تطابق اړتیا او اهمیت او په نړیواله کچه د ملي ګټو په ساتنه کې ډیپلوماسۍ.

د دې څېړنو موندنې په افغانستان باندې د دویمې نړیوالې جګړې د اغېزو په اړه ارزښتناکه بصیرت وړاندې کوي او د هېواد د تاریخي تجربو او د معاصرو ننګونو سره د هغوی د تړاو په ژور درک کې مرسته کوي.

**(Goodson's book offers insights into Afghanistan's historical context, including its experiences during World War II and the subsequent geopolitical developments that shaped the country's trajectory.( ۲۷۰)**

**مناقشه:**

په افغانستان باندې د دویمې نړیوالې جګړې مثبت او منفي تأثیرات کوم دي او په اړه په علمي ویناوې د سیاسي علمآؤ او متخصصینو بېلابېلو لېد، تفسیرځه دی؟ دلته هدف ته د رسېدو څرنګوالي په اړه څو کرښې له لوستونکو سره شریک کېږي:

**بېلابېل تعبیرونه:** په افغانستان باندې د دویمې نړیوالې جګړې د اغېزو په اړه علمي بحث د پوهانو تر منځ د بېلا بېلو تعبیرونو او لیدونو له مخې مشخص شوی دی. په داسې حال کې چې یو شمېر څېړونکي د جګړې پر مهال د افغانستان پر اقتصادي ګډوډۍ او سیاسي بې طرفۍ ټینګار کوي، نور بیا د هېواد د پرمختګ لپاره پر پراخو جیوپولیټیکو اغېزو او اوږدمهاله پایلو تمرکز کوي.

**د بې طرفۍ او ډیپلوماسۍ په اړه بحثونه:** د دویمې نړیوالې جګړې په جریان کې د افغانستان د بې طرفۍ د پالیسۍ او د مختلفو نړیوالو قدرتونو سره د ډیپلوماتیکو اړیکو په اړه د شخړو د مرکزونو یوه برخه، په داسې حال کې چې ځینې پوهان استدلال کوي چې افغانستان د خپل حاکمیت د ساتلو لپاره په بریالیتوب سره ډیپلوماتیکې اړیکې پرمخ وړې. نور بیا د دې هیواد بې طرفي په نړیواله کچه د پراخ ښکېلتیا او نفوذ لپاره یو له لاسه ورکړل شوی فرصت بولي.

**اقتصادي تحلیل او پراختیا:** د اختلاف بل ټکی د دویمې نړیوالې جګړې پرمهال او وروسته د افغانستان د وضعیت په اقتصادي تحلیل کې دی. ځینې څېړونکي د سوداګرۍ او کرنې په برخه کې د پام وړ خنډونه په ګوته کوي، چې د اقتصادي رکود او بې وزلۍ لامل کېږي، په داسې حال کې چې نور د ننګونو سره سره د روان پرمختګ د ثبوت په توګه په افغاني ټولنه کې انعطاف او موافقت ته اشاره کوي.

**جیوپولیټیک لید:** په علمي بحث کې د دویمې نړیوالې جګړې په جریان کې د افغانستان د جیو پولیټیکل اهمیت او د سیمه ایز ثبات لپاره د هغې اغیزې هم شاملې دي چې باید ورته اشاره وشي. پوهان د سیالو قدرتونو تر منځ د یوه بفر زون په توګه د افغانستان د رول او تر کومه حده چې د دې بې طرفۍ له پراخو جیو پولیټیکل اهدافو سره مرسته کړې او یا یې له پامه غورځولې، په اړه بېلابېل نظرونه وړاندې کوي.

(Goodson, Larry P. "Afghanistan's Endless War: State Failure, Regional Politics, and the Rise of the Taliban. P.(١٧٨)

**پایله**

په حقیقت کې دا موضـــوع خورا پېچلې ده او هر اړخیز تحلیل یې په یوه مقاله کې ستونزمن دی، ولې ما زیات هڅه کړې چې په یو څو لنډو ټکو کې ورته اشاره وکړم:

۱. دویمه نړیواله جګړه چې د لویو پانګوالو هېوادونو د سیاسي اواقتصادي سیالیو په پایله کې پیل شـــوه نږدې شـــپږکاله له (۱۹۳۹) څخه تر(۱۹٤۵) پورې یې دوام وکړ، چې د بشرـــیت لپاره یې ســـترځاني اومالي زیـانونـه واړول. دویـمـه نړیوالـه جګړه نظرلمړۍ نړیوالې جګړې تـه ډېره ویجاړوونکې اوپراخه وه. د دغې نړیوالې جګړې په اوږدو کې د نړۍ بېلابېلې برخې د خونړیو جګړو او کشمکشونو شاهدانې دي.

۲. په دویمه نړیواله جګړه کې د روسانو د ورګډېدو سره جګړه اسیا ته هم راوغځېده او له دې سره سم جاپان هم په جګړه کې ورګډ شـو، له هغې وروسـته د اسـیا نور هېوادونو د جګړې یو لوری ونیو او جګړه نوره هم پراخه شـــوه، تردې چې تقریباً نیمه اســـیا او ټوله اروپا کې د جګړې اور بل شو، چې له امله یې په میلیونونو وګړي مړه او له دې زیات شمېر یې زخمیان او معیوب شول.

۳. سره له دې چې د اسیا د لویې وچې ډېرو هېوادونو هڅه وکړه. ترڅو د جګړې په اوږدو کې یې بې پرې توب وساتي، خو د دې لپاره چې ډېرۍ یې د غربي هېوادونوپورې تړلې او مستعمره وو، نو څکه یې ونه شوکړی، ترڅو په واقعي توګه خپل بې پرې توب وساتي، په ځانګړې توګه جاپان اوجنوب شرقي اســـیاهېوادونه عملآپه جګړوکې ښـــکېل او په ســـلګونه زره خلک پکې مړه او په ملیاردونه ډالره زیانونه ورته واوښتل.

٤. دویمه نړیواله جګړه په ایالتي هېوادونوکې دملت پرســـتي او ازادي غوښـــتونکوغور ځنګونو د پراختیاسبب شو. د انګلستان تر ټولولویه مستعمره یعنې هند خپلواک شو او قدم په قدم د اسیا په ډېرو ســـیموکې د زوړ اســـتعمار لمن ټوله شـــوه او په ځینو خپلواکه شـــویو هېوادونو کې ملي او ډیموکراتیک نظامونه واکمن شول.

**وړاندیزونه**

۱. د ملګرو ملتونو دولتي سازمان باید زیات هڅه وکړي چې د ریالیزم د تیورۍ پر بنسټ یوځل بیا زبرځواک هېوادونه جنګ ته مایل نه شي او د زروي او کیمیاوي وسلو محدودیت قانون پرې وضع کړي.

۲. د نړۍ هېوادونه باید د داسې جنګونو مخنیوی وکړي لکه دویم نړیوال جنګ چې له امله یې زیات شمېر وګړي مړه او هېوادونه د خاورو سره برابر شول.

۳. د حقوق او سیاسي علوم پوهنځی د ادارې او ډیپلوماسۍ څانګې استاذان باید د یاد موضوع په تړاؤ علمي لیکنوته ته زیاته پاملرنه وکړي، ترڅو چې زموږ تحقیق برخه نور هم غنامندۍ لوري ته سوق شي.

٤. کومو اسیایي هېوادونو چې په دویمه نړیواله جګړه کې ګډون کړی، باید د هغې وضعیت ته خاصه پاملرنه وشي او په دې اړه نوې څېړنه او موضوعات ولیکل شي.

**اخځليکونه:**

۱. ارينزی، احسان الله. (۱۳۹٤ل). د نړۍ هنداره، (اسيا)، د ساپي د پښتو څېړنو مرکز. پېښور.

۲. خليلي. زاهد. (۱۳۹٥ل). لومړۍ نړيواله جګړه. مومند خپرندويه ټولنه -ننګرهار.

۳. عطايي، محمد ابراهيم. (۱۳۸۳ل). د افغانستان پرمعاصر تاريخ يوه لنډه کتنه. ميوندخپرندويه ټولنه - پيښور .

٤. مبارز، عبدالصبور. (۱۳۹٦ل). د نړۍ سياسي تاريخ، سلام خپرندويه ټولنه – جلال اباد.

٥. واکمن، محمد امين. (۱۳۸۰ل). افغانستان د څلور لاري پر سر. ژباړن: نصرالله سوبمن منګل. ميوند خپرندويه ټولنه – کابل.

٦. ولسمل، روښان. (۱۳۹۲ل). په منځنی ختيځ کی پيښی ستر نړيوال ناورين، مومند خپرندويه ټولنه - ننګرهار.

**English References:**

i. **Goodson, Larry P. "Afghanistan's Endless War: State Failure, Regional Politics, and the Rise of the Taliban." University of Washington Press, ۲۰۰۱.**

ii. **Goodson's book offers insights into Afghanistan's historical context, including its experiences during World War II and the subsequent geopolitical developments that shaped the country's trajectory.**

iii. **(A Political and Economic History of the Jews of Afghanistan, Volume: ٥٤: p.٧٠ "University of Washington Press, ۲۰۰۱**

روښان نورين:

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د قضاء او څارنوالی ډيپارټمنټ استاد

لارښود استاد: پوهنوال دوکتور خواجه محمد عصامی

# د عدلي تعقيب پر مهال د مظنون او متهم قانوني حقوق

# Legal Rights of the Suspect and Accused During Judicial Prosecution

**Abstract**

According to the Criminal Procedure Law, an individual involved in a criminal case holds certain rights during the judicial prosecution stage, which must be granted to them throughout this process. This research provides a detailed analysis of these rights, highlighting the specific entitlements a person should have at this stage. The importance of this research lies in raising awareness among the Afghan people about their rights during arrest. Not only does it inform Afghan citizens, but it also draws the attention of Afghanistan's legal and judicial institutions to their responsibilities. It clarifies that during the arrest process, Afghan citizens possess specific rights, while Legal institutions hold corresponding obligations.

The goal of this research is to promote criminal justice within Afghan society and to encourage suspects or defendants to claim their rights in cases where these rights are not granted by the relevant authorities. This will also remind the authorities of their responsibilities to ensure no infringement upon individual rights.

The information for this research was collected using the library method, meaning that data was gathered from credible books related to this subject, which formed the basis of this study.

The findings reveal that, according to Afghanistan's enforced laws, an individual is entitled to several rights during judicial prosecution, including the right to remain silent, the right to human dignity, the right to understand the charges, the right to an interpreter, the right to legal counsel, the right to appeal, and the right to a final statement in court. These rights must be provided to the suspect or defendant at all stages of the judicial process. In the event of a failure to grant these rights, the suspect or defendant can demand their rights in court and criticize the actions of the police, prosecution, and judiciary.

**Keywords:** Judicial prosecution, suspect, defendant, rights.

**لنډيز:**

د جزايي اجرآاتو قانون پر اساس يو شخص په جزايي قضيه کې د عدلي تعقيب پر مهال د يو شمېر حقوقو درلودونکی دی، چې بايد ورته په ياده مرحله کې ورکړل شي چې له دې حقوقو څخه په دې څېړنه کې په تفصيلي ډول يادونه وشوه او په ګوته شول چې يو فرد بايد په دې مرحله کې له کومو حقوقو څخه برخمن شي.

د دې څېړنې اهميت په دې کې دی، چې د دې پر اساس د افغاستان خلکو ته د نيونې (ګرفتارۍ) پر مهال خپل حقوق ورپېژندل کيږي. دا نه يوازې د افغانستان خلک بلکې د افغانستان حقوقي او قضايي ادارې هم خپل مسؤليت ته پرې متوجه کيږي او دا په ګوته کوي چې د افغاستان خلک د نيونې پر مهال د فلان فلان حقوقو او قضايي ادارې د فلان فلان مکلفيتونو درلودونکي دي.

له دې تحقيق څخه موخه په افغاني ټولنه کې د جنائي عدالت رامنځته کول دي او د اړوند ارګانونو له خوا د يادو حقوقو د نه ورکړې په صورت کې مظنون يا متهم د خپلو حقوقو غوښتلو ته هڅول دي، څو اړوند ارګانونه خپلو مسؤليتونو ته متوجه کړي، چې د دوی حق تلف نه شي.

د نوموړې څېړنې اړوند معلومات د کتابخانه يې ميتود څخه په استفادې راټول شوي دي. په دې معنا چې د دې موضوع په اړه له معتبرو کتابونو څخه معلومات راټول او پر اساس يې دا څېړنه ترتيب شوی ده.

پايله دا شوه چې يو شخص د افغانستان د نافذه قوانينو له مخې د عدلي تعقيب پر مهال د يو شمېر حقوقو درلودونکی دی چې عبارت دي له سکوت حق، انساني کرامت ته د درناوي حق، په نسبت ورکړل شوي جرم د تورن پوهيدلو حق، ترجمان لرلو حق، مدافع وکيل لرلو حق، اعتراض حق، په محکمه کې د وروستی خبرې حق...... بايد ياد شوي حقوق مظنون او متهم ته د عدلي تعقيب په ټولو پړاوونو کې ورکړل شي، د نه ورکړې په صورت کې مظنون يا متهم بيا کولی شي په محکمه کې د خپل حق غوښتنه وکړي او د پوليسو، څارنوالۍ او محکمې په اجرآاتو نيوکه وکړي.

**کليدي ټکي:** عدلي تعقيب، مظنون، متهم، حقوق

## سریزه

رَبِ شرَح لِی صَدرِی (۲۵) وَ یَسرِلی اَمرِی (۲۶) وَاحلُل عُقدةً من لِسانی (۲۷) یفقهو قولی (۲۸)

لکه څرنګه چې ټولو ته معلومه ده، چې انسان یو ټولنیز مخلوق دی، او نه شي کولی چې تنها له نورو انسانانو څخه په جلا ډول ژوند وکړي، ځکه هغه انساني ضرورتونه چې انسان ورته اړتیا لري نه شي کولی چې په یواځې ځان سره یې ځان ته برابر کړي، نو مجبور دی، چې له نورو انسانانو سره په ګډه یوه ټولنه کې ژوند وکړي او یو له بل سره په راکړه ورکړه تعامل وکړي، نو دا راکړه ورکړه او ټولنیز ژوند حتمي له ځان سره یو شمېر نیکمرغي او سوکالي لري، ولې د دې مثبتو ځانګړتیاوو سربیره حتمي ده چې له ځانه سره به یو شمېر منفي ځانګړنې هم ولري، چې بیا همدغه منفي ځانګړنې به د یو شمېر اجتماعي او اقتصادي او نورو انګیزو سره مل ځیني اشخاص به د ځینو نورو په ناموس، مال او عزت تیری کوي او د جرمونو د ارتکاب لامل به کیږي او په دې اساس به د ټولنې ارامي او سوکالي له منځه ځي او په ټولنه کې یو ډول انارشي او ګډوډي رامنځته کیږي او ټول بد عواقب به یې بیا د همدې ټولني وګړو ته وي.

په ټولنه کې د دې انارشۍ، بې نزاکتۍ، د خلکو د مال، ناموس او د عزت د خوندیتوب لپاره یو شمېر قوانین او ارګانونه (پولیس، څارنوالي او محکمه) رامنځته شوي دي، څو حق حقدار ته وسپاري، د ظالم مخنیوی او د مظلوم لاسنیوی وکړي.

نو کله چې اشخاص د پولیسو یا عدلي او قضایي ارګانونو تر شک او ګمان لاندې راشي، قضیې ته د رسیدګۍ په جریان کې مظنون او متهم د کشف، تحقیق او محاکمې پر مهال د یو شمېر قانوني حقوقو درلودونکی دی، چې دا حقوق په ملي او بین المللي قوانینو کې په رسمیت پیژندل شوي دي، متاسفانه چې په افغانستان کې دغه حقوق مظنون او متهم ته په پوره ته یاد شویو برخو کې نه ورکول کیږي. نو موخه له دې څېړنې څخه دا ده ترڅو د افغانستان خلک د عدلي تعقیب په مختلفو پړاوونو کې خپل حقوق وپیژني او د اړوند ارګانونو له خوا د یادو حقوقو د نه ورکړې په صورت کې مظنون یا متهم د خپلو حقوقو غوښتلو ته وهڅول شي او اړوند ارګانونه خپلو مسؤلیتونو ته متوجه کړي، ترڅو د دوی حق تلف نه شي او په ټولنه کې په کامل شکل جنائي عدالت تآمین شي.

دا چې په دې برخه کې په پښتو ژبه داسي کوم لیکل شوی اثر نه و موجود، چې د ملي او نړیوالو قوانینو له نظره یې یاده موضوع څېړلې وی، نو د موضوع اهمیت ته په کتلو ما دا غوره وګڼله چې د «عدلي تعقیب پرمهال د مظنون او متهم قانوني حقوق» تر عنوان لاندې یوه مقاله ولیکم، څو د افغانستان ټول خلک د عدلي تعقیب پر مهال له خپلو حقوقو څخه خبرشي او همدارنګه هغه څه چې د ۱۳۹۳ هـ ش کال په جزایي اجراأتو قانون کې د پولیسو او تحقیقي ارګانونو د غیر قانوني اجراأتو په مقابل کې لیکل راغلي دي عملي شي.

د نوموړې موضوع په اړه مې له کتابتوني میتود څخه استفاده کړې ده، او په او له معتبرو کتابونو څخه مې معلومات راټول کړي دي او د دې ترڅنګ مې د ملي او نړیوالو قوانینو څخه د موضوع د لا مستند کولو په پار مواد راټول او په دې مقاله کې مې ترې ګټه اخیستې ده، چې په دې مقاله کې به په نیونې، تحقیق او محاکمې پر مهال د مظنون\متهم پر قانوني حقوقو په جلا جلا درې فصلونو کې بحث وشي.

**موخه**

مظنون او متهم د کشف، تحقیق او محاکمې پر مهال یو شمېر حقوقو درلودونکی دی، چې دا حقوق د افغانستان په مختلفو قوانینو کې پیشبیني شوي دي، متاسفانه چې په افغانستان کې دغه حقوق مظنون او متهم ته په پورته یاد شویو برخو کې نه ورکول کیږي. نو موخه له دې څېړنې څخه دا ده ترڅو د افغانستان خلک د عدلي تعقیب په مختلفو پړاوونو کې خپل حقوق وپیژني او د اړوند ارګانونو له خوا د یادو حقوقود نه ورکړې په صورت کې مظنون یا متهم د خپلو حقوقو غوښتلو ته وهڅول شي او اړوند ارګانونه خپلو مسؤلیتونو ته متوجه کړي، ترڅو د دوی حق تلف نه شي او په ټولنه کې په بشپړ ډول جنائي عدالت تآمین شي.

**اهمیت**

د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی، چې د دې پر اساس د افغاستان خلکو ته د عدلي تعقیب پر مهال خپل حقوق ورمعرفي شي، نه یواځې د افغانستان خلک بلکې د افغانستان حقوقي او قضایي ادارې هم خپل مسؤلیت ته متوجه کړو او دا په ګوته کوي، چې د افغاستان خلک د نیونې پر مهال د فلان فلان حقوقو او یادو حقوقو تطبیق کوونکي ( کشفي، تحقیقي او قضایي) ادارې یې پروړاندې د فلان فلان مکلفیتونو درلودونکي دي، چې په اوسني وخت کې په یاده برخه کې د خلکو پوهولو ته زیاته اړتیا ده.

**د غوره والي لاملونه**

د عدلي تعقیب پر مرحله کې د مظنون او تورن قانوني حقوق چې زما د مقالې موضوع ده، نو زه د دغې موضوع د غوره والي لاملونه په لاندې ډول وړاندې کوم:

۱: د یادې موضوع په باره په پښتو ژبه د معلوماتو نشتون

۲: د یادو شویو حقوقو په اړه د افغاني جامعې د خلکو ناخبري

۳: د عدلي تعقیب په مرحله کې د مظنون او متهم حقوق په یوه خاصه ټولګه کې راجمع کول.

**د موضوع د لیکنې تګلاره**

د نوموړې موضوع به اړه مې له کتابتوني میتود څخه ګټه اخیستې او له معتبرو کتابونو څخه مې معلومات راټول کړي دي او د دې ترڅنګ مې د ملي او نړیوالو قوانینو څخه د موضوع د لا مستند کولو په پار مواد راټول او په دې مقاله کې مې ترې استفاده کړې ده.

**د څېړنې ستونزه**

دا چې د افغاستان د **۱۳۹۳** ه ش کال په جزایي اجراآتو قانون او نورو نافذه قوانینو کې د عدلي تعقیب پر مهال مظنون او متهم ته یو شمېر حقوق ورکړل شوي دي، د یادې برخې تطبیق کوونکي (کشفي، تحقیقي او عدلي) ارګانونه له خوا دا حقوق نقض او ترپښو لاندې کیږي، خو ستونزه دا ده چې د عدلي تعقیب پرمهال له یادو حقوقو څخه د افغانستان خلک خبرتیا نه لري او په یاده برخه کې عامه پوهاوي ته اړتیا لري او بل دا چې په دې برخه کې په پښتو ژبه کوم لیکل شوی اثر نه تر سترګو کیده، نو په ټولنه کې د دې ستونزې د حل په پار ما غوره وګڼله چې په اړه یې په پښتو ژبه معلومات راټول او په یوه ټولګه کې یې ځای پرځای کړم.

**د څېړنې شالید**

دا چې د عدلي تعقیب پرمهال د مظنون او متهم قانوني حقوق د جنایي عدالت د رامنځته کولو په پار یوه مهمه موضوع ده، چې باید په وړاندې د جنایي علومو متخصصینو له خوا زیاتې لیکنې او شرحې لیکل شوې وای، خو بدبختانه چې په پښتو ژبه کې ورته چا کار نه دی کړی او په دري ژبه

کې هم معلومات په نشت حساب دي، همدا راز ما چې په دې اړه څومره علمي سرچینې پلټلي دي، داسې کومه ځانګړې علمي مقاله یا علمي اثر مې مخې ته نه دی راغلی، چې په هغې کې دې په پښتو ژبه د عدلي تعقیب پر مهال د مظنون او متهم قانوني حقوقو موضوع څېړل شوې وي او په اړه دې یې د قانون دریځ په ډاګه شوی وي، ولې بیا هم یوشمېر د جنایي علومو لیکوالانو د مظنون او متهم د حقوقو په اړه په خپلو لیکنو کې یو شمېر اجمالي بحثونه کړي دي، چې په لاندې کرښو کې ترې یادونه کووم:

«اصول محاکمات جزائی» تر عنوان لاندې د محمد ظریف علم ستانکزي لیکنه ده، چې په فارسي ژبه لیکل شوې او ترډېره پکې د ۱۳۸۲ ه ش کال د محاکمو لپاره د جزائي اجراآتو مؤقت قانون څخه ګټه اخیستل شوې ده او د ۱۳۹۳ ه ش کال د جزائي اجراآتو قانون څخه پکې استفاده کمه شوې ده.

« قانون اجراآت جزائي) تر سرلیک لاندې د پوهنیار غازي هاشمي لیکنه ده، چې دا هم په فارسي ژبه لیکل شوې ده او تر ډېره بحث پکې د ۱۳۹۳ ه ش کال د جزائي اجراآتو قانون په ګټو او نیمګرتیاو باندې شوی دی.

« د جزائي محاکمو اصول» تر عنوان لاندې د پوهیالي محمد یوسف زماني اثر دی، چې په پښتو ژبه لیکل شوی دی، خو ولې یاد اثر په ټوله کې جزائي دعوې ته د رسیدګۍ پروسیجر تشریح کوي او د مظنون او متهم له حقوقو څخه یې په شکل د اشکالو د یو فرعي سرلیک په توګه په ډېر اجمالي ډول یادونه کړې، چې له همدې امله د دې سرلیک څېړلو ته اړ شوم.

## د عدلي تعقیب پر مرحله کې د مظنون او متهم قانوني حقوق

### مقدمه

هغه کسان چې د کشفي او عدلي ارګانونو له خوا تر شک لاندې راغلي وي؛ قضیي ته د رسیدګۍ پر مهال مظنون او متهم د یو شمیر قانوني حقوقو درلودونکی دی، چې دا حقوق په یو شمیر ملي او بین المللي قوانینو کې په رسمیت پیژندل شوي دي.

مظنون او متهم اشخاص چې د ظن او ګمان لاندې راغلي دي، په بعضې وختونو کې قانون پولیسو، څارنوالۍ او محکمې ته د مظنون\متهم د نظارت او توقیف اجازه ورکړې ده، شاید د یادو ارګانونو له خوا دا حقوق نقض شي.

عدالت د دې غوښتنه  کوي، چې  د پولیسو، څارنوالانو او محکمې په مقابل کې باید داسې یو شخص موجود وي، چې د ځانګړي مسلک پر اساس د مظنون او متهم له قانوني حقوقو څخه دفاع وکړي او په د یادو حقوقو په برخه کې که کوم نقض وګوري، نو باید پرې اعتراض  او نیوکه وکړي او د مؤکل د حقوقو له نقض څخه دفاع وکړي، نو په همدې اساس  باید یو محکمه د قانوني موازینې په ساتلو سره دایره شي، ترڅو په ټولنه کې جنائي عدالت تآمین شي، ځکه عدلي تعقیب د جرمي پیښې او د هغې د مرتکب تعقیبول دي، چې د کشف اجرأت او د جرم تحقیق، محاکه او د حکم تنفیذ پکې شاملیږي.

په دې معنی چې دا حقوق په دریوو بیلابیلو برخو ( کشف، تحقیق او محاکمو ) کې مظنون او متهم ته ورکول کیږي، چې په هریوه برخه به یې په جلا جلا فصلونو کې بحث وشي.

# لومړی څپرکی

## د نیونې پر مهال  د مظنون حقوق

**مقدمه**

د قوانینو پر اساس د یو شخص د  گرفتارۍ (نیونې) پر مهال هغه د یو لړ حقوقو درلودونکی دی، چې باید اړوند ارگانونه یې په نظر کې ونیسي او باید مظنون ته ورکړل شي، چې په لاندې ډول په بیلابیلو مبحثونو کې به پرې بحث وکړو.

**لومړی مبحث: د مستندو او قانوني دلایلو پر اساس د مظنون نیول**

کله چې یو کس نیول کیږي، باید د مستندو او قانوني دلایلو پر اساس وي، ځکه چې په دې سره له یو شخص څخه ازادي اخستل کیږي، کوم چې د هغه طبیعي حق دی، ځکه په دې اړه د ۱۳۸۲ ه ش کال اساسي قانون په ۲۴ ماده کې راغلي چې: (ازادي د انسان طبیعي حق دی، دا حق د نورو د ازادۍ او له عامه مصالحو پرته چې د قانون له لارې تنظیمیږي؛ حدود نه لري او د انسان ازادي او کرامت له تیري څخه خوندي ده)

همدارنگه د اساسي قانون د۲۷مادې په ۲ فقره کې هم راغلي چې ( هیڅوک د قانون له حکمونو پرته تعقیبیدای، نیول کیدای او یا توقیف کیدای نه شي)

په ۲۴ ماده کې د ازادۍ له حق څخه یادونه شوې ده، ولې په ۲۷ ماده کې د دې له نقض څخه  د ممنوعیت یادونه شوې او د ازادۍ د حق د اخستلو په منع باندې یې ټینگار کړی ده.

د اساسي قوانینو سربیره د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق په ۹ ماده ۱ فقره کې هم د افرادو د ازادۍ د خوندیتوب خبره  شوی ده، چې په اړه یې متن داسې څرگندونې لري: «هرڅوک د ځاني امن او ازادۍ حق لري. هیڅوک په خپل سر (له اجازې پرته) نیول کیدی او بندي کیدی نه شي، له هیچا څخه ازادي سلب کیدای نه شي مگر یواځې د قانون له مخې... »( مدني او سیاسي حقوقو نړۍ وال میثاق،۱۹٦٦، ماده۹)

له پورته مادو څخه دا په لاس راځي، چې انسان ازاد پیدا شوی او دا حق د ده له ذات سره تړلی حق دی او نه باید د معقولو او ښکاره دلایلو پرته له یو انسان څخه دا حق واخیستل شي، ځکه د دې دوباره جبران به د ناممکن ترحده وي نو کله چې یو نفر د پولیسو له لورې نیول کیږي، باید مستند او په ښکاره قوي گمان سره وي، ترڅو د افرادو دا طبیعي حق خوندي اوسي.

## دوهم مبحث: په نسبت ورکړل شوي جرم د تورن پوهیدل

د مظنون د نیونې پر مهال هغه ته د نیونې (گرفتارۍ) په لاملونو پوهیدل په دې معنی دي، چې کله د یو جرمې عمل د ارتکاب په نسبت د شک (گمان) پر بنسټ کوم کس نیول کیږي، نو پولیس د مظنون د دې حق په مقابل کې مکلفیت لري، ترڅو مظنون ته د نیونې (گرفتارۍ) لامل وښیي، چې ته په کوم جرم او کوم لامل سره نیول شوی یې (جزایي محاکماتو اصول،۱۳۹۶، ۳۳).چې د مظنون دا حق د ۱۳۹۳ ه ش کال جزایي اجراأتو قانون په ۷ ماده ۱ جز کې داسي څرگندونې لري (په نسبت ورکړل شوي جرم پوهیدل او د وارد شوي تور او د قضیې د اجراأتو په هکله د څرگندونو ترلاسه کول).

مظنون\ متهم د نیونې په لامل پوهه کول دیته زمینه برابروي ، ترڅو له ځان څخه د دفاع او بې گناه ثابت کولو لپاره کامله اماده ونیسي، همدارنگه ترڅو پورې چې مظنون\ متهم د نیونې په لامل باندې پوه شوی نه وي، نو نه شي کولی د مجهولې نیونې پر اساس د واکمنې مرجع پوښتنو ته قانع کوونکی ځوابونه ووایي، نو په همدې مناسبت ویل کیږي، چې د نیونې د لاملونو له ښودلو څخه مخکې باید له مظنون څخه پوښتنې ونه شي.

په مظنون\ متهم د لگول شوي تور په هکله پوهیدل نه یوازې په ملي قوانینو کې بلکې په نړۍ والو قوانیونو کې هم یادونه شوې ده. مدني او سیاسي حقوق نړۍ وال میثاق ۹ ماده ۲ بند، د اروپا د بشر حقوقو کنوانسیون ۵ ماده ۲ بند، د امریکا د بشرحقوقو کنوانسیون ۷ماده ۴ بند، همداسې نورو نړۍ والو حقوقو کې هم په دې مورد باندې تاکید شوی ده، د مثال په ډول په دې اړه د مدني او سیاسي حقوقو نړۍ وال میثاق داسې څرگندونې لري:« هر شخص چې نیول کیږي، د نیولو کیدو پر مهال په هغه ژبه چې دا پوهیږي باید د نیولو له دلایلو او لگول شوي تور څخه خبر شي»( مزایا و نواقص قانون اجراآت جزایي، ۱۳۹۶، ۲۰) .

د ۱۳۹۳ ه کال د جزايي اجراأتو قانون د ۸۱ مادې مطابق د پوليسو او ملي امنيت مؤظفينو له خوا د يو شخص د نيولو قانوني لاملونه دا دي چې د شخص له خوا ارتکاب شوي عمل به داسې مشهوده جنحه او جنايت وي چې جزا ورته په قانون کې متوسط حبس ټاکل شوی وي، يا هم شخص دجنايت جرم د مرتکب په توگه پيژندل شوی وي او د دغه شخص د تېښتې او غايب کيدو احتمال موجود وي. ( جزايي محاکماتو اصول، ۱۳۹۶، ۳۳)

## دريم مبحث: انساني کرامت ته د درناوي حق

په هيڅ دين او مذهب کې انساني کرامت ته دومره درناوی نه دی شوی، څومره چې د اسلام په دين کې ورته شوی دی. په اسلام کې انسان لوړ او ارزښتناک مقام لري. الله ج انسان ته په ځمکه کې په ټولو مخلوقاتو باندې د حاکميت زمينه برابره کړې او په ټولو مخلوقاتو کې يې انسان اشرف المخلوق وگرځاوه، آن تردې چې ملايکو ته يې آدم ع ته د سجدې امر وکړ. انساني کرامت ته د الله ج د عظيم کتاب د سورت الاسراء ۷۰ نمبر آيت کې داسې اشاره شوې ده (**وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيٓ ءَادَمَ وَحَمَلْنَٰهُمْ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ وَرَزَقْنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلْنَٰهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا**)

ژباړه: او خامخا په تحقيق ډير عزت ورکړی دی مونږ اولاده د آدم ته او سواره کړي مو دي دوی په مرکوباتو باندې بر( وچه) کښې او په بحر ( سيند) کښې او رزق روزي مو ورکړې ده دوی ته له طيباتو پاکيزه ؤ شيانو او غوره کړې مو دي دوی پر ډيرو له هغه چا چه پيداکړې مو دي په غوره کولو( ډيرو) سره. ( کابلی تفسير، ۱۴۱۴ هجري: ۱٦۵۵)

ياد حق د جزايي اجراأتو قانون په ٦ ماده ۱ بند کې يې هم تضمين شوی دی، چې په اړه يې د مادې متن داسې څرگندونې لري: منصفانه چلند، انساني کرامت ته درناوی او د شخصي حرمت ساتنه ( مزايا و نواقص قانون اجراآت جزايي، ۱۳۹۳، ماده٦)

همدارنگه د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ش کال اساسي قانون هم دولت د انساني کرامت په ساتلو مکلف کړی دی.

د ۱۳۸۲ هـ ش کال اساسي قانون ٦ ماده: دولت د انساني کرامت په ساتلو، بشري حقونو د ملاتړ، د ديموکراسۍ د تحقق، ملي وحدت د تأمين، د ټولو قومونو او قبايلو ترمنځ د برابرۍ او د هيواد په ټولو سيمو کې د متوازنې پراختيا او ټولنيز عدالت پر بنسټ د يوې هوسا او پرمختللې ټولنې په جوړولو مکلف دی. (اساسي قانون ، ۱۳۸۲، ماده٦)

د ۱۳۸۲ ه ش کال اساسي قانون۲۴ ماده ۳ فقره: دولت د انسان د ازادۍ او کرامت په ساتنه او درناوي مکلف دی. ( اساسي قانون، ۱۳۸۲، ماده ۲۴، فقره۳)

د پورته قرآني ايت او قانوني موادو په نظر کې نيولو سره بايد کشفي ارگانونه نه يوازې د نيونې، بلکې د عدلي تعقيب په ټولو پړاوونو کې د اشخاصو انساني کرامت ته درناوی وکړي.

## ځلورم مبحث: له خپل سرې نيونې څخه د خونديتوب حق

د جزايي اجرأتو د قانون له مخې بايد هيڅ شخص پرته له قانوني دلايلو څخه په خپل سر نه توقيف او نه گرفتار شي، ځکه په دې سره له انسان څخه ازادي اخستل کيږي کوم چې د انسان طبعي حق دی، چې په اړه يې د افغانستان د ۱۳۹۳ هـ ش کال جزايي اجراأتو قانون ۷ ماده ۱ فقره ۱ جز يې په اړه داسې حکم کوي: ( د دې قانون د حکمونو مطابق له په خپل سري نيولو يا توقيف څخه خونديتوب او د زيان د جبران لاسته راوړلو حق)

همدارنگه د افغانستان د ۱۳۸۲ هـ ش کال اساسي قانون ۲۴ ماده ۱ فقره داسې حکم کوي (ازادي د انسان طبيعي حق دی، دا حق د نورو له ازادۍ او له عامه مصالحو پرته چې د قانون له لارې تنظميږي، حدود نه لري)

د پورته ټولوقانوني موادو سربيره د ۱۹٦٦ م کال ډسمبرمياشتې د ۱٦ نيټې تصويب شوی د مدني او سياسي حقوقو نړۍ وال ميثاق هم په خپله ۹ ماده کې د خپل سرې نيونې څخه منع راوړې ده، چې په اړه يې د مادې متن داسې صرامت لري: (هر څوک د ځاني امن او آزادۍ حق لري هيڅوک په خپل سر (له اجازې پرته) نيول کيدی او بندي کيدی نه شي. له هيچا څخه ازادي سلب کيدای نه شي مگر يوازې د قانون له مخې مگر په هغه صورت کې چې د غور کولو لپاره وي).

د پورته ټولو قانوني مادو څخه دا پایله لاسته راځي چې هیڅوک نه شي کولی (پرته له اجازې) په خپل سر څوک ونیسي او بندي کړي، مګر هغه وخت چې د قانون له مخې د غور او بررسي لپاره وي.

## پنځم مبحث: په خپل سري نیونې سره د وراوښتي زیان د جبران حق

که چیرې یو شخص له قانوني مورد پرته نیول کیږي او بندي کیږي او له دې نیول کیدو او بندې کیدو څخه چې یاد شخص ته هر څومره زیان اوړي، کولی شي د ورسیدلي زیان د جبران غوښتنه وکړي، چې په اړه یې د جزایي اجراأتو قانون ۷ ماده ۱ جز داسې حکم کوي: ( د دې قانون د حکمونو مطابق له په خپل سر نیولو یا توقیف څخه خونه دیتوب او د زیان د جبران د لاسته راړولو حق)

همدارنګه د ۱۹۶۶ م کال د مدني او سیاسي حقوقو نړۍ وال میثاق ۹ ماده کې د خپل سري نیونې څخه د رامنځ ته شوي زیان په اړه داسې حکم کوي: ( هر څوک چې په غیر قانوني ډول نیول شوی یا بندي شوی وي؛ د ورسیدلي زیان د جبران غوښتنه کولی شي)

په دې معنی که چیرې یو شخص نیول کیږي او دا بې ګناه ثابتیږي او د کوم تور پر بنسټ چې نیول شوی د ده تقصیر پکې نه وي، نو د دې نیول کیدو څخه چې هر څومره زیان دې شخص ته اوښتی، حق لري چې د اوښتي زیان د جبران عارض شي او د خپل حق غوښتنه وکړي.

## شپږم مبحث: له توهین، جسمي او رواني زورونې څخه د خوندیتوب حق

عدلي او قضایي ارګانونه د مظنون\ متهم سره د برخورد په برخه کې ډیر ممنوعیتونه دي، چې باید رعایت یې کړي، د هغو له جملې څخه مهمترین یې چې د ۱۳۹۳ ه کال د جزایي اجرأتو قانون په ۷ ماده ۳ جز کې بیان شوي عبارت دي: له توهین، تحقیر، جسمي او رواني ځورونه او غیر انساني چلند څخه دي، چې یواځې نه باید د نیونې پر مهال، بلکې د عدلي تعقیب په ټولو پړاوونو کې یې باید مخنیوی وشي. ولې په دې برخه کې یوه اسثناء شته چې واکمن مقام کولی شي د زور څخه کار واخلې، خو دا یوازې د مظنون د نیونې په وخت کې هغه مهال چې کله په نیولو کې مظنون د

زور ځخه کار واخلي یا هم له واکمن مقام سره مقاومت وکړي بیا تر یوې اندازې کولی شي چې له زور ځخه کار واخلي هغه هم په متناسبه اندازې سره د مشروع دفاع په شکل. د اساسي قانون او د افغانستان نورو وضعي قوانینو پر اساس د مظنون توهین، تحقیر، جسمي او رواني ځورنې او هر ډول غیر انساني چلند ځخه منع کړې ده.

نه یواځې په ملي قوانینو بلکې په نړی والو قوانینو کې هم د شکنجې، توهین، جسمي او روحي زورونې ځخه منع راغلې ده، چې په اړه یې د بشر حقوقو نړی والې اعلامیې ۵ ماده داسې څرګندونې لري: هیڅوک نه شي کولی، چې چاته شکنجه ورکړي او یا هم داسې چلند وکړي چې هغه ظالمانه او د انسانیت خلاف وي ( بشر حقوقو نړی وال اعلامیه، ۱۹۴۸، ماده۵)

د پورته قانوني مواردو سربیره په دې اړه بیا د بشر حقوقو نړی والې اعلامیې ۲۰ ماده داسې څرګندونې لري: له شرعي غوښتنې پرته د هر انسان نیول، د هغه د ازادی محدودول یا تبعید کول یا مجازات کول، جواز نه لري او باید هغه ته بدني یا روحي شکنجه ورنه کړل شي، او د انساني حیثیت پر خلاف ورسره له سپکاوي ډک او سخت چلند باید ونه شي. ( بشر حقوقو نړی واله اسلامي اعلامیه، ۱۹۹۰، ماده ۲۰)

په پورته ملي او نړی وال حقوقو کې د شکنجې، جسمي او رواني زورونې او غیرانساني چلند د منع په اړه له ذکر کولو سربیره په دې برخه کې په ۱۹۸۴ م کال د شکنجې، ظالمانه مجازاتو، تحقیر اوغیر انساني رویې او برخورد د منع کنوانسیون تصویب شو. دا کنوانسیون یوه مقدمه او ۳۳ مادې لري چې د دې کنوانسیون په ۲ ماده ۲ بند کې راغلي چې: په خاص یا استثنایی ډول جنګ، داخلي سیاسي بې ثباتي او نور اضطراري حالات د شکنجې لامل نه شي کیدای، د مافوق آمر امر نه شي کیدی د شکنجې لپاره دلیل وګڼل شي، بلکې شکنجه کوونکی د خپل عمل مسؤل دی. (حقوق بشر، ۱۳۹۹، ص۱۹۸)

د دې مادې مفهوم داسې دی چې په هیڅ ډول اضطراري حالت کې څوک نه شي کولی چې یو کس شکنجه کړي ( جسمي او رواني زورونه ورکړي) او همدارنګه که د آمر له خوا د شکنجې امر کیږي، نو باید مادون یې ونه مني، ځکه که چیرې په دې برخه کې مادون د آمر امر ومني نو مادون د ترسره کړي عمل مسؤل ګڼل کیږي.

**اووم مبحث: د نیونکي مرجع له خوا د مظنون کورنۍ ته د خبر ورکولو حق**

مظنون ته د ۱۳۹۳ ه ش کال د جزایي اجرأتو قانون په ۷ ماده کې له ورکړل شویو حقوقو څخه یو حق د نیونکي مرجع له خوا د گرفتار (نیول) شوي شخص کورنۍ یا د هغه خپلوانو ته خبر ورکول دي او ټول مقامات او ارگانونه یې په دې مکلف کړي دي، چې کله د یو تور پر اساس یو شخص نیول کیږي باید د هغه فامیل ته خبر ورکړل شي، د دې حق ورکولو اهمیت په دې کې دی چې هغه اضطراب او پریشاني، چې د یاد شخص د کورنۍ د یو غړي د ورکیدلو له امله ده؛ له منځه ولاړه شي، ترڅو د نیول شوي شخص د کورنۍ له خوا د یاد شخص دفاع لپاره لازم تدابیر ونیول شي، د مثال په ډول: د وکیل دنیولو په برخه کې، دهغو اسنادو او مدارکو د جمع کولو په برخه کې، کوم چې له مظنون سره کومک کولی شي. ( قانون اجرآت جزایی،۱۳۹٦، ص۲۵). د دې حق په اړه د جزایي اجراأتو قانون داسې څرگندونې لري: د نیونکي مرجع له خوا د نیولو په وخت کي دهغه کورنۍ یا خپلوانو ته د خبر ورکولو حق (جزایي اجراآتو قانون، ماده۷)

په ټوله کې ویلی شو چې یاد حق د مظنون او د هغه د کورنۍ لپاره د یو نوعه ذهني ارامتیا سبب کیدلی شي، چې باید د پورته قانوني موادو په نظر کې نیولو سره مظنون ته د نیونې پر مهال ورکول شي.

**اتم مبحث : د نیونې پر مهال د سکوت حق**

د هغو حقوقو له جملې څخه چې مظنون ته د نیونې یا وروسته له نیونې ورکړل شوی، یو ترې د سکوت حق دی، چې باید ورکول شي او مظنون ته بیان او پرې پوه شي، چې ته د سکوت حق لري او کولی شي ترې گټه واخلې. دا حق د نیونې پر مهال له مظنون څخه په جبر او اکراه سره د اعتراف اخستلو په مخنیوي کې فوق العاده رول لري، ځکه نیونې د کشف له مرحلو څخه یوه مهمه مرحله ده، چې د یوې جزایي قضیې اساس او تهداب له همدې مرحلې څخه شروع کیږي، که په دې مرحله کې اجراأت قانوني وشول نو راتلونکې ټوله پروسه به په سم ډول پرمخ ځي او که دا مرحله کې اجرأت قانوني ترسره نه شول نو هغه عمده موخه، چې هیڅ بې گناه شخص مجازات نه شي او هرگناهگار له مجازاتو پاتې نه شي لاسته نه راځي. د مظنون دا حق د جزایي اجراأتو قانون په ۷ ماده ۷ بند کې تضمین شوی دی، چې متن یې داسې څرگندونې لري: ( د سکوت له حق څخه گټه اخستل او له هرډول بیانونو ( ویناوو ) څخه ډډه کولو حق.)

**نهم مبحث: د گرفتارۍ پر مهال د مدافع وکیل نیولو حق**

د نیول شوي شخص لپاره د عدلي تعقیب په ټولو پړاوونو کې د مدافع وکیل نیول ضروري دي. د نیونې په حساسه مرحله کې چې د قضیې راتلونکي پړاوونه ورپورې تړلي دي، په دې مرحله کې د مظنون لپاره د مدافع وکیل نیول ځکه مهم دي، چې کیدای شي هغه حقوق چې د قانون پر اساس مظنون ته ورکول شوي دي؛ امکان لري نیونکو مراجعو له لوري نقض شي. یواځینی شخص چې له دې حقوقو څخه نظارت کولی شي هغه مدافع وکیل دی. دا هغه شخص ده چې له قوانینو سره بلدیت لري او امکان لري مظنون په دې وخت کې له خپلو حقوقو څخه خبر نه وي، اګر چې پولیس قانوناً مکلف دي چې د نیونې پر مهال مظنون له خپلو حقوقو څخه خبر کړي چې په اړه یې د **۱۳۹۳** ه ش کال **۱۱۳۲** ګڼه خپور شوی جزایي اجراأتو قانون ۷ ماده ۸ جز داسې څرګندونې لري: (د قانون د حکمونو مطابق د مدافع وکیل ټاکل یا د حقوقي مساعد لرل).

ولې بیا هم لیدل کیږي چې د نیونې پر مهال د پولیسو له خوا د مظنون اکثره حقوق نقض کیږي، نو ځکه د مظنون لپاره د خپلو حقوقو د تأمین په پار د مدافع وکیل نیول ضروري دي.

د جزایي اجراآتو قانون سربیره د مدافع وکیل نیولو حق په برخه کې د **۱۳۸۲** ه ش کال اساسي قانون **۳۱** مادې متن هم په داسې ډول څرګندونې لري: (هر څوک کولی شي چې له نیول کیدو سره سم له ځانه د اتهام د لرې کولو او یا د حق ثابتولو لپاره مدافع وکیل وټاکي).

**لسم مبحث: بې له ځنډه عدلي تعقیب (پرته له ځنډه قضیې ته د رسیده ګي حقوق)**

په اجراأتو کې سرعت د عادلانه محاکمو له معیارونو څخه دی، چې له یو لوري د ټولنې ګټې او له بل لوري د مظنون ګټه پکې نغښتې ده، ځکه په اجراأتو که د سرعت له امله یې ټولنې ته ګټه دا ده، چې د خلکو ستونزو ته به په وخت رسیدګي وشي او مظنون ته یې ګټه دا ده، چې کیدای شي په همدې مرحله کې مظنون په توقیف خانه کې وي او په اجراأتو کې نه سرعت د مظنون د زیاتې ازادۍ د سلب کیدو باعث کیږي. د جزا حقوقو کې په دې اړه یو پرنسیپ لرو «پرته له قانوني دلیله بې له ځنډه محاکمه» چې د نړۍ د اکثرو هیوادونو له خوا منل شوې ده، د دې سربیره په دې اړه یو معقوله لرو: (په عدالت کې تأخیر د عدالت د نه تطبیق په معنی ده. (مزایا و نواقص قانون اجراآت جزایی، ۱۳۹۶: ۳۹)

له همدې امله د جزايي اجراأتو قانون کې، پرته له ځنډه عدلي تعقيب يې د مظنون اومتهم سالم حق ګڼلی دی، چې په اړه يې د مادې متن داسې څرګندونې لري: ( د دې قانون د حکمونو مطابق بې له ځنډه عدلي تعقيب ( جزايی اجراآتو قانون، ماده۷،جز۱۵).

جزايي دعواوو ته د رسيدګي اړوند قوانينو له مخې بايد پوليس په ۷۲ ساعتونو کې خپل اجرآت بشپړ کړي او دوسيه اړوندې څارنوالۍ ته وسپاري. ( د جزايی محاکماتو اصول، ۱۳۹۶: ۳۵)

د يادې موضوع په اړه د جزايي اجراأتو قانون داسې څرګندونې لري: ( پوليس مکلف دي زيات نه زيات د مظنون له نيونې وروسته تر ۷۲ ساعتونو پورې د اجراأتو محضر له پاڼو، سندونو او راټولو شويو دلايلو سره رسماً څارنوالۍ ته وړاندې کړي او مظنون هم د تحقيق په غرض اړوندې څارنوالۍ ته وسپاري. ( جزايی اجراآتو قانون، ماده۸۷).

له پورته ټولو قانوني دلايلو څخه دا پايله په لاس راځي، چې د عدلی تعقيب په ټولو پړاوونو کې بايد اړوند ارګانونه پرته له ځنډه په ټاکلي وخت کې قضيې ته رسيدګي وکړي، ترڅو د مظنون\ متهم حقوق ادا شي او په ټولنه کې په احسنه طريقې سره جنائي عدالت تآمين شي.

# دوهم څپرکی

## د تحقیق پرمهال د متهم حقوق

**مقدمه**

تحقیق هغه مرحله ده،په کوم کې چې د حقایقو تثبیت په پار فعالیتونه ترسره کیږي، څو واکمن پرې حکم وکړي، په دې مرحله کې متهم یو شمېر حقوق لري، چې د افغانستان په نافذه قوانینو او همدارنگه په نړیوالو قوانینو کې تثبیت شوي دي. په دې فصل کې به یې په اړه په تفصیل سره بحث وکړو.

**اول مبحث: د قانون د حکمونو مطابق د مدافع وکیل نیولو حق**

تر هرڅه مخکې لومړی مدافع وکیل پیژنو دمدافع وکیل هغه شخص دی چې د مدافع وکیلانو په لړلیک کې شامل وي، د قانون د حکمونو مطابق د محکمو او نورو مراجعو په وړاندې د خپل مؤکل له حقوقو څخه دفاع یا دعوی اقامه کړي. ( د حقوقي دعواوو د عملي پړاوونو عدلي او قضايي اجرآتو لارښود، ۱۳۹۵: ۶۰)

یو شخص کولی شي د عدلي تعقیب په ټولو پړاوونو کې ځان ته مدافع وکیل ونیسي، ترڅو د ده له حقوقو څخه دفاع وکړي چې په اړه یې د جزایي اجرأتو قانون څو مادې را اخلو.

جزایی اجرآتو قانون ۷ ماده، ۱ فقره، ۷ جز ( د قانون د حکمونو مطابق د مدافع وکیل ټاکل یا د حقوقي مساعد لرل)

جزایي اجراآتو قانون ۹ ماده، ۲ فقره ( منظون او تورن کولی شي په عین وخت کې تر ۳ تنو پورې د د فاع وکیلان ولري)

جزایي اجرأتو قانون ۹ ماده، ۱ فقره ( مظنون کولی شي شخصاً یا د قانوني استازي په واسطه د عدلي تعقیب په هر پړاو کې له ځانه دفاع وکړي).

د دې مادو څخه دا جوتیږي، چې یو شخص کولی شي د ځان لپاره تر ۳ پورې مدافع وکیلان ونیسي، تر څو د ده له قانوني حقوقو څخه دفاع وکړي. مظنون/ متهم حق لري د کشف څخه نیولې ان د حکم تر تطبیق پورې په ټولو پړاوونو کې، مثلا د مظنون تلاشي، د کور تالاشي، کارځای تالاشي، د څرګندونو اخستل، تحقیق او د محکمې په ټولو حالاتونو کې کولی شي د ځان لپاره قانوني استازی ( مدافع وکیل ) ونیسي ( جزایي محاکماتو اصول،۱۳۹٦: ۳۴)

همدارنګه په دې اړه د ۱۹٦٦ م کال د مدني او سیاسي حقوقو نړۍ وال میثاق ۱۴ ماده، ۳ جز داسې څرګندونې لري: ( په هرچا چې د ګناه تور ولګیږي، باید د خپل ځانه د دفاع لپاره پوره وخت او اسانتیاوې ورته برابرې شي او د خپل ټاکلي وکیل سره ولیدلی شي.) دا په دې معنی چې کله یو شخص نیول کیږي او تور پرې لګیږي نو باید له ځان څخه د دفاع لپاره وخت، اسانتیاوي او وکیل( قانوني استازی ) ولري، ترڅو له خپلو حقوقو څخه په پوره معنی دفاع وکړي، ځکه د همدغه مدافع وکیل په واسطه په ټولنه کې د قضاتو له خوا عدالت په ښه او احسنه طریقه تطبیق کیدی شی او قضات د عدلي تعقیب په ټولو پړاوونو کې شویو نیمګړتیاوو ته متوجع کیدلی شي.

**دوهم مبحث: د ترجمان ( ژباړونکي ) لرلو حق**

د عدلي تعقیب په ټولو پړاوونو کې د مظنون\ متهم لپاره د ژباړوونکي لرل یو بل حق دی، چې باید مظنون/ متهم ته ورکړل شي. دا حق د ژنیو د ۱۹۴۹ م کال تصویب شوي کنوانسیون کې هم په رسمیت پیژندل شوی دی. د دې سربیره دا حق د نړۍ په اکثرو نړیوال بشري حقوقو په اعلامیو کې ځای پر ځای شوی دی. د عدلي تعقیب په ټولو پړاوونو کې یاد حق ډیر ضروري دی، ځکه چې په هغه ژبه چې په متهم تور وارد شوی ده او دا پرې پوه نه شي نو نه شي کولی له خپلو حقوقو څخه دفاع وکړي نو د همدې په پار چې د یاد شخص د یوې جزایي مرحلې په ټولو پړاوونو خپل حقوق ترلاسه کړي او پر وړاندی یې یوه عادلانه محاکمه تر سره شي، نو ځکه یې ورته د ژباړونکي حق تضمین کړی دی. په ځانګړي ډول په جزایي محکمو کې د ژباړونکي حق درلودل ډیرمهم دي، ځکه چې د مظنون\ متهم په اینده باندې عمیق تأثیر کوي، د دې لپاره چې متهم وتوانیږي د محاکمې جزیات په سم ډول سره تعقیب کړي نو په کومه ژبه چې محاکمه ترسره کیږي د نه

پوهیدو په صورت کې ورته د ترجمان حق ورکړل شوی دی. په هغه صورت کې چې شخص یا یې مدافع وکیل د محکمې په ژبه د پوهیدو کامل تسلط ونه لري، نو نه شي کولی چې د صورت دفاعي جزیات په سم ډول وړاندې کړی شي او نه شي کولی چې د متهم له حقوقو څخه په سم ډول دفاع وکړي ( مزایا و نواقص قانون اجرآآت جزایی،۱۳۹۶: ۲۹)

د ژباړونکي د حق درلودلو په مورد د ۱۳۹۳ ه ش کال ۱۱۳۲ گڼه نافذ شوی جزایي اجرأتو قانون ۷ او ۱۱ ماده داسې څرگندونې لري: ۷ ماده، ۱ فقره، ۱۰ جز ( د ترجمان یا ژباړونکي لرل )

۱۱ ماده، ۱ فقره: ( پولیس، څارنوالۍ او محکمه مکلفه ده، هغه مجنی علیه، مظنون یا تورن ته چې د عدلي تعقیب په اجرأتو کې د گټې اخیستنې په وړ ژبه نه پوهیږي، یا کوڼ او گونگ وي، د ترجمان د حضور زمینه برابره کړي.) همدارنگه په هغه صورت کې چې مظنون\ متهم بې وزله او غریب وي، نو حق لري چې د دولت له لوري د دولت په لگښت ورته د عدلي تعقیب په ټولو پړاوونو کې ژباړونکی استخدام شي، چې په اړه یې د افغانستان جزایي اجرأتو قانون ۱۱ ماده او د ۱۹٦٦ م کال د مدني او سیاسي حقوقو نړۍ وال میثاق ۱۴ ماده، ۳ فقره (و) بند داسې څرگندونې لري:

د جزایي اجرأتو قانون ۱۱ ماده، ۱ فقره: (د دې قانون په لسمه ماده کې د درج شویو احوالو کې د بیوزلو اشخاصو لپاره، د دولت په لگښت ترجمان استخدامیږي.)

د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق ۱۴ ماده، ۳ فقره (و) بند: ( که چیرې په هغه ژبه چې محکمه خبرې کوي نه پوهیږي او یا خبرې ورباندې نه شي کولی نو په وړیا توگه دې یو ژباړن د هغه مرسته وکړي.)

له دې ټولو مادو څخه دا جوتیږي چې د یوې جزایې محکمې په هر حالت کې چې مظنون\ تورن د اړونده واکمن مقام له خوا په کاریدونکې ژبې د پوهیدو قابلیت ونه لري؛ حق لري د ځان لپاره یو ترجمان ونیسي.

**دريم مبحث: د تحقیق پر مهال د متهم د سکوت حق**

د دې حق پر اساس مظنون یا متهم مجبور نه دی چې د استنطاق یا استجواب په وخت کې د اړونده مقام د غوښتنې پر مهال دې حتماً توضیحات ورکړي او پوښتنو ته دې ځواب ووايي، بلکې دلته مظنون\متهم اختیار لري، چې د واکمن مقام دپوښتنو په مقابل کې ځواب وايي یا چپ پاتې کیږي، په دې وخت کې اړونده مرجع دا حق نه لري، چې په مظنون\ متهم په جبر او زور سره خبرې وکړي یا یې خبرو کولو ته مجبور کړي. (اصول محاکمات جزایی،ج۱، ۱۳۹۷: ٦۳)

په دې اړه د جزایي اجرأتو قانون ۷ ماده، ۷ بند داسې څرگندونې لري: ( د سکوت له حق څخه گټه اخستل او له هر ډول بیانونو ( ویناوو ) څخه ډډه کول.)

د جزایي اجرأتو په قانون کې نه یواځې چوپ پاتې کیدل د مظنون\ تورن حق گڼل شوی دی، بلکې په ۱۵۰ ماده کې یې په اړه مفصل احکام وضع شوي دي. له دې ذکر شوې مادې څخه داسې په لاس راځي، چې متهم کولی شي د هغو سوالونو په مقابل کې چې دا ورسره مخ کیږي، سکوت اختیار کړي. له سکوت او خبرو کولو څخه امتناع کول په محضر کې درج کیږي. د جزایي اجراآتو قانون ۱۵۰ ماده، ۱ فقره ((تورن کولی شي د هغې پوښتنې پر وړاندې چې له هغه څخه کیږي، سکوت اختیار کړي. د سکوت له ځواب څخه د ډډې کولو موضوع په محضر کې درج کیږي.) د مظنون\ متهم سکوت د هغه په بیان کې نه شمېرل کیږي. د جزایي اجرأتو قانون ۱۵۰ ماده، ۲ فقره: د تورن سکوت د هغه د بیان په حکم کې نه دی اعتراف، اقرار او شهادت چې له متهم یا شاهدانو څخه د تهدید، اکراه یا زور په وسیله اخستل کیږي اعتبار نه لري. په دې موضوع د لا ښه پوهیدلو لپاره د جزایي اجرأتو قانون ۱۵۰ مادې، ۳ فقرې متن را اخلو: ( هغه بیان، اقرار او شهادت چې له تورن یا شاهدانو څخه د تطمیع، تهدید، تخویف ( ویرولو ) یا اکراه په وسیله تر لاسه شوی وي اعتبار نه لري.)

نو کله چې مظنون\ متهم له خپل دې حق څخه استفاده کوي او چپ پاتې کیږي، نو پولیس یا نورې واکمنې مراجع باید د حقیقت د کشف کولو لپاره له نورو لارو او وسیلو څخه کار واخلي، تر څو ځان حقیقت ته ورسوي، ځکه د سکوت حق په اصل کې د انساني کرامت او شخصیت په

وړاندې د احترام په معنی دی، نو په یو چا باندې له ناروا لارې د یو تور واردول د هغه د شخصیت او کرامت پر وړاندې تجاوز بلل کیږي. د یادولو وړ ده چې د سکوت حق دومره تاریخي قدامت نه لري، بلکې په دې اواخرو کې په ملي قوانینو او بین المللي اسنادو کې درج شوې دی. په پخوا وختونو کې سکوت د عدلي او قضایي ارگانو پر وړاندې د نافرمانۍ په معنی و او سخته سزا به ورکول کیده. ( مزایا و نواقص قانون اجراآت جزایی، ۱۳۹۶: ۲۹)

**څلورم مبحث: د قانون د غوښتنو مطابق له خپل قانوني استازي سره په ازادانه او محرمانه توگه تحریري او شفاهي اړیکه**

د قانوني اړتیا پر بنسټ، مظنون\تورن حق لري، چې د خپل قانوني استازي ( مدافع وکیل) سره په ازاده او محرمانه توگه لیکلي او شفاهي خبرې وکړي. د یاد حق په اړه د ۱۳۹۳ ه ش کال جزایي اجرأتو قانون ۷ ماده، ۱۴ جز داسې څرگندونې لري: (د قانون د حکمونو مطابق له خپل قانوني استازي سره په ازاده او محرمه توگه لیکلې یا شفاهي اړیکه ( ارتباط ) ).

د جزایي اجرأتو قانون سربیره د ۱۳۸۲ ه ش کال اساسي قانون ۳۱ ماده په دې اړه داسې څرگندونې لري: ( د متهم او د هغه د وکیل ترمنځ مکالمات، مراسلات او مخابرات له هرډول تعرض څخه خوندي دي).

په دې معنی چې دا د متهم سالم حق ده او هیڅوک نه شي کولی چې له دې حق څخه یې محروم کړي.

# دریيم څپرکی

## په محاکمو کې دجزايې دعوی د تعقیب پر مهال د تورن حقوق

**مقدمه**

کله چې یوه جزایي دعوی ټول پړاوونه طی کوي او د حکم د تطبیق په پار تر محکمې رارسیږي، نو په دې وخت کې هم متهم د افغانستان د نافذه قوانینو پر اساس د یو شمېر حقوقو درلودونکی دی، چې باید د محاکمې په بهیر کې د اړوند مراجعو له خوا متهم ته ورکړل شي، ترڅو عدالت لا ښه تطبیق شي، چې له دې حقوقو څخه به په دې فصل کې په تفصیل سره یادونه وشي.

**اول مبحث: په ازادانه ډول د لایل ویلو حق**

یو اصل چې د محاکماتي بهیر په ټولو مرحلو کې باید په نظر کې ونیول شي، هغه د بې لوریتوب اصل دی، د بې لوریتوب اصل د دې غوښتنه کویو ترڅو د دعوی لوری ( متهم او څارنوال) ته فرصت ورکړل شي، چې په ازادانه ډول سره د خپل نظر ښکاره کړي او خپل دلایل محکمې ته واوروي. د دې سربېره مخکې له محاکمې او د محاکمې په جریان کې باید مظنون\متهم ته دا فرصت ورکړل شي، ترڅو د مقابل لوري د لګول شوي تور په مقابل کې د رد دلایل وړاندې کړي، چې په دې اړه د ۱۳۹۳ هـ ش کال په ۱۱۳۲ ګڼه خپور شوی جزایي اجرأتو قانون ۷ ماده، ۵ بند داسې څرګندونې لري: (په ازادانه ډول د مطالبو بیانول او د دلایلو وړاندې کول.)

د پورته مادې څخه دا پایله لاسته راځي چې مظنون\متهم حق لري په خلاص لاس سره د مقابل لوري د لګول شوي تور پر وړاندې نظر څرګند کړي او د مقابل لوري د اتهام پر وړاندي مستند دلایل ووایي ( مزایا و نواقص قانون اجراآت جزایی، ۱۳۹۶: ۲۶)

## دوهم مبحث: له ځان څخه د د دفاع حق

متهم کولی شي د خپلو حقوقو څخه د دفاع په پار د محاکمې پر مهال مدافع وکیل ونیسي چې په اړه يې د جزائي اجراآتو قانون ۹ ماده، ۱ فقره داسې څرګندونې لري: ( مظنون کولی شي شخصاً یا د قانوني استازي په واسطه د عدلي تعقیب په هر پړاو کې له ځانه دفاع وکړي.)

دا په دې معنی چې متهم لکه څرنګه چې د نیونې او تحقیق پر مهال د خپلو حقوقو څخه د دفاع په پار هم شخصاً او هم د خپل قانوني استازي په واسطه دفاع حق لري. په همدې دول د محاکمې په بهیر کې هم شخصاً او قانوني استازي په واسطه کولی شي له ځانه دفاع وکړي او په اړه يې اسناد یا شواهد وړاندې کړي.

## دریم مبحث: د سندونو، مدارکو او شاهدانو وړاندې کولو حق

د متهم \مظنون له ځان څخه د دفاع په پار د لازمو سندونو، مدارکو او شاهدانو په لاس کې لرل او هغه  قاضي ته وړاندې کول یو بل حق دی، چې دا د جزایي اجرأتو قانون په ۷ ماده، ٦ جز کې څرګندونې لري، چې د مادې متن يې په داسې ډول ده: (د سندونو، مدارکو او شاهدانو وړاندې کول، او له هغو شاهدانو څخه استجواب چې د هغه پر خلاف يې شهادت ورکړی او د هغو شاهدانو حضور او اوریدل چې د هغه په ګټه شاهدي ورکوي.) په یاد قانون کې دا حق د دې په پار متهم ته ورکړل شوی ده، ترڅو خپله متهم یا د هغه قانوني استازي د دې اسنادو، مدارکو او شواهدو پر اساس له خپل حق څخه دفاع او د بې ګناهي په صورت کې پرې برائت حاصل کړي، متهم په هغه وخت کې کولی شي له ځانه ښه دفاع وکړي چې ده ته د اسنادو، مدارکو او شواهدو د وړاندې کولو وخت ورکول شي او همدارنګه د دې په ضمن کې کولی شي د مقابل لوري له شاهدانو څخه پوښتنې وکړي اوله دې لارې د هغوی د شاهدۍ د کره والي او ناکره والي په اړه قاضي ته ډاډ ورکړي او د دې سربیره باید متهم ته دا حق هم باید ورکړل شي، چې کوم شواهد يې په خپل حق کې د مقابل لوري د رد لپاره راټول کړي دي؛ محکمې ته وړاندې کړي، چې په دې اړه د جزایي اجرأتو قانون ۵۳ ماده داسې څرګندونې لري: شاهد چې د قضیې اړوند کوم معلومات راجمع کړي دي او  په خپلو الفاظو سره بیان کړي. د معلوماتو له وړاندې کولو څخه وروسته مجنی علیه، متهم یا د هغه قانوني استازی، څارنوال یا د قضایي هیئت کوم عضوه کولی شي له شاهد څخه د ورکړي معلوماتو په اړه پوښتنې وکړي. ( مزایا و نواقص قانون اجراآت جزایی، ۱۳۹٦: ۲٦)

**شلورم مبحث: د دوسيې اوراقو ته د لاسرسي حق**

متهم یا د هغه ټاکل شوی مدافع وکیل حق لري، چې په دوسیه کې ټول شامل اسنادو ته لاسرسی ولري او هغه ولولي د دې حق په اړه قوانین په داسې ډول څرګندونې لري:

د ۱۳۹۳ ه ش کال ۱۱۳۲ ګڼه جزایي اجرأتو قانون ۷ ماده، ۱۱ بند: (په ابتدائیه یا استیناف محکمه کې په دوسیه کې د درج شوو پاڼو نقل، د شاهدانو او جرمي شریکانو د څرګندونو، قضیې پورې اړوندو فزیکي او مستندو مدارکو، د عدلي طبي رپوټونو، د مخفي څارنې د ترسره کولو وړاندیز او حکم د تالاشۍ اذن (اجازه) او د دفاعیې د ترتیب کولو لپاره د پوره وخت او امکاناتو لرل، مګر په هغو حالاتو کې چې مؤظف څارنوال د ځینو ملحوظاتو پر بناء، لکه احتیاط، د تحقیق په بهیر کې اخلال، د عدالت په تأمین کې اخلال یا پر ملي ګټو باندې د منفي اغیز له مخې د محکمې په وړاندیز د دغه لاسرسي خنډ وګرځي.)

په پورته ماده کې د راغلي صراحت مطابق متهم یا د هغه مدافع وکیل حق لري چې د دوسیې ورقې مطالعه کړي او همدارنګه هغه ضبط شویو شیانو ته لاسرسی ولري کوم چې د متهم پر وړاندې د الزام دلیل په توګه استعمالیږي، ترڅو متهم یا د هغه قانوني استازی یې پر وړاندې د رد دلایل وړاندې کړي، که چیرې متهم یا د هغه وکیل د دوسیې اوراقو یا دده په مقابل کې کاریدونکي ضبط شوي شیانو ته لاسرسی ونه لري نو نه شي کولی ترڅو له ځانه ښه دفاع وکړي.

نو د همدې دلیل او منطق پر اساس قانون یاد حق متهم او د متهم مدافع وکیل ته ورکړې دی، تر څو د محاکمې په جریان کې له ځانه ښه دفاع وکړي او عدالت لا ښه او په احسنه طریقه تأمین شي.

**پنځم مبحث: په څرګنده (علني) توګه محاکمې حق**

د ۱۳۹۳ ه ش کال ۱۱۳۲ ګڼه جزایي اجرأتو قانو د۷، ۲۱۳، ۲۱۴ او ۲۱۵ مادو د احکامو په نظر کې نیول سره په کل کې جزایي جلسې په ښکاره (علني) ډول سره دایریږي، چې دا په خپله د عادلانه محکمو له ځانګړتیاو څخه شمېرل کیږي، دا حق نه تنها په جزایي اجرأتو قانون کې ذکر

شوی، بلکې د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ش کال اساسي قانون ۱۲۸ ماده کې هم د دې حق تضمین شوی دی، چې په اړه یې داسې څرګندونې لري: (د افغانستان په محکمو کې محاکمه په علني ډول دایریږي او هرڅوک حق لري چې د قانون د حکمونو سره سم په هغې کې ګډون وکړي.) د محاکمو علني ترسره کول یو له ډیرو مهمو امرونو څخه دی په ځانګړي ډول په جزایي محاکمو کې، ځکه په علني ډول د محکمې ترسره کول نور هم قاضي دې ته مجبوروي ترڅو د حکم پر مهال او له ډیر غور او فکر څخه کار واخلي، او قاضي نور کوشش کوي ترڅو قراینو او شواهدو ته په کتو داسې یوه قانوني فیصله وکړي چې ټولو ته قابل د قبول وي، نو کله چې فیصله ټولو ته د قبول وړ وګرځي، نو په قضاء د خلکو اعتبار او باور لا ډیریږي، او دې حق ته په قوانینو کې د ځای ورکولو پر اساس ډیر فواید او ګټې پرې ترلاسه شوي دي. ( مزایا و نواقص قانون اجرآت جزایی،۱۳۹۶: ۲۹)

البته د **۱۳۹۳**ه ش کال جزایي اجرأتو قانون **۲۱۳** مادې پر اساس رئیس د عامه نظم، اخلاقي، او کورنیو اسرارو د ساتنې په صورت کې کولی شي ټوله یا یوه برخه یې سري اعلان کړي.

د یاد جزایي اجرأتو قانون **۲۱۳** مادې پر  اساس په دې قضایي جلسو کې هرڅوک ګډون کولی شي په استثناء د ناقص حقوقي اهلیت لرونکو، وسلوال اشخاص همدارنګه د یاد جزایي اجرأتو قانون د **۲۱۴** مادې پر اساس که چیرې د قضایي جلسې په تالار کې راتلونکي اشخاصو ځای کول ناممکن وي، د قضایي غونډې رئیس کولی شي د محکمې تالار ته په کتو سره کارتونه وویشي.

**شپږم مبحث: د محاکمې په بهیر کې د متهم او د هغه د مدافع وکیل د حضور حق**

جزایي اجرأتو قانون ۷ ماده، ۱ فقره ۱۷ جز ( د محاکمې په بهیر کې د حضور حق )

د هغو حقوقو له جملې څخه چې د **۱۳۹۳** ه ش کال **۱۱۳۲** ګڼه جزایي اجرأتو قانون په ۷ ماده کې متهم  ته ورکړل شوي دي؛ یو ترې د محاکمې په بهیر کې د متهم او د هغه د مدافع وکیل حضور دی. د جلسې په جریان کې د مدافع وکیل او متهم موجودیت له څو لوریو څخه د اهمیت وړ دی ، چې هر یو یې په تفصیل سره په لاندې ډول توضیح او تشریح کوو: ( اصول محاکمات جزایی،ج ۲، ۱۳۹۲: ۸۴)

**الف: د جزايي دعوې د يو اړخ له حيثه**

د جزايي جلسې يو لورى (ركن) متهم تشكيلوي، نو بنا د قضايي جلسې د تكميل لپاره په جلسه كې متهم يا د هغه مدافع وكيل شتون ضروري دى، نو د همدې اصل له مخې مقنن په قضايي جلسه كې د متهم/مدافع وكيل شتون حتمي او دا يې د هغه حق بللي دى.

**ب: د محكمې د عادلانه والى له حيثه**

په قضايي جلسه كې د لا ښه عدالت په پار د متهم يا د هغه د قانوني استازي شتون لازمي او حتمي دى، ځكه متهم او د هغه مدافع وكيل په موجوديت كې له ځانه ښه دفاع كولى شي او قاضي د لا احسن عدالت د تطبيق لپاره متوجه كولى شي.

**اووم مبحث: په محكمه كې د وروستۍ خبرې (كلام) حق**

يو بل حق چې متهم ته د ۱۳۹۳ ه ش كال جزايي اجرأتو قانون په ۷ ماده كې وركړل شوى دى، هغه په محكمه كې د متهم وروستۍ خبره ده. دا حق په قانون كې متهم ته د بهتر عدالت وركولو لپاره په نظر كې نيول شوى ديب، چې په اړه يې د جزايي اجراآتو قانون ۷ ماده، ۱ فقره، ۱۸ جز داسې څرگندونې لري: (په محكمه كې د وروستۍ خبرې (كلام) حق.)

د يو شمېر جزا حقوقو پوهانو په نظر ممكن ده، چې د متهم وروستۍ خبره د محكمې فيصله تغير كړي، په ځانگړي ډول په هغه وخت كې چې اقرار يواځينى ثبوت د جرم وي، او متهم په اخر وخت كې له خپل اقرار څخه وگرځي، ځكه د حدودو په جرايمو كې تر اخري لحظې پورې متهم كولى شي له خپل اقرار څخه رجوع وكړي، چې دا د حد د عدم تطبيق سبب كيدلى شي. (مزايا و نواقص قانون اجراآت جزايى،۱۳۹۶: ۴۳)

**اتم مبحث: د ضبط شوي شيانو او مداركو په باره كې د نظر څرگندولو حق**

د افغانستان د جزايي اجرأتو قانون په ۷ ماده، ۹ جز كې مظنون\متهم ته دا حق وركړل شوى چې د عدلي تعقيب په ټولو پړاوونو كې د خپلو ضبط شويو شيانو او مداركو په اړه خپل نظر څرگند كړي. همدارنگه د ۱۱۳۲ گڼه جزايي اجرأتو قانون د نهم فصل مفاهمو په رڼا كې كه چيرې د عدلي تعقيب په پړاوونو كې داسې شيان ضبط شوي وي، چې له دعوې سره ارتباط ونه لري، يا په قانوني

لحاظ د مصادرې وړ نه وي، نو مالک يې دا حق لري چې د اعادې غوښتنه يې وکړي او اړونده مرجع مکلفه ده، چې د بيرته اعادې امر ورکړي، که چيرته د ياد شخص د ضبط شوي توکو په اړه د بيا اعادې غوښتنه ونه منل شي کولی شي اړونده محکمې ته خپل شکايت وړاندې کړي.

**نهم مبحث: د محاکمې په جريان کې د سکوت حق**

لکه څنګه چې يو مظنون\متهم د نيونې او تحقيق پر مهال کې د سکوت له حق څخه ګټه اخيستلی شي، همداسې د محاکمې په جريان کې هم کولی شي چې متهم د سکوت له حق څخه ګټه واخلي، چې د متهم د ياد حق په اړه د جزايي اجراأتو قانون ۷ ماده، ۷ جز داسې څرګندونې لري: (د سکوت له حق څخه ګټه اخستل او له هر ډول بيانونو (ويناوو) څخه ډډه کول.)

همدارنګه د ۱۱۳۲ ګڼه جزايي اجراأتو قانون ۲۲ ماده، ۱ او ۲ فقره هم د دې موضوع په اړه داسې څرګندونې لري:

**۱ فقره:** د قضايي ضبط مامور، څانوالۍ او محکمه په هيڅ حالت کې اجازه نه لري، په خپله يا د بل شخص له لارې، په ناوړه چلند، د مخدره موادو په استعمال، اکراه، شکنجې، په مقناطيسي خوب، تهديد او ويرولو يا د څه ګټې (منفعت) په وعدې سره مظنون يا تورن اظهار يا اقرار ته مجبور کړي.

**۲ فقره:** هغه بيان يا اقرار چې له مظنون يا تورن څخه، د دې مادې په ۱ فقره کې د درج شويو وسايلو په استعمال سره اخيستل شوی وي؛ د استناد وړ نه دی.

د سکوت حق په اړه د نړۍ والو حقوقو له جملې څخه بيا **د مدني او سياسي حقوقو نړۍ وال ميثاق** ۱۴ ماده، ۳ فقره (ز) جز داسې څرګندونې لري: (داسې دې نه مجبوريږي چې په خپل ځان شهادت ورکړي او خپله ګناهګاري ومني.)

پورته ټول قانوني مواد چې ذکر شول، د محاکمې په جريان کې د متهم لپاره د سکوت حق ثابتوي، چې بايد د محکمې د عدل په پار متهم ته د هغه حقوق هم د محکمې په جريان کې او هم مخکې له محاکمې څخه ورکړل شي، ځکه د سکوت حق د متهم له هغو حقوقو څخه شمېرل کيږي، د کوم په اړه چې د عدالت د تطبيق په پار ډير تاکيد شوی دی او متهم بايد مجبور نه شي، چې د ځان پر وړاندې شهادت ورکړي. (اصول محاکمات جزايی،ج ۲ ،۱۳۹۲: ۷۹)

## لسم مبحث: د عدلي او قضايي ارګانونو پر اجراأتو د اعتراض حق

د ۱۳۹۳ ه ش کال د جزايي اجراأتو قانون له هغو حقوقو څخه چې مظنون ته یې ورکړی دی یو د محاکمو پر اجراأتو د اعتراض حق دی. عدلي او قضايي ارګانونه د قضيې حقيقت ته د ځان رسولو لپاره ازادي لري، چې له هر ډول مشروع وسيلې او لارې څخه استفاده وکړي، په دې معنی چې په دې برخه کې نه د قضيي د لوريو او نه د کوم بل ارګان په اطاعت باندې مجبور دي، بلکې دوی په دې برخه کې د قانون په حدودو کې ازاد دي، چې دا ازادۍ او استقلاليت د قانون د عدم تطبيق په معنی نه دی، بلکی عدلي او قضايی ارګانونه به په ټولو اجراأتو کې د قانون احکام په نظر کې نيسي او په ټولو اجراأتو کې به د مظنون\ متهم حقوق په نظر کې نيسي، د مثال په ډول د ۱۳۹۳ ه ش کال د جزايي اجراأتو قانون په ۸ ماده کې د مظنون\متهم د ټولو حقوقو په اړه یې متن واضح څرګندونې لري: ( پوليس د نيولو په وخت، څارنوال له تحقيق د مخه او قاضي له محاکمې د مخه مکلف دي، چې د دې قانون په اوومه ماده کې درج شوي حقوق مظنون او تورن يا د هغوی قانوني استازي ته څرګند او موضوع په محضر کې درج او د هغوی لاسليک او د ګوتې نښه واخلي.)

نو لهذا د ۱۳۹۳ ه ش کال د جزايي اجراأتو قانون د ۷ مادې مطابق په هغه صورت کې چې پوليس، اهل خبره، څارنوال يا قاضي په خپلو اجراأتو کې د قانون احکام رعايت کړي نه وي؛ مظنون\ متهم ته حق ورکړل شوی دی، چې د هغوی په غيرقانوني اجراأتو اعتراض ورکړي. ( مزايا و نواقص قانون اجراآت جزايی،۱۳۹۶: ۳۷)

## يوولسم مبحث: د محاکمو پر فيصلو د اعتراض حق

متهم يا د هغه مدافع وکيل حق لري، چې د محاکمو پر صادر شوې فيصله باندې اعتراض وکړي، چې دا اعتراض په څو صورتونو کې ترسره کيدلی شي، چې يو يې په لاندې ډول سره واضح کوو:

### الف: دابتدايه محکمې پر اجراأتو د اعتراض حق

د جزايي اجراأتو قانون د احکامو مطابق متهم کولی شي د ابتدايه محکمې په حکم نه قناعت او اعتراض په هماغه قضايي غونډه کې چې حکم ابلاغوي؛ په مستقيمه توګه څرګند کړي. د دوی اعتراض په محضر کې درج کيږي، چې د ابتدايه محکمې په حکم د اعتراض حق په اړه د جزايي

اجراأتو قانون ۲۴۶ ماده داسې څرگندونې لري: (تورن یا د هغه قانوني استازی او څارنوال کولی شي ددی قانون د حکمونو په حدودو کې په ټولو جرمونو کې د ابتدایه محکمې پر حکم د نه قناعت په صورت کې خپل اعتراض مستقیما یا د حاکمې محکمې له لارې د استیناف اړوندې محکمې ته وړاندې کړي.)

**ب: د استیناف محکمې پر اجراأتو د اعتراض حق**

متهم\مدافع وکیل حق لري چې د استیناف محکمې پر فیصلې باندې د نه قناعت په صورت کې د سترې محکمې اړونده دیوان ته فرجام خواهي وکړي، چې په اړه یې د جزایي اجراأتو قانون ۲۷۰ ماده ۱ فقره داسې څرگندونې لري: ( ستره محکمه د جنایت یا جنحې قضیو کې د استیناف د محکمې صادره شوي حکمونه د څارنوال، محکوم علیه، د حق العبد مدعي یا د حق العبد مسؤل د فرجام غوښتنې پربنسټ په لاندې احوالو کې تر غور او مداقې لاندي نیسي...)

**ج: بیا کتنې حق ( تجدید نظر حق ) باندي د اجراآتو حق**

که څه هم د تحتاني محکمو پریکړې له ټاکلي وخت څخه وروسته قطعي او د سترې محکمې پریکړې نهایي دي، خو ولې بیا هم د خطاء د له منځه وړلو او عدالت د لاښه تطبیق په موخه د دعوې لورېينو ته د سترې محکمې پر پریکړو د بیا کتنې ( تجدید نظر ) حق ورکړې ده او متهم یا د هغه قانوني استازی کولی شي د سترې محکمې پر پریکړه د تجدید نظر غوښتونکی شي، چې په اړه یې د جزایي اجراأتو قانون ۲۸۲ او ۲۸۳ ماده داسې څرگندونې لري:

۲۸۲ ماده: ( د جنحې او جنایت په قضیو کې د محکمو پر قطعي فیصلو باندې د نوې کتنې غوښتنلیک په لاندې احوالو کې صورت موندلی شي...)

۲۸۳ ماده: ( د دې قانون په دوه سوه دوه اتیایمه ماده کې په درج شویو حالاتو کې لوی څارنوال او محکوم علیه یا د هغه قانوني استازی او د اهلیت د نقص یا مړینې په صورت کې، د محکوم علیه خپلوان کولی شي نوې کتنه وغواړي.)

**پایله**

راځو په موضوع باندې په لومړی قدم کې لنډه رڼا اچوو، په دې موضوع کې د مظنون او متهم له ټولو حقوقو څخه ،چې د عدلي تعقیب پر مهال په ټولو پړاوونو کې باید ورکړل شي؛ بحث شوی دی. عدلي او قضائي ارګانونه، امنیتي مؤظفین او کشفي ارګانونه د نیونې ،تحقیق اومحاکمې په وخت باید د جرمي عمل مرتکب له خپلو ټولو یاد شویو حقوقو څخه خبر کړي.

په دې اړه د افغانستان د ۱۳۹۳ هـ ش کال د جزایي اجرااتو قانون، چې معمولاً جزائي دعوې ته د رسیدګۍ له پروسیجر ( شکلیاتو ) څخه بحث کوي او یو شمېر نورو نافذه او نړۍ والو قوانینو پر اساس په جزایي قضیه کې د عدلي تعقیب پرمهال د مظنون او متهم له یو شمېر حقوقوڅخه یادونه شوې ده، چې یاد حقوق مو د دریوو فصلونو لاندې په مختلفو مبحثونو کې تشریح کړل. دا حقوق عبارت دي: له سکوت حق، انساني کرامت ته د درناوي حق، په نسبت ورکړل شوي جرم د تورن پوهیدلو حق، ترجمان لرلو حق، مدافع وکیل لرلو حق، اعتراض حق، په محکمه کې د وروستۍ خبرې حق، له خپل سرې نیونې څخه د خوندیتوب حق، له توهین، تحقیر او غیر انساني چلند څخه د خوندیتوب حق، بې له ځنډه عدلي تعقیب حق او ځینې نور حقوق چې په تفصیل سره پرې بحث شوی دی. د یادو قوانینو د حکمونو مطابق باید یاد شوي حقوق د عدلي تعقیب پرمهال مظنون او متهم ته ورکړل شي، ترڅو له یوې خوا په ټولنه کې جنایي عدالت په ښه شکل تآمین او د قضاتو، څارنوالانو او مدافع وکیلانو د سؤ استفادې مخنیوی پرې وشي او له بل اړخه خلکو ته په احسنه طریقې سره خپل حقوق ورسیږي، ځکه که چیرې یاد حقوق ورنکړل شي نو په ټولنه کې به جنایي عدالت تآمین نه شي او نه به د قوانینو هغه موخه تر لاسه شي کوم چې د جنایي عدالت د رامنځته کولو په پار تدوین شوي دي، نو همدې موخې ته د رسیدلو او اهمیت ته یې په کتلو سره ما غوره وګڼله چې د عدلي تعقیب په ټولو پړاوونو کې د مظنون او متهم د حقوقو تر نامه لاندې یاد تحقیق وکړم، ترڅو خلک له خپلو هغو حقوقو څخه خبر شي کوم چې دوی ته د افغانستان او نړۍ والو قوانیو پر اساس ورکړل شوي دي، خو د دې تحقیق موخه یوازې دا نه وه چې په دې برخه کې دې افغانان له خپلو حقوقو څخه خبر شي، بلکې د دې تحقیق بل موخه دا هم وه ترڅو د عدلي تعقیب پر مهال جزایي دعوی ته رسیدګي کوونکي ( کشفي، تحقیقي او عدلي) ارګانونه خپل مکلفیت ته متوجه شي، ترڅو جنائي عدالت تطبیق، مجرم مجازات او بې ګناه شخص له مجازاتو وژغورل شي.

**وړاندیزونه**

۱: دولت ته:

د دولت له خوا خلکو ته د مظنون او متهم د قانوني حقوقو څخه د عامه خبرتیا په پار د پروګرامونو په لاره اچول.

۲: لیکوالانو ته:

د هیواد د پوه او اهل خبره خلکو له خوا د مظنون او متهم د حقوقو په اړه د لیکنو ترسره کول.

۳: داخلي رسنیو ته

ټولو افغاني رسنیو ته مې وړاندیز دا دی، چې داسې خپرونې جوړې کړي، چې پر اساس یې افغانان د خپلو قانوني حقوقو اړوند له ملي او نړی والو قوانینو څخه خبرتیا تر لاسه کړي.

**اخځلیکونه**


۱: قرآنکریم

۲: زماني، م. ( ۱۳۹٦ هـ ش )، جزايي محاكماتو اصول،گرديز، علمي خپرندويه ټولنه

۳: هاشمی، غ. ( ۱۳۹٦ ). قانون اجرأت جزائي. کابل، انتشارات سعید

۴: حسام، س. نعماني، س. ( ۱۳۹۹هـ ش ). حقوق بشر، کابل، انتشارات نوی مستقبل

۵: صافي، ش. ( ۱۳۹۵ هـ ش ). د حقوقی دعواوو د عملي پړاوونو عدلی او قضایي اجرأتو لارښود. جلال اباد. مسلم خپرندویه ټولنه

٦: دانش،ح. ( ۱۳۹۷ هـ ش ). اصول محاكمات جزائي، اول جلد. کابل، انتشارات مستقبل

۷: علم ستانكزی، م. ( ۱۳۹۲ هـ ش ). اصول محاكمات جزایې، دوهم جلد. کابل، انتشارات رسالت

**قوانین او مقررات**

۸: قانون اجراآت جزایی. ( ۱۳۹۳ هـ ش ). ۱۱۳۲ گڼه. کابل: اداره جریده رسمی وزارت عدلیه.

۹: اساسي قانون. (۱۳۸۲هـ ش ). ۸۱۸ گڼه. کابل: اداره جریده رسمی وزارت عدلیه.

۱۰: مدني او سیاسي حقوقو نړۍ وال میثاق. (۱۹٦٦ م دسمبر ۱٦ نیټه ). نیویارک، ملگري ملتونو عمومي غونډه.

۱۱: د بشرحقوقو نړۍ واله اعلامیه. ( ۱۹۴۸م ډسمبر ۱۰ ). نیویارک، ملگري ملتونو عمومي غونډه

۱۲. د ۱۹۹۰ کال د اگسټ په ۱۵ تصویب شوی، د بشرحقوقو نړۍ واله اسلامی اعلامیه، ۲۰ ماده

۱۳: د بشر حقوقو نړۍ واله اسلامي اعلامیه. ( ۱۹۹۰ م اگسټ ۱۵ ). قاهره، مصر: اسلامي کنفرانس سازمان.

# الخاتمه

جامعة مستقبل التي تأسست عام ٢٠١٤ م , وتتخذ من العاصمة الأفغانية كابول مقراً رئيسيا لها وهي لا تألو جهدا في خدمة العلم والعلماء والمساهمة الفعالة والمثمرة في إعادة التأهيل والإعمار في البلاد التي عصفت بها الحرب الضروس أربعة عقود، وحرمت من العلم والمعرفة ردحا من الزمن ويريد لها الأعداء أن تطويها ظلمات الجهل والفتن إلى الأبد..

ويطل العدد الأول من مجلة مستقبل العلمية المحكمة في العلوم الاجتماعية على القارئ الكريم بتقديم إسهامات قيّمة في مجال البحث العلمي؛ وذلك بنشر دراسات وأبحاث متطورة تسهم في تعزيز المعرفة وتوسيع الأفق الأكاديمي وتطوير ثقافة البحث العلمي والإبداع والابتكار بما يساهم في دفع عجلة التنمية والتطوير في المجتمع الأفغاني..

ويحفل هذا العدد من المجلة بدراسات وبحوث غنية بمحتواها العلمي وتنوعها، إذ تتناول قضايا معاصرة ذات أهمية بالغة. ونأمل أن تواصل المجلة إصدارها بانتظام كل ستة أشهر وتُجسّد رؤية جديدة وأسلوب متطور، يعد رافداً حقيقياً لحركة البحوث والدراسات العلمية المحكّمة، في إمارة أفغانستان الإسلامية وإنجازاً أساسياً يبرز أهمية البحث العلمي المحكم بغية استفادة الباحثين والأساتذة والطلبة والمهتمين بهذ المجال الحيوي.

نحن ملتزمون بالاستمرار في تقديم أبحاث ذات جودة عالية تسهم في تقدم العلوم وتدعم الابتكار. وإن دعمكم واهتمامكم يظل حافزًا لنا لمواصلة تقديم مجهوداتنا نحو تعزيز البحث العلمي وتوفير منصة متميزة للعلماء والباحثين، ونؤكد لكم أننا نسعد دوماً بتواصلكم وبآرائكم ونجدد الدعوة لكم للإسهام بالكتابة والنشر في الأعداد القادمة من مجلة مستقبل العلمية.

وأسرة تحرير المجلة تتقدم بالشكر الجزيل والتقدير لكل الأساتذة الكرام الذين ساهموا في النشر في هذا العدد، وترحب بالمقترحات وبالمزيد من المساهمات الجديدة في الأعداد القادمة.

كما نشكر جميع القراء الأفاضل من عشاق البحوث العلمية الذين يساهمون بدورهم في إنجاح وتطوير هذه المجلة، آملين من الله العلي القدير أن يبرم لهذه الأمة أمر رشدها ويعلي شأنها ويذل أعداءها، وأن يوفقنا وإياكم لما فيه الخير لشعبنا وأمتنا إنه على كل شئ قدير.

والله تعالى من وراء القصد

إدارة المجلة

وزارت تحصیلات عالی

معینیت امور علمی

ریاست تحقیق، تألیف و ترجمه

# مجوز نشر

## مجله علمی - تحقیقی مستقبل

دا د ملي ژورنال (مستقبل علمي - څېړنیزژورنال) د فعالیت سند، چې د امتیاز خاوند یې مستقبل د لوړو زده کړو تحصیلي بنسټ ده، یاد بنسټ ته د ژورنال د نشر د جواز په موخه ورکړل شو.

د لا بریاوو په هیله.

این سند به منظور آغاز فعالیت مجله ملی علمی - تحقیقی مستقبل که صاحب امتیاز آن مؤسسه تحصیلات عالی مستقبل است، به آن مؤسسه اعطا شد.

به امید موفقیت‌های مزید.

**د مجلې نوم/ نام مجله:** مستقبل علمي-څېړنیز ژورنال/مجله علمی-تحقیقی مستقبل

**خپرونکی/ ناشر:** مستقبل د لوړو زده کړو مؤسسه

**د خپرولو دورې / تناوب زمانی نشر:** شپږ میاشتنی/شش ماهه

**د ثبت نمبر/ نمبر ثبت:** RCTD - PNJR -003-24

**د صدور نېټه/ تاریخ صدور:** 1402/11/30هـ ش

**د اعتبار نېټه/ اعتبار الی:** 1403/11/30هـ ش

رئیس تحقیق، تألیف و ترجمه